چې د سوچ په سمندر کښې ډېر لعلونه راپیدا کړم
فلسفه به ښکته پورته د هر قسمه کائنات را



# شبنم لکه چې په ګلاب ځلیږي

مَلَک مُحمّد مَسعود قَاسم

چې د سوچ په سمندر کښې د پرلعلونه را پیدا کړم
فلسفه ښه ښکته پورته د هر قسمه کائنات را

# شبنم ګلاب

لکه شبنم چې په
ګلاب ځلیږي

مَلَک مُحمّد مَسعود قاسم

بسم الله الرحمن الرحيم

# ترون

زما د محترمو او معززو استاذانو

مولانا عبدالمجید کدیخیلي او

مولانا شمس الآفاق او د نورو هغه

درنو استاذانو په نوم چې ماته ئې

د علم هغه رڼا راکړې ده چې زما

روح ته ئې سکون او آرام وربخښلے

دے او نن چې زۀ څۀ یم دا ټول د

هغوئ د دُعاګانو برکات دي۔

ټول حقونه د ليکوال په حق کښې محفوظ دي

# د کتاب پېژندګلو

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ـــــــ | لکه شبنم چې په ګلاب ځليږي |
| شاعر | ـــــــ | ملک محمد مسعؔود قاسم |
| د چاپ کال | ـــــــ | ۲۰۱۱ء |
| تعداد | ـــــــ | ۵۰۰ |
| کمپوزنګ او سرپاڼه | ـــــــ | ايکسپرټ ګرافکس پېښور ۰۹۱-۲۵۸۰۳۰۹ |
| بيعه | ـــــــ | ۱۵۰ روپۍ |

**موندلو درک**

- يونيورسټي بُک ايجنسي پېښور
- دفتر پښتو ادبي ټولنه ارباب لنډي پېښور حجره حاجي جان محمد

# پلوشې

ډاکټر مسعود زاهد

په موجوده دور کښې چې څومره شاعران په پښتو ژبه کښې موجود دي، شايد چې په بله ژبه کښې موجود نۀ وي. د هغې وجوهات خو ډېر دي ولې يوه وجه په کښې د پښتنو په خاؤره تېرېدونکي واقعات دي چې زما په خيال د دې تولو خبرو د پاره د دنيا نورو قومونو د ډېر وخت نه د پښتون په مزکه د يرغل تيارے کولو او په قول د خوشحال بابا ، پښتون بې اتفاقه دے ګني دا حال به نۀ وو. خوشحال بابا وائي:

اتفاق په پښتانۀ کښې پيدا نۀ شو
ګني ما به د مُغل ګرېوان پاره که

د پښتنو بې اتفاقي د ضرب المثل شکل اختيار کړے دے او وئيلے کيږي چې د پښتنو په بې اتفاقۍ اتفاق دے ګني علامه اقبال خو وئيلي دي چې:

فطرت کے مقاصد کی کرتا ہے نگہبانی
یا بندۂ صحرائی یا مردِ کوہستانی

بندۀ صحرائي ئې عرب ياد کړي دي او مردِ کوهستاني ئې پښتانۀ ياد کړي دي. او رښتيا خبره خو دا ده چې د ادبياتو روزنه هم په غلامۍ کښې او په سختو او تکليفونو ډېره په اسانه کېدے شي ځکه چې يو قوم يا يو سړے فارغ البال وي نو کۀ خيال اوکړې په يو لحاظ اوزګار هم وي او پۀ فرياد کښې ئې مزه نۀ وي. نو پښتانۀ شاعران او اديبان چې د خپل قام او د خپلې خاؤرې کوم وِير ژړا کوي په حقه ئې کوي ځکه چې هغوی په خپل چاپېرچل کښې دا هر څۀويني، ګوري او چې شاعر ته د قام سترګې وئيلے کيږي نو لازمي خبره ده چې پښتانۀ به خپل کړکېچن حالات پۀ موجوده دور کښې هم او په را روانه زمانه کښې هم د شاعرانو او اديبانو په ليکلو کښې پېدا کوي. بيا حمزه بابا خو شاعر او اديب ته د مؤرخ نه هم اوچت مقام ورکوي او وائي چې تاريخ دان يا مؤرخ صرف تېر شوي واقعات قلمبند کوي حال دا چې شاعر او اديب د مستقبل متعلق پېشنګوئي هم کولے شي ، ځکه خو حمزه بابا وائي ، چې:

برند کۀ حوادث دی د وختونو په ککو کښې
زۀ به حوصله هم پښتنه ورته پېدا کړم

ګویا بابا وائی چې که حادثې راته په مخکښې پرتې دی خو زۀ ئې څکه پروا نه کوم چې پښتنه حوصله لرم۔ هم دا ډاډګیرنه او هم دا حوصله د پښتنو نن هم پکار راځی او صبا له به هم د پښتنو د زړونو قلا وربانديې مضبوطه وی۔ او هم دا وجه ده چې که پښتانۀ ډېرو سختو حالاتو ته مخامخ دی خو لکه د غر غوندې پۀ خپل ځایٔ ښۀ مستحکم ولاړ دی۔ لکه چې عبدالرحمٰن بابا وائی:

لکه ونه مستقیم پۀ خپل مقام یم
کۀ خزان رابانديې راشی کۀ بهار

چې پښتنو بانديې دا قسم حالات راروان وو نو خدائ تعالیٰ چې دانا بینا ذات دے ګنی هغۀ به پکښې شاعران او ادیبان نۀ پېدا کول۔ هم دا وجه ده چې د پښتنو په هره تپه او هره کوڅه کښې شاعران او بیا ښۀ ښۀ شاعران زېږېدلی دی۔

ملک مسعّود قاسم هم د دغه شاعرانو د تپې سره تعلق لری چې د عبدالرحمٰن بابا او حمزوی فکر مبلغ او علمبردار دے۔ دینی او ادبی علمونه ئې سر ته رسولی دی۔ مطالعه ئې ښۀ وسیع ده او مشاهده ئې ښه ژوره ده۔ د پښتو دکلاسیکل ادب څېړنه ئې کړې ده او پۀ ادبی اصنافو ئې دومره ډېرې مقالې شاعرانو او ادیبانو ته پېش کړی دی چې اوس ترې یو غټ کتاب جوړ شوے دے۔ شاعری ئې په ادبی لوازماتو پوره ده۔ پند او نصیحت، تاریخی او اسلامی معلومات، حکمت او روانی، سلاست او نقطه آفرینی پکښې لیدے شی۔ غزل ئې روان او په خوند مزه ښۀ موړ وی او شاعران او ادیبان ئې چې اؤری نو هر سړی له به جُدا جُدا خوند ورکوی او هر یو کس به ورله جُدا جُدا معنیٰ ورکوی۔ لکه یو شعر کښې وائی:

ذوالجلال به دې ملګرے وی هر ځایٔ کښې
د ولیانو دا کلام دے د برداشت

بل ځایٔ وائی:

تــل نــېــکــی کــوه هــر چــا ســره دُنیــا کښــې
چــې وانــخــلــې د هیــچــا ازار د ژبــې

او هم په دې غزل کښې یو بل شعر ئې ډېر د مزې دے چې داسی وائی:

چــې نــعــره د انــا الــحق ئــې سم پــه جــار کــړه
شــو مــنــصــور غــونــدې بــزرګ پــه دار د ژبــې

مــلــک صیب لکه چې په تصوف باندې یو غونډ کتاب (مخزنِ تصوّف) لیکلے دے۔ د تـصـوف د باریـکـو نـه په علمی حساب پوره خبر دے۔ هغه نقطې ئې هم پکښې چېړلې دی چې ډېرو کمو خلقو ورته پام لَرَنه کړې ده۔ یو شعر کښې داسې وائی:

ستــا ځــلا ده ربــه هر څــۀ کښــې لیـدے شې
پــــه هــــر دم دِ نــــوے شــان نــوے ظهــور دے

پـه دې کښې که یو طرف ته تجدّدِ امثال ته اشاره شوې ده نو بل طرف ته په کښې د ''كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِيۡ شَأۡن '' تـفـسیـر هم پۀ ګوته کړے شوے دے۔ دې سره سره په اشعارو کښې ئې ځـاۓ پـه ځـاۓ د خپلې خوښې مضامین هم راوړی دی او په شعرونو کښې ئې تغزل هم په روانۍ سره لیدلے کیدے شی ۔لکه دا شعر:

خپـلـې شـونـډې مې د خیـال په صفحه کېږده
چــې رنــګیــن مــې د اشــعــارو شــی بیــاض

په یو شعر کښې په ملکی حالاتو څۀ دا قسم رڼا اچوی چې:

د وخــــت یـــــزیـــد د نــــاکــــردو د لاســــه
نـــن مـــو پــــه مــلـک د کـــربــلا چــغــــه ده

په یو شعر کښې د **وحدة الوجود** عـظیم بانی حضرت محی الدین ابن العربی ته داسې خراج عقیدت پیش کوی۔

عـــظیـــم فـــکـــر هـــم د ابـــن الـــعـــربـــی دے
چــې ښــکــاره ئــې د وحــدت ښــۀ نـظـریــه ده

هسې خو تاسو ته ښه پته ده چې **وحدة الوجود** یوه مغلقه نظریه ده چې ټول عـمـر پرې لـویـو لویو خلقو تیندک خوړلے دے او مخالفت ئې کړے دے خو چې د ملک

صېب د تصوّف باره کښې مطالعه او بیا خصوصا د حمزه بابا د کتابونو ډېره وسیع ده نو نهٔ صرف دا چې ابن العربی صېب ته ئې په حقه وئیلی دی چې د هغهٔ نظریې ته ئې هم ښه نظریه وئیلې ده. رښتیا خبره دا ده چې د دې نظریې په باریکو لکه حادث، قدیم، وجود، شهود، فنا او بقا، انائے اصغر او انائے اکبر، تنزلات، او اعیان ثابته (معلوماتِ الٰهی) چې د دې ټولو خبرو نه واقف نه وی هغه نهٔ خو د دې په حمایت کښې خبره کولے شی او نهٔ په ډاډه زړه د ابن العربی صېب ستائنه کولے شی.

دې سره سره ملک صېب په خپلو اشعارو کښې سو چه پښتو او پښتونولۍ ته وَده ورکول هم خپله وظیفه او خپله دنده ګڼی لکه دا شعر:

پښتنو نخوا به یو جنت شی مسعوّده
خو افسوس که "پُښتانهٔ" ټول پښتانهٔ شی

په یو ځائ کښې د پښتنو نه داسې ګیله کوی چې:

نهٔ مسعوّده چا کښې مینه او اخلاص لیدے شی
نهٔ د پښتو په ننګ ولاړې دوستانې ښکاری

زما په خیال دې شعر کښې د حمزه بابا د هغه شعر نه رڼا اخستے شوې ده چې:

دا څنګه زمانه شوه د دوستۍ او اشنایۍ
یاران خو نهٔ شرمیږی یارانې اوشرمیدې

په یو ځائ کښې ئې د پښتو او پښتونولۍ پالنه څهٔ په زړهٔ پورې انداز کړې ده چې:

خور او لور کره ورتګ څهٔ منع نهٔ دے
نهٔ په دا چې څوک دېره په لور او خور شی

او چې څوک داسې کوی نو د هغې د انجام نه ئې هم خبردارے په دې شعر کښې ورکړے دے. لکه چې وائی:

پرق له دواړه لاسه خیږی دا متل دے
د یو کس کَړنه بدله په پېغور شی

هم په دې غزل کښې یو بل شعر څهٔ په دې ډول دے

خــدمتــونـــه د مــور پــلار کــړه مسـعــوّده
جـنتــونـــه پـــه تـعـظـیـم د پـلار او مـور شـی

د عبـدالـرحـٰمن بابا د دیوان ئې هم ښهٔ ژوره مطالعه کړې ده ځکه ځائ په ځائ ئې په اشعارو کښې د عبدالرحٰمن بابا د فکر برېښنا ځلیږي. لکه دا شعر:

دغـــه بـــرخــې ازلـــی دی کـــه پــو هـېــږې
مسـعـوّده څـوک بـې لاری څـوک پــه لار وی

دې کښې د عبدالرحٰمن د هغه شعر رنګ ښکاری لکه چې هغه فرمائی:

د ازل پـــــه ورځ د بـــــرخـــو جـــواری وه
اے رحــمـــانـــه چـــا ګټـلـې چـــا بـائـیـللـې

چـونـکـه د مـلـک صـېـب په اشعارو کښې دینداری ډېره زیاته ده نو ځکه ځائ په ځائ د دهٔ شعـرونـه کهٔ تغزل ته اوړېدلی دی خو بیا ډېر زر وربانديې هغه د دینداری تفکر غـالبـه شـوے دے. لـکـه په یو ځائ کښې په ټول غزل کښې ئې د عشق او محبت خبرې کړې دی خو مقطع ئې په دې ډؤل ده چې:

مسـعـوّده تـل پـــه دې فـکـر کـښـې اوســه
چې دې ژبــه د خـدائ یـاد کښې اموختـه شی

د یو بل غزل مقطع ئې داسې ده چې:

هــغـــه کـــس بـــه جـنـتـــی وی مسـعـوّده
چې شـفـیـع ئـې پــه قـیـامـت نبی روئیدار شی

کهٔ پښتو ادب ته څوک پام اوکړی نو اکثر داسې شوی دی چې په چا باندې د قوم او قـومـیـت مـیـنـه غالبه شوې ده نو دینداری ئې کمزورې شوې ده او چې چا د دین کار ته ملا تړلې ده هغهٔ د پښتو او پښـتـونولۍ ذکر کړے یا خو بېخی کړے نه دے او یا ئې ډېر کم کړے دے. خو چې حمزه بابا دا یو نوے فکر د پښتنو په ذهن کښې وا چولو چې پښتنو، او اسلام دواړه یو څیز دے. لکه چې وائی:

مـــا حـــمـــزه لـــه یـثـربـی بـــاده خـــاونــده
پـــه ښــاغــلـې پـــېـمـانـــه کـښـې د افـغــان را

د حـمـزه بابا دې فکر زمونږه هغه ليکوالو ته کار اسان کړو چې هم دين سره مينه لري او هم پښتو سره۔ چې په دې خبره کښې هېڅ ججک محسوس نه کړي چې اسلام پښتو اوګڼي او پښتو اسلام اوګڼي۔

مـلک صـيب د حمزه بابا د دې فکر ډېره ښۀ ترجمانی په خپلو ليکلو کښې کړې ده او کـۀ پـه دې حسـاب ورتـه اوګورو نو نۀ ترې په دې وخت کښې په دې نزدې کلو کښـې پـه ديندارۍ کښې څوک مخکښې شته او نۀ په پښتو او پښتونولۍ کښې۔ زما پـه خيـال دا فکر د پښتنو مزاج سره ډېر سمے خوري او زمونږه د اکثرو مسئلو حل هم په دې خبره کښې موجود دے۔

مـا د دې خپـلې مقدمې عنوان پلوشې څکه کېښودو چې د حمزوي فکر پلوشې پـه کښـې غـزونـی کـوي او زمـا پـه خيـال ډېـر شاعـران اديبان به پکښې د خپل غرض او مطلب خبرې هم پيدا کړي او خوند مزه به ترې واخلي۔ دا خو لا پخوا حمزه بابا وئيلي وو چې:

واپـــس جــوړ اوده وخت د پښتـنـو راغـلے دے
دا شـوق چې په څلمو کښې د پښتو راغلے دے
قـربـان چې کهکشان ترېنه ښکارېږي د مقصد
دا ګـــرد د هــغــو تـېــرو قـــافــلــو راغـلــے دے

د خدائ په امان

ستاسو ورور
ډاکټر مسعود زاهد
۹/۱۲/۲۰۱۰

# عجیبه خیالونه

ما چې په سن ۱۹۷۴ء کښې د لسم امتحان ورکړو نو ما سره د عبدالرحمٰن بابا دیوان، د خوشحال بابا دیوان، د احمد دین طالب دیوان، جنګ نامه او داسې نور د ښو شاعرانو کتابونه موجود وو. زما مشغولا د دې کتابونو مطالعه وه. زما خاص محبت د عبدالرحمٰن بابا دیوان او د احمد دین طالب دیوان وئیلو سره وو. ما به بار بار دا کتابونه لوستل او خوند به مې ترې اخستو. د دې وئیلو سره سره به ماته په زړۀ کښې "عجیبه خیالونه" راتلل او اخر زما دې خیالونو د شعر رنګ واخستو او په سن ۱۹۷۶ء کښې زۀ په دولسم کښې ووم چې ما شاعری شروع کړه او نن هغه وخت دے چې زما شعری مجموعه ستاسو د نظر د وړاندې ده. ما به اکثر مشاعرو کښې حاضری کوله او د ښو ښو شاعرانو سره به مې ناسته کوله. زما د خوښې شاعران سلطان محمود قلندر، حمزه بابا، شېرشاه ترخوی او سید رسول ناساپه وو. دوئ اوس وفات شوی دی. الله پاک دې اوبخښی.

مونږ په مئی ۲۰۰۵ء کښې په ارباب لنډی کښې یوه پښتو ادبی ټولنه جوړه کړه چې د دغې ټولنې په وجه زمونږ خیالاتو ته دومره ځلا ملاؤ شوه چې مونږ د شعر وزن، بحر، قافیه، ردیف، چپې، مطلع، مقطع، مقصد، اصلیت، سادګی او جوش ټول اوپېژندۀ. په شعر کښې چې په دې کښې د یو څیز هم کمے وی، هغه شعر د خوند نۀ وی.

ما د اول جماعت نه تر څوارلسمه پورې د پښتو مضمون وئیل په ځان لکه د مونځ فرض کړی وو او چې څومره خوند او مزه به ماله د پښتو د کتابونو مطالعې راکوله، دومره خوند ما پۀ انګریزی، اردو یا بله ژبه کښې نۀ دے موندلے. دا دا وجه هم کېدے شی چې پښتو زما مورنۍ ژبه ده او دا زما یقین دے چې څومره ښۀ تعلیم او

پـو هـه پـۀ مـورنـۍ ژبـه کـښـې بـنـده حـاصـلـولـے شـي، دومره پـۀ نورو ژبو کښې نـۀ شي حـاصلولے۔ د دې مثال دا هم کېدے شي چې زمونږ خوږ پېغمبر ﷺ د عرب باشنده وو، مـور پـلار ئې دواړه عربيان وو، ژبه ئې عربي وه، قوم ئې عرب وو۔ نو الله پاک جل جلاله ورلـه خپـل عظيم کتاب قرآن مجيد په عربۍ ژبه کښې راولېږلو، د پاره د دې چې پۀ دې باندې ټول ښۀ پو هه شي او ښۀ علم ترې حاصل کړي۔

الـغـرض دا چې مـا بـه د غـزل لـيـکـلـو او داسې نورو اصنافو باندې هم خپله طبع ازمائي کوله۔ لکه مثلا حمد، نعت، بدله، مثنوي، قطعه، چاربېته، لوبه، ټپه، هائيکو، غـزل، رُباعـي وغـېـره۔ نـو د مـلـګـرو بـه زمـا دا کوشش ډېر خوښېدو او اکثر به ئې ماله مشوره راکوله چې تۀ دا ټول مواد راجمع کړه او دې له د يو کتاب شکل ورکړه۔

زمـونـږ يـو ډېـر خـوږ ملګرے، چې اوس په مونږ کښې نشته (اروابناد قربان علي مـراد) الله پـاک دې ورتـه جـنـت الـفـردوس نـصـيـب کـړي، هغۀ د خپـل وفات نه لـس (۱۰) ورځې وړانـدې مـاتـه وئـيـلـي وو چـې مـلـک صـيـب! هر رنګه چې کېږي، ماله دې ټول نـظـمـونـه را کـړه چـې زۀ ئې د نظره اوکاږم او دې له يو کتابي شکل ورکړو، خو د هغۀ په ژوند الله پاک ته دا منظوره نه وه۔

مـا اخـر د دې مـلـګـرو په خوښه دا يو څو کلامونه را جمع کړل او کتاب مې ترېنه جـوړ کـړو۔ نوم ورله زمونږ يو ډېر خوږ ملګري شاعر، اديب او کمپوزر جميل خان اُمېد د ډېر سوچ او فکر نه پس کېښودو چې دا دے "لکه شبنم چې په ګلاب ځليږي"۔ دۀ دا نوم د يو غزل د مطلعې نه راخستے دے چې مطلع څۀ په دې ډول ده:

لـکـه شبـنـم چـې پـه ګـلاب ځـلـيـږي

خـال ئـې پـه مـخ هسـې نـواب ځـلـيـږي

مـا د کـتـاب پـه دې نـوم د خپـل پښتـو ادبي ټولنې سرپرست اعلیٰ ډاکټر مسعود زاهـد صـيـب سره مشـوره اوکړه۔ د هغوی دا نوم ډېر خوښ شو او هم پۀ دې ئې د کتاب چاپ کولو تجويز راکړو۔

مـا بيا په جنګي محله د "ايکسپرټ ګرافکس" دُکان مالک اسلام ګل ته اووئيل چې د کتاب سرپاڼه هم د دې په رڼا کښې تياره کړه۔

غرض دا چې ما په یو څو مختصرو الفاظو کښې تاسو ته د دې کتاب د چاپ کولو روداد بیان کړو۔ ګنی که په لیکلو یا په وئیلو شی نو خبرې ډیرې زیاتې دی۔

زهٔ عاجز او ستاسو خدمتګار ورور، ملک مسعود قاسم، د پښتو ادبی ټولنې د ټولو ارکانو، ممبرانو، حامیانو او غړو ډیره شکریه ادا کوم چې دا ټول ستاسو د دُعاګانو برکت دے چې زهٔ خاکسار او ستاسو د ښپو خاورې د دومره څهٔ جوګه شوم چې ما دا څو پاڼې کتاب تیار کړو چې ستاسو په وړاندې دے۔ که ما نه په دې کښې څهٔ غلطی شوې وی نو زهٔ د هغې د پاره معذرت غواړم ځکه چې زهٔ هم اخر انسان یم او غلطیانې د انسان نه کیږی ځکه چې انسان ډیر عاجز دے۔

ستاسو غریب عاجز ورور

**ملک محمد مسعود قاسم**

نېټه: جنوری ۱۴، ۲۰۱۱ء

# ته الله ئې

تهٔ قادر ئې هم سبحان — هم ئې هر څهٔ کښې عیان
ته رحمٰن رحیم مولا ئې — تهٔ الله ئې ته الله ئې

دی ښکاره دِ قدرتونه
ونې بوټې دی که غرونه
میرې شاړې چمنونه
کهٔ فصلونه دی باغونه

په هر څیز کښې دِ پهچان — هم ښکاره ئې هم روښان
ته د هریو څیز ښکلا ئې — ته الله ئې ته الله ئې

د بنده سترګې لاسونه
هم رخسار او قدمونه
هم ئې عقل هم فکرونه
هم ئې روح او احساسونه

پیدا ښکلے دِ انسان — خلیفه دِ کړو د ځان
مهربانه په هر ځا ئې — ته الله ئې ته الله ئې

د روزۍ ئې ذمه وار
په دنیا د هر جاندار
هم غریب او د مالدار
دا دے تا لره اختیار

ستا وعده ده په قرآن — ئې ښکاره روزی رسان
د هر ځا ئې هم زما ئې — ته الله ئې ته الله ئې

چې هر څومره مقامات دی
ورسره هم نباتات دی
سماوات که ارضیات دی

ستــــا پـــــه حــکــم دی روان　　تــــابـعـــدار ستــا د فــرمـــان
تـــه حـــاوی سبــا بیــګــاه ئــې　　تــــه الله ئـــې تـــه الله ئـــې

ویـــنــه د ګـل حسـن و جـمـال
هـم خـوشبـو ئـې د کـمـال
نــه ئـې شتــه مثـل نــه مثـال
دغــــه شـــان ستـــا د جـلال

ښـــائستـــه ګـوره ګـلستـــان　　هــم صــحــرا او نـخـلستــــان
هـم ابــاد تــۀ پـــه بیـدیــا ئــې　　تــــه الله ئـــې تـــه الله ئـــې

جـوړ دِلـوئ کـړلـو اسـمـان
هـم بــې حــده بــې پــایــان
لــوئـی ستــا ده لــوئ دِ شــان
هــر عــاقـل ورتـــه حیـران

تــا پیـــدا کـــړو ټـول جهـــان　　تـــه ئـې پــاک غـنــی سبـحــان
تـــه اکبــر ئـې هـم اعـلـیٰ ئـې　　تــــه الله ئـــې تـــه الله ئـــې

کـــه فـنــا ده کـــه بـقــا ده
کــه دنیـــا ده کـــه عـقـبیٰ ده
فــقیــری ده کـــه غـنــیٰ ده
پـــه نـصیـب حـصــه ادا ده

تـــه رحیـم ئـې هـم رحـمـان　　هـم پـــه زمـکــه پـــه اسـمـان
تـــه د کـل جهــان مـولا ئـې　　تــــه الله ئـــې تـــه الله ئـــې

هـم د چـا کـلـه زمـا ده
پیـــدا کـــړې دِ دنیـــا ده
امتــحـان لـــه د هــر چــا ده
بــاقــی نــه آخـر فـنـا ده

ستا فرمان دے په قرآن　　کل من علیها فان
ذوالجلال ئې ته بقا ئې　　ته الله ئې ته الله ئې
هم بې شکه ته احد ئې
هم بې نیازه ئې صمد ئې
لم یلد ولم یولد ئې
ته ژوندے به تر ابد ئې
هر یو ثیز دِ ثناء خوان　　چې راغلے په جهان
ته خالق د دې دنیا ئې　　ته الله ئې ته الله ئې
ته بې شکه کردګار ئې
ته زمونږ پروردګار ئې
مسعوؔد د زړه بهار ئې
یاد ئې تل لیل و نهار ئې
ستا کرم دے بې پایان　　ئې په هر چا مهربان
ته لائق د کل ثنا ئې　　ته الله ئې ته الله ئې

چې مِ د قبر خوا له راغلې فاتحه اووایه
هم د اخلاص سورت درې ځله ورسره اووایه
هم په منت درته زړګیه دا یو سوال کومه
آیت کرسی هم ورسره لږ په مزه اووایه
بیا ئې په رُوح د مسعوؔد عاجز ور اوبخښه خو
البقره کښې آخری آیاته دوه اووایه

# علیک صلی الله

هم دربښلے الله تا ته دے لوئ شان حبیبهٔ
په الله ګران حبیبهٔ دوست د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

هم ئې عالمو له رحمت راغلے
د ګمراهانو هدایت راغلے
مشال په لاس د شریعت راغلے
لاره ښودونکے د جنت راغلے

نازل په تا کړلو الله ښکلے قرآن حبیبهٔ
په الله ګران حبیبهٔ دوست د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

تیارو د کفر له رڼا شولې تهٔ
هم د ړندو د لاس عصا شولې تهٔ
د یتیمانو دست و پا شولې تهٔ
د ګمراهانو رهنما شولې تهٔ

د غریبانو ئې په هر ځائ کښې پاسبان حبیبهٔ
په الله ګران حبیبهٔ دوست د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

اخلاق خو ستا واړه قرآن یادیږی
دغه کتاب د مسلمان یادیږی
د مسلم نخښه د ایمان یادیږی
د کامرانۍ ښکلے نشان یادیږی

په دې سختۍ سره عمل ستاسو فرمان حبیبهٔ
په الله ګران حبیبهٔ دوست د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

ستـا پـه راتـلـو چـمـن ګـلـزار شـولـو نـن
وطـن کـښـې تـول بـهـار بـهـار شـولـو نـن
د پـاک الله ذکـر اذکـار شـولـو نـن
بُتـان د کـفـر راګـزار شـولـو نـن

ته ئې نیازبین د پاک الله په دې جهان حبیبهٔ
په الله ګران حبیبهٔ دوست د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

تـاتـه خـطـاب د والـضحیٰ هم د یٰسین دے
خـدائ دربـښـلے د اسـلام دیـن مبیـن دے
هـم دِ خـطـاب ښـکلے صادق او د امین دے
څـکـه دیـدن دِ د عـاشق د زړه تسکین دے

تـه وې میـلـمه د پاک الله په لامکان حیبیبهٔ
پـه الله ګـران حبیبـهٔ دوسـت د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

چـې کـړی ژونـدی سـتـاسـو سـنت حبیبـهٔ
ور بـه شـي دے تـر حـقـیـقـت حبیبـهٔ
وی بـه هـمـیـش لـه سلامـت حبیبـهٔ
دغـه ده لاره د جـنـت حبیبـهٔ

هـر یـو سنت دِ زمونږ ژوندله چراغان حبیبهٔ
پـه الله ګـران حبیبـهٔ دوسـت د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

وایـمـه دا چـې واړه څـان درنـه لـوګـے کـړم
څـان خـو لاپریږده چې جهان درنه لوګے کړم
ستـا پـه خـاطر زمکه آسمان درنه لوګے کړم
هـم سـمـنـدر هـر یـو چټـان درنـه لوګـے کـړم

ماته هم ځان ئې هم جهان او هم آسمان حبیبهٔ
په الله ګران حبیبهٔ دوست د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

چې تل په تا درود سلام وایمه
هر وخت په ژبه دِ کلام وایمه
هم د حدیث مدام مدام وایمه
ډیر ئې په شوق سحر ماخام وایمه

د مسعوّد د زړګی دغه دے ارمان حبیبهٔ
په الله ګران حبیبهٔ دوست د سبحان حبیبهٔ
علیک صلی الله

# نعت شریف

تیر شه مال و سر نه په الفت د مُحمّدٌ
په ځان ئې عملی کړه ټول سنت د مُحمّدٌ

یاد شوے دے قرآن کښې په طٰهٰ او په یٰسین
هم یاد عظیم اخلاق ئې دی عظمت د مُحمّدٌ

ربښتونې طریقې ئې دی د حق په جانب تلې
کفارو هم منلے صداقت د مُحمّدٌ

چې علم د قرآن او د حدیث ورسره نه وی
مشکل ده که معلوم کړی حقیقت د مُحمّدٌ

کامیاب به په دنیا او په عقبیٰ اوسی یارانو
چې چا په جهان اوکړو محبت د مُحمّدٌ

دنیا او آخرت به ئې خدائ واړه ګلستان کړی
ژوندون چې کړی ښائسته په نصیحت د مُحمّدٌ

ژړا کوم زاری کوم په در کښې دِ اے خدایه!
نصیب مِ په قیامت کړې شفاعت د مُحمّدٌ

درود د پاک الله او فرښتو دے په دهٔ باندې
مسعوّ ده درود وایه په هر وخت د مُحمّدٌ

نـه بـه ښـکـلـو کـښـې وفـا کـلـه پـیـدا شـي
نــه بــه مـالـګـه پـرهـرونـو لــه دوا شـي
کــه هـر ځـومـره د احـسـاس شـمـع رڼا کـړم
مـمـکـن نـه ده چـې د هـجـر شـپـه صـبـا شـي
مــا یــوسـۍ لــه د امـیــد جـنـت بـنـا کـړم
خــو ګـرداب د زمــانـې سـره جـلـیـا شـي
تــاریــکـۍ لــه هـلــه رونْ صـبـاؤن راشـي
چـې ژونـدون د حـقـیـقـت سـره اشـنـا شـي
خـوئ خـصـلـت مِ سـتـا پـه مـیـنـه د مـعـصـوم شـو
وایــم واړه نــعــمـتــونــه ســتــا زمــا شــي
مسـعـؔود خـو سـتـا وفـا لـه تـا نـه غـواړي
خـفـه نـه دے کـه ئـې ځـان جـهـان تـالا شـي

سـتــا د حـسـن تـجـلـو تــه غـرسـنـے شـوم
پـه مـجـمـر کـښـې درته ځـکـه سـپـیـلـنـے شـوم
چـې اظـهـار مِ سـتـا د عـشـق پـه زبـان راغـلـو
خـلـقـو اوویـشـتـم پـه کـاڼـو لـیـونـے شـوم
د مـجـاز تـیـارو کـښـې یـون کـوم روان یـم
پـه طـلـب د خـوبـرویـانـو تـور کـودے شـوم
چـې مـقـام د مـعـرفـت وتـه داخـل شـوم
عـقـیـدت کـښـې سـتـا پـه مـیـنـه شـیـن لـوګـے شـوم
چـې پـه لار د درویـشـانـو مِ ځـان سـم کـړو
روحـانـي ذهـن مِ جـوړ شـو نـو سـړے شـوم
هـر انـداز مِ حـیـدري شـو نـظـامـي شـو
پـه دنـیـا کـښـې هـسـې خـور شـومـه سـپـرلے شـوم
د اَنــا خــرقــه م اویـســتــه پــارســا شــوم
ښـۀ احـســاس دے مـسـعـؔوده راژونـدے شـوم

# قطعه

بـــا خبـــره لـــه قـــرآن
هـم حـدیـث نـه پـه دا شـان
ښـــکـــاري دا غـــوره انســـان
عــلــم دا دے پــــه جهـــان

کــهٔ د غــرور نشــه پــه ګـلو کښــې ده
نــو د ســرور نــغــمـــه بـلـبـلـو کښــې ده

ستــا د دیـدار پــه وخت زلـزل شي په مـا
تــولـــه دنیـــا مِ ستـــا لیـدلـو کښــې ده

بـورا کــهٔ تــور دے خــو کــامیاب ئې وینم
میـنـــه د یـــار ئـــې ښـکـلـولـو کښــې ده

لـکــه یـونـس بـه سـلامـت یم په کښـې
کــه د نهـنـګ خـلـه وازیـدلـو کښــې ده

قــوی ایـمـــان لـــرم پـــه دیـن د حبیبؐ
د شیـــطـــان تـــوره پسیـدلـو کښــې ده

خـلـق پـــه میـنــه مـلامــت وائــی تــل
دا بـــه کـمــال کښـــې چلیـدلـو کښــې ده

چـــې نـــن سبـــا د صبـا بـلـــه وعـده
داســـې ویـنـــا راتـــه کـنـځـلو کښــې ده

ستـــا شـرابـی کتـــو نـــه داسې ښـکـاری
د زړهٔ جــونـــګـــړه مِ سیـزلـــو کښــې ده

کــه شنــه لـو خـړه م د زړه ګـوری څـوک
د یـــار پـــه مـخ کښـــې تـوکیدلو کښــې ده

د انتـــظـــار ورځـــې را لـــنـډې شـولـې
سپـوږمـۍ د څـوارلسمـو ختـلـو کښې ده

جبیـــن روښـــانـــه دِ دا زیـــرے کــوی
چـــې شپـــه د هـجـر ختـمیـدلـو کښــې ده

د زړه شیشـــــه مِ د بـــې درده لاس کښـــې
اوس مســـعـــوده مــــاتیــدلـــو کښــې ده

ســرومــال دی مـا پـخـوا پـه تـا شینـدلـی
پــه شعــورم غـلبـــه داسې مستـی ده

همیشـه سر بسجود یم د خدایٔ یاد کښې
ځـکــه نـخښـه د سـجـدو مِ پـه تـنـدی ده

بې دا ستـــا لـــه یـــاده نـور ذکرونه نهٔ کړم
ستـــا د میـنــې پـــه مـــا داســې پابندی ده

ځـان تـه زهٔ نه وایمه تهٔ را کښې لیدے شې
نـــظـــریــــه زمـــا د عشـقِ وجـودی ده

نـوے خیال نـوی افـکـار لـه کومې راوړم
چـــې قـــدیـم ســره رشتـــه مِ الستـــی ده

مســـعـــوده د هـــر چـــا ځـــکـــه اشـنـــا ئـــې
چـــې زبـــان کښـــې دِ خـدایٔ ایښـې ګـلقـندی ده

مینـــه د یـار کـه ببر سرو کښې ده
هیـره پیـدا هـم پـه بـقـرو کښـې ده

دی بـادشـا هـان د ګدایۍ جـامـه کښې
بـادشـاهـی تـهولـه ګداګـرو کښـې ده

چـا راتـه اووې پـه اخلاص نـه کیـږی
نـن صبـا مینـه پـه ډالـرو کښـې ده

چـې د رقیب پـه ساز او بـاز چلیـږی
لیـونۍ مینـه مِ بې سـرو کښـې ده

نـوے انـداز نـوی خـویـونـه پـکښـې
زمـانـه ډوبـه دې خبـرو کښـې ده

کـه د شـاعـر د زړه وینـا لتـهوې
نـعـره د سور ئـې پـه خبـرو کښـې ده

څومره چې ستا په سرو لبانو کښې دی
دا شیـرینـی چـرتـه کـوثرو کښې ده

مـالـه د مینـې چـې خواږه ډِ راکـړه
داسـې مـزه کـلـه شـکـرو کښـې ده

څـوک بـه دنیـا څـوک بـه عـقبیٰ لتـهوی
د مسعـؔود وینـا دلبـرو کښـې ده

چـې د حسـن د ښُـکلا دِ پـختـګـی ده
ځـکـه تـهولـه دِ حسینـه زنـدګـی ده

بې لـه ستـا د بندګۍ نه ژوندون هیڅ دے
حـقیـقـت د ژونـد نـۀ ستـا بنـدګـی ده

چې غـالـب پرې اثر ستـا د مینې نـه وی
بـې لـه تـا نـه دا ژونـدون شرمندګـی ده

چې خپـل سرومـال لـه تا نه قربان نه کړم
نـو بیـا وایـه چـې فـضـولـه دل لګـی ده

چې تـا نـه وینـم جهان پـه ماتور تم وی
رنـهـائـی مِ ستـا د حسـن رنـګینـی ده

مینـه حـقـه ده د حق خـاطـر د پـاره
بـاقـی مینـه پـه دنیا کښې ګندګـی ده

خـلـق سیـل لـه د سپـوږمۍ پـه پـلـو درومـی
مسعـؔود تـه پـه نـصیب افسـردګـی ده

عمر تیر شو زما واړه کشیده     د عقبیٰ په طرف یون کړم سنجیده
جال د مکر راته جوړ دے ګام په ګام     لړ په خیال به قدم غواړي فهمیده
لکه ونه ظاهر سمه په مینځ ډډه ډډه     عشق مې تش تهول اندرون کړو بوسیده
دا زما زړه ګلستان دے د سرو ګلو     خوشبویانې ترې جوریږي پوشیده
خلق مینه کښې ژړیږي د بیلتانۀ نه     عاشقان ځکه لیدے شي رنجیده
د یار فکر پرې غالب شو په محفل کښې
مسعوّد ځکه لیدے شي آبدیده

ستا د حسن نظارو ته تماشبین یم     تماشه په دې عمل د ناظرین یم
ناچارۍ کښې د خودۍ توره په لاس یم     ما د زاغ په شانې مۀ بولۓ شاهین یم
مجذوبي مې ستا خندا د پاره نه ده     منزلونو د قدرت باندې تسکین یم
د زمرې په خُله کښې پروت یمه خیر غواړم     زه بنده د هغه ربُ العالمین یم
هر محفل له چې ورځې اثر به اخلې     زه د ګل په خوشبويۍ باندې رنګین یم
د ګردش څپیړې خورم په مخکښې ځمه     که په خړ سیلاب کښې ګډ زه بې نګین یم
د عمل جزا مې اولیده جهان کښې     هر عمل لره منصف او هم آئین یم
زه د عشق د حقیقت له برکته     سمندر غوندې خوشحال په آتشین یم
ستا د عشق یوه ذره م نصیب نه شوه     څۀ کۀ تا باندې زه تهول عمر مئین یم
راپیرزو د یو جلوه د دیدار نه شي     په دا څۀ چې را ته وائې په زړه سپین یم
رسوائي د په دربار کښې کامیابي ده     ستا د در خاؤرو کښې پروت زه په قالین یم
مست خیالونو کښې د مستو ذکر ستایم
مسعوّد د مستو مستو هم نشین یم

زنـدګـی مې بیـلتـانـهٔ کـړلـه لتـاړه
ستـا پـه غـم مې د زړګـی خونـه شوه شاړه

پـوچ ګـوئـی بـه دِ سزا تـه مستحق کړی
هسـې مـکـوه پـه خلـه خبـره لـواړه

چې د مـلک د بدنـامۍ سبب جوړیږی
داسې خلق د خپـل قـوم ختـم کـړه واړه

چې عـزت دِ د قـربـه پـه کـور کښې نه وی
میـلمـه پاسـه خپـل اسباب تـرینه انغاړه

مستـقبـل چې د تیـارهٔ نشـانـد هی کړی
بیـا د لُـور خـور پـه سـر ولـې ایـږدې غـاړه

تـرې صفا معاشره شی چې سنګسار شی
هـغـه ښـځـه چې پلیتـه وی پـجـاړه

چې اولاد ئې نـاقـابـلـه تیـار خـور وی
بیـا ئـې ګـوره د بـابـا خـونـه ویـجـاړه

چې د جام د نـصیب هر کله نسکور شی
د تـدبیـر پـه نـاکـامۍ تـقـدیـر تـه ژاړه

چې هـر وخت به وې مشغول د هغې چم کښې
هـغـه نـاوې د خیـالـونـو درنـه لاړه

مسعـوده چې غـماز دِ کـور کښې جوړ شـی
میـنـه څـهٔ کـړې د خپـل سـر امـن دِ غـواړه

ښـکلیـه چې تـهٔ دومره مغرور په څهٔ ئې
کـومـه نشـه کښې ئې مسرور په څهٔ ئې

دلبـره مـا خـو دِ تـل نـاز اوړے دے
وایـه زمـا دومـره تـربـور پـه څـهٔ ئې

بـانـهٔ د یـار پـه وینـو سرهٔ هم نـه دی
زړګیـه تـهٔ دومـره چې سور په څهٔ ئې

چې قـدم نـه ږدی د مـوسٰئ پـه قدم
هسې ولاړ پـه کـوهِ طور پـه څـهٔ ئې

سـر د مـغـلـو تـه چې تیټ وی مدام
څـه کـهٔ پښتـون ئې خو باتور په څهٔ ئې

زړګیـه یـار چې ستـا پـه خوښه وی تل
بیـا همیشـه داسې رنځـور پـه څهٔ ئې

مـا مسعـود خـو درنـه میـنـه غوښتـه
تـهٔ مـرور پـه دې قـصـور پـه څـهٔ ئې

غـم د جـدائۍ دې اختـه کړے يم فـکـرونـو کښې
غـوارمـه عـنـقـا ګـيـره د زمکې پـه دامونو کښې
کله د عـقـاب خوئ چې پيدا شي په ځوانانو کښې
ګوري مـنـزلـونـه د بيـا پـورتـه آسـمـانونو کښې
ځکـه يم خـوشبويـه چې د ګلو سره نـاستـه کړم
کړي به خوشبوياني چې څوک ناسته کړي ګلونو کښې
څـو چې د مـطـلـوب پـه طلب ورک ليونے نـه شي
کلـه مـونـدے نشـی دا پـه لـوړو مـحلـونو کښې
ستـا د پـاره تـا نـه يـو نـظـر د معرفت غـواړم
کـلـه بـه دا راز د مـعـرفـت راکړې رازونـو کښې
رښا د مـحبـت کـځ م پـه عمر کښې خوره نـه شوه
بـلـه دِ وی ربـه دا ډيوه پـه دواړو زړونـو کښې
کـلـه يـو بـخـرے هـم د لـوئ انـکـار نـدا کـوی
سوزی پـه کښې هغه چې پراته وی غفلتونو کښې
ختـمـه م ځـوانـی کـړه پـه دې طـمعـه در پسې ياره
کله څکم شراب به ستا د سرو شونډو جامونو کښې
ستـا پـه طـمع طـمع داسې ډير لـيـونـی وينـمـه
زه هـم لـيـونے يم درپسې پـه ځـنـګـلـونـو کښې
يـار چې حـقـيـقـی وی سلامت بـه پکښې پا يمـه
جاملې د نهنګ که شی کولاؤ راته وختونو کښې
ستـا د خـزانـو د قـدرت کـلـه انتـهـا نشتـه
ويـنـم دِ هـر شـان يـه نـوؤ قـدرتـونـو کښـی

بلبل چې تاته اوګوري بې دریغه ستا ثنا کوي
ته ورته ښکاریږې د ګلاب په نقابونو کښې
ګوره معرفت خو زما ستا په ځان کښې حل وائی
سترګې دِ اشنا کړه د دماغ سره سو چونو کښې
چغه د غیرت خو د پښتون د ګلزار پرخه ده
خاندی سره ګلونه د سرو وینو په ډنډونو کښې
ژوند دِ مسعوّده لکه پاڼه د خزان ښکاری
تیر دِ کړو بې شانه د کشتۍ غوندې موجونو کښې

# مسلمان ته

قوی د فکر یو اساس نه لرې
روشن خیالونه او احساس نه لرې
مانۍ ورانیږی د اغیار د لاسه
فکرونه ولې ډیر حسّاس نه لرې
وسائل ټول د دنیا تا سره دی
د رور په مرسته کښې اخلاص نه لرې
ځان له ستاون(۵۷) مملکته ئې ته
د اتحاد ناوې په لاس نه لرې
همیش په خپلو ګزارونه کوې
طاقت د کفر او خنّاس نه لرې
ستا په لمنه کښې دُشمن آباد شو
څۀ عقل فکر او قیاس نه لرې
د اتحاد شراب به کله نوش کړې
آ پیمانه هغه ګلاس نه لرې
عظیم قانون د الله تا سره دے
ولې په دې د عمل پاس نه لرې
هسې لوبیږې ته د غیرو لاس کښې
څکه د دوئ په وجود کراس نه لرې
هر خوا خطره ده یو جرس غریږی
مسلمه ستا خلاف، خو آس نه لرې
مار مسعوّده ستا په غاړه ښکاری
بهر پور د زهرو خو احساس نه لرې

وارہ ستا رضا دہ چې رضا کښې دِ بیا بیا غواړم
ستا د ناراضګۍ څخه هر وختې زه پناه غواړم
هر زنده د پاره پیمانه ده مقرره ستا
پوخ یقین زه خدایه هم په قدر او قضا غواړم
شپه ورځ ناقلاره ستا د خیال سره ملګرے یم
ناوې د خیالونو درته غیرہ کښې زیبا غواړم
ګوره رنګانې خو ستا هر طرف خورې ښکاری
یورنګا په ژوند کښې د سنتِ مصطفیٰ غواړم
ستا د عشق تاؤ سره نصیب زما طاعون شولو
دې علاج د پاره هم سرې شونډې مسیحا غواړم
زه د خپل محبوب په جامه داغ کله زغملے شم
ژوند لکه اویسؓ په خپل محبوب باندې شیدا غواړم
هر وختې چې ربه ستا په یادو فکر مند یمه
ډیره په اخلاص درنه اے خدایه دا دُعا غواړم
رنګ، صورت چې دواړه د خپل درد او روح لیدے نه شم
بیا ولې اے خدایه د لیدلو ستا وینا غواړم
هسې نه اے ربه ستا له غمه ئې زړګے وُچوی
ستا له مخه څکه مسعوّد سره وفا غواړم
ژوند دِ مسعوّده د دیدار په طمع تیر کړلو
دې دیدار د پاره رب نه هر وختې دعا غواړم

چې د حق سترګې دِ نکړې بینائی | بیا مشکله ده ستا حق ته رسائی
هر تخلیق دِ نمونه د عجائبو | پکښې ستا لیدلے کیږي خدائی
د قدرت په نظاره کښې فکر اوکړه | نور فکرونه د مغزو ده کهدائی
چې په یو لفظ ئې لس نیکئ انعام دے | د الله د کلام زده کړه پرهائی
چې د شهدو په ځائ زهر ترې موندے شي | هغه سرې شونډې به څهٔ کړي زیبائی
چې صبا دې پرې سر ملا او پښې داغیږي | اور دِ پورې شي په داسې کمائی
داسې مال داسې اولاد هسې فتنه ده | چې د ژوند په کښې تیریږي سودائی
رخت به څهٔ کړې چې دې تن ټول په عذاب وي | که د سرو په تار ئې اوشي سلائی

اجتناب د هغې اوکړه مسعوّده
کوم یو کار چې د سفر مخه بنائی

هر دم په نوې خیال د نظارو سره راځه | مشال د عشق واخله پلوشو سره راځه
باغ د محبت ته ګډیدل څهٔ آسان نه دی | تیرشه سرومال نه سترګو مړو سره راځه
ستا غمونه واړه مِ په فال سره نیولی دی | غمه د کشتئ غوندې چپو سره راځه
دا مِ پوخ یقین دے سلامت به پکښې اوسمه | ته د نهنګانو وازو خلو سره راځه
دلته استقبال کښې جدائی ده ټول غمونه دی | تل د تړمو اوښکو قافلو سره راځه
ګله ستا خندا د رژیدو نشاند هی کوی | خانده په خندا کښې شونډو سرو سره راځه
سرومال پښتون همیش د حق ځائ کښې داؤ کړی دی | ماله چې راځې نو د پښتو سره راځه
هر وخت تصور دِ زما خیال سره ملګرے دے | ګله په دې لار خو رنګینو سره راځه
ډیر غټ سترګی وینم چې په لار دِ ننداره کوی | یاره خدائ د پاره سپیلنو سره راځه

قدر مسعوّد دِ همیشه د برندو سترګو کړی
کله په غلط تیته لیمو سره راځه

★

چـې دې لـرې شـی د زړه نـه کـدورت هـمیـش وایـه اذالشـمـسُ کـوّرت
په هر حرف باندې ئې لس نیکۍ انعام دے
دا حـدیـث د مـحـمـد نبـیؐ ګـلفـام دے
پـه قیـامـت بـه دې خـدائ اوکړی مغفرت هـمیـش وایـه اذالشـمـسُ کـوّرت
قـــرآن د ټــول جهـــان دستـــور دے
د عـــاقـــلانـــو لـــوئ مـــنشـــور دے
واړه بیـان ئـې ټـول بهـرپـور دے د عبـرت هـمیـش وایـه اذالشـمـسُ کـوّرت
دا راتـــه ذکـــر د الســـت یـــادوی
دا مـونـږ تـه فـکـر دست بـدست یادوی
د بـې دیـنـه خـلـقـو تـل کـوه نـفـرت هـمیـش وایـه اذالشـمـسُ کـوّرت
کـامیـاب هغـه پـه دې جهـان وینـمـه
چـې ټـول عـمـل ئـې د قـرآن وینـمـه
هـر یـو آیـت کښې ئې څلیږی نصیحت هـمیـش وایـه اذالشـمـسُ کـوّرت
ښـکـلـے د امـن یـو پیـغـام دے پـکښـې
د ژنـدګـۍ تیـرولـو نـام دے پـکښـې
غـوره هـم دغـه یـو قـانـون دے د قـدرت هـمیـش وایـه اذالشـمـسُ کـوّرت
قـومـونـه ټول هغـه کـامران وینـمـه
چـې پـه قـرآن ئـې عـامـلان وینـمـه
کـامیـاب ئـې ویـنـم پـه دنیـا او آخـرت هـمیـش وایـه اذالشـمـسُ کـوّرت
تسـکیـن د زړه د روغتـون دلتـه دے
هـم د روحـونـو سـکـون دلتـه دے

عشقه په اور کښې د قرار لټوم ... ځکه سرور په سور انګار لټوم
ځان له ملګرې ځوک خليلؑ ګورمه ... چرته منصور په سر د دار لټوم
د حق په لوري چې مې ګام ايښے دے ... څوک سيف الله په دغه لار لټوم
دمدينې منورې لارو کښې ... د قدم خاؤره د روئيدارؐ لټوم
په دې دنيا مانه ساده چرته دے ... چې دلته بې غرضه يار لټوم
د عقل سترګې مې شمکورې نه دی ... په توره شپه د زلفو تار لټوم
په دې دنيا پورې چې زړۀ ترمه ... ګلونه نۀ پيژنم خار لټوم
چې د جنون سره مې لار جوړه کړه ... ځان له صحرا کښې چرته کار لټوم

چې د حَسينو ارادې ماتې کړی
زه مسعوّد داسې اقرار لټوم

چې د يار غم کښې دی مدهوش ... خوشحالو نه به ئې ډکه وی آغوش
څوک په مينه کښې د قيس غوندې مجنون شی ... څوک منصور په شان شی دلته سرفروش
په سرور کښې چې تر عرشه نه رسيږی ... نو نسبت دِ ځان ته نکړی د مئے نوش
د ځوانۍ او د مستۍ ثبوت ئې دا وی ... په نشه نشه کښې ښکاری مئے نوش
چې شراب ئې دی د مستو سترګو څښلی ... هغه تل وی د يار مينه کښې بې هوش
ياد مِ زړۀ نه د يار اوځی داسې وايم ... چې د يره مِ شو په کور خانه بدوش
بيا په کلی قابض شوی غمازان دی ... عاشقان چې شو بيديا پله روپوش
خوش قسمته سړے هغه چا ته وايم ... چې اشنا ئې اخلاقی وی هم سنتوش

چا چې لار د محبت وی خو ښه کړی
مسعوّد به ورسره وی دوش بدوش

ښکلیه ته چې ماته وائې چې زړۀ سخت که
نو مباح خو راتــه بیا د مینې تخت کـه

په تیارو کښې بـه تـر کـومه مِ ګزران وی
راښـکـاره راتــه اے ربــه زما بـخـت کـه

پروت په خاؤرو کښې چې زه یم بې دیدنه
پښــه نیـولـے دِ کوځه کښې راته وخت که

همیشــه بــه وی پــه طمع لـه آسمانـه
هغـه خلـق چې په للمه باندې کښت که

هغــه ستـرګې قـاتلانې نـه وی څـۀ دی
قتـلـول چـې د مئین زړګی یک لخت که

حیـرانـی ده د حسیـنـو پـه بازار کښـې
چې سودا د مـئـیـن زړونـو په ارزښت که

سـوال د میـنـې بـه ئـې ولـې نـه قبلیږی
بـدله کښې چې د خپل زړګی منښت که

چې د لیـچـو پـه خـوبـونو اموختـه شی
هغـه سر کـلـه خـوبونـه پـه بالخت کـه

د دې حُسـن مـلـکـې وتـــه خـو ګوره
وران ویـجاړ د مـئـیـن زړونو پایه تخت که

نـرمې شـونډې ئې پستـې کـوی خبرې
مـخامخ چې شی مئینو ته زړه سخت که

یـو حسیـنـه تـورې سـترګې دهشت ګرده
آوازونــه د زړه سیـمــه کښـې کـرخت کـه

حُسـن هسې د ځوانۍ په اوګو سور شی
رب دِ سـترګـو کښـې د مینې ورک زړښت که

چــې د زړه حـجــاب ئــې نــه وی مسعؔـوده
حـجـاب نــه دے کــه راتــاؤ د ځـانـه رخت کـه

حُسـنــــه غـــرور دِ عــاشـقــان ژړوی
ګــل پـــه چــمــن کښــې بـلـبـلان زړوی

بـغیـر لــه تـا نــه بــه جـنـت څـۀ کـړمـه
غـم د هــجـران کښـې مِ ستـا شان زړوی

دا بـعـضـې خـلـق صرف ځان پیژنـی
د ځــــان د پـــاره ټـول جهـــان ژړوی

وینـم سپـرلـے چـې ټـول ګلونـه خاندی
خــو کــلـــه کـلــه ئـې خـزان ژړوی

شپــه ورځ وینـی دِ هـر څـۀ کښـې عیـان
بــې ځــایــه شک دا کـم عـقـلان ژړوی

چـې وی بـالـخت د هـریـو سـر د لانـدې
داســې زلــفـــان مِ پـــه هـــر آن ژړوی

د مســـعـــؔود نــــــه یـــار رقیـــب اونیـــوو

تــا چــې رقیــب سره زمــا پــه ســر ســودا اوکــړه
تــهٔ څــهٔ خبــر ئــې څــهٔ خبره دِ آشنــا اوکــړه
ولـې بــه پـروت سر پـه څـنګـون زه تر سحره نـه یم
پیښــه پــه نیمــه شپــه یــادو نو چـې دا ستـا اوکـړه
هـر خـوابـنـکاریـږی پـه ګـلـونـو کښې رنګونـه د تا
لـــه ډیـــرې میـنــې ســرتیتــې ورتــه بـورا اوکــړه
لــکــه چـې جوړه ئې کـعبـه کـړه پـه حـرم دننـه
چــا چــې دنیــا کښــې د رنـځـور زړګی دوا اوکـړه
مـرګ مِ قبـول دے چې هر نفس به ئې څکی ملګرو
خـو چــې قــاصـد تـه څـهٔ خبره مسیـحـا اوکـړه
څـکــه بـلبـل د خُـلې نـه اوځی فـریـادونـه د غـم
ورتـــه قیـصـــه چـــا د ګـلـــونــو د ښـکلا اوکـړه
مــلــګـرو شپــه دا هـم لــه نـورو شپـو بـدلـه نـه ده
بیـــا ئـــې وعــده راســره نــن چــې د صبـا اوکــړه
بیــګـــاه دِ زلـفــو خــو زمـــا د زړهٔ دنیـــا لـوټلـه
ښــهٔ ده چــې مـخ دِ د صبــا غــونـدې رڼـا اوکـړه
زمـــا د زړهٔ وار خــطــایـئـی ورتــه د فـکـر نــه وو
چـې پــه مــحــفـل کښـې دِ خبـره د اشنـا اوکـړه
خلق خو وائی غلهٔ په نیمه شپه کښې غلا کوی تل
دې ښـکـلـو زړه نــه مِ پـه سپینــه رڼا غـلا اوکـړه
د ځان نـه څهٔ چې د جهان نـه بـه هـم لاس اوینځی
دلتـــه د حـق خبـره کـلـــه هـم کـهٔ چـا اوکـړه

خدائ مستجاب دے د رَد کولو هیڅ سوال نشته دے
شی به قبوله په اخلاص که دِ دُعا اوکړه
غواړې چې مینه اتفاق د پښتنو په مینځ کښې
نن مسعـوده دا دِ کومه تمنّا اوکړه

❖

نن دِ د زلفو نه غزل جوړوم — ډیر په انداز ئې ول په ول جوړوم
حسن مغرور ته رسیدو د پاره — د سوز نعره یو د بلبل جوړوم
د هر عاشق رهنمائی چې اوکړی — داسې عصا داسې منزل جوړوم
چې نه دنیا نه د عقبیٰ سره وی — کله دا هسې رنګ تکل جوړوم
چې مِ کمزورے تصوّر رنړا کړی — داسې مهتاب په دې څنګل جوړوم
هر یو مراد مِ ستا په در قبلیږی — څکه زاری ستا په درشل جوړوم
چې هر قدم ئې کامیابی ښکاری — څان په دې لاره د دوئ مل جوړوم
مینه خلوص او قربانی غواړی تل — چې داسې نه وی یو دلدل جوړوم
یو شان د ګلو هم ازغو د پاره — څان لکه پرخه وریدل جوړوم
چې د غماز نخښه خطا نه کړمه — داسې مورچه د په ګوګل جوړوم

اے مسعـوده چې دنیا خوښه وم
هسې د شکو نه محل جوړوم

دومره څوک مه غواړه چې بیا ئې هیرولے نه شې
ورک که ماضی کښې شوې په حال کښې چلیدلے نه شې

ځکه څکو د وینو ئې زرګونه شیدایان پیدا کړه
دغه نعرې د ان الحق ته سرولے نه شې

هر څو که وکړې فریبونه کامیابیږې به نه
دا جهادی جذبې په فکر ختمولے نه شې

دا څه چې کیږی یا څه شوی فیصله شوې ده
هغه پوخ لیک د ذوالجلال ته ورانولے نه شې

ایتهمی دور دے هر څه ډیر دی خوشحالی نشته دے
تورې تیارې دی د غمونو خلاصیدلے نه شې

تاله به خدائ وی ابدی ځوانی درکړې منم
خو زما هم ځوانی د مینې زړه ولے نه شې

پو هه ځوانی کړې که چا لمسه درته نن کړې ده
څه چل خو شته دے چې اوس بام وته ختلے نه شې

تش په زبان باندې اظهار د محبت مه کوه
چې په محفل کښې لکه شمع سوزیدلے نه شې

خو چې اوبه دِ د حیات له حلقه تیرې نه وی
د وخت رنځوره بې له دې ته رغیدلے نه شې

اے مسعؔوده که طلب د یار د زلفو کوې
بغیر رهبره ته په دغه زنګیدلے نه شې

دومره ویریږې د رقیب نه ته لږ فکر اوکړه
چې مسعؔود ته د هغه مخکښې کتلے نه شې

ستــا د حُســن پـلـوشـې خـورې ورې دی
هــر يــو شــان ســره دِ نــوې نـظـارې دی

هر سړے درتـه حیران ګوتـه په خله دے
مــا وئيـل کــه ليـونی دِيـو دوه درې دی

زۀ دِ ويــنـمــه د زړۀ پـــه ســتــرګـو يــاره
کـۀ پرتـې دِ پـه سپيـن مخ هزار پردې دی

وار بـه ولـې د سپـرلـی نـه خطا نـه وی
چې ګلاب غوندې دِ دواړه سترګې سرې دی

د الف قــامـت دِ مــۀ شـــه د نـظـره
ورتـــه ګـوره د جـنـت حـورې کـږې دی

واعـظ هسې ئې اظهار پـه منبر نه کړی
ګـنـی خـکـلـی خو د خپلو نـه نـزدې دی

د اغيـارو تـجـربـې دی زمـونږ سر دے
پښتـونخوا ته خدائ زده چا کړې خيرې دی

نـن مـالـيـار مو د چمن ګلونه تروړی
د زاغـانـو سترګې هسې راتـه سرې دی

چـا چـې کـړې د انا پـه اَس سورلی ده
د هغـو خـونـې هميش لـره سپيرې دی

هـره شپـه ئـې د شوګيـر سره بلد کړم
د يـــادونــو دومـره لـوئ قـافـلـې دی

دا د ګـل پـه پـاڼـو څـاڅـکـی د شبنم دی
کـۀ پـه مخ د يـار قـطره قطره خولې دی

مسـعـوّده د زړګـــی امــان دِ غــواړه
چې راؤړی جـانـان بيـا غشی ليندې دی

د يـــار فـکـر تـــه مِ نـــۀ پـريـږدی يـوازې
مســعــوّده دُنيــــا واړه انــديښــنــې دی

چـې يـادونـــه د اشـنــا زمـا پـــه زړۀ شی
سپينـه ورځ راباندې هلته کښې تيارۀ شی

چې زړګـے کله دردمند شی سترګې ژاړی
بـې لــه دې د سترګو کـلـه ژړيـدۀ شـی

راز و نيــاز پســې د يـــار ليونـے ګـرځـم
دا کـارونـه تل په توره شپه کښې کړۀ شی

حـقـيـقـت د حقيقت پـه سرګو وينم
چشـمـان واړه د مجاز دلتـه ړانـدۀ شـی

و اخـلاص وتـه چې څوک سرونه ټيټ کړی
کـائـنـات بـه ورتـه واړه ټيټ ليمۀ شـی

هغـه خلقو سعادت په جهان بيا موند
چـې پـه لار د صـادقـاتـو د چا تلۀ شی

تـــوره شپــــه ده خــوب عُــنـقـا دے مسعـوّده
[illegible]

آخر به تلو چا پسې تلۀ لاړ — چا راتله وې چې درنه زړه لاړ
ګل د خائست په نشه مست ولاړ وو — نعرې د سوز ورژوۀ لاړ
تیر شوی وخت پسې ارمان کومه — هسې د خوب وو یو لیدۀ لاړ
چې دِ محروم شوم د نظره څینې — څکه مِ خوند د ژوندانۀ لاړ
ګله څوانی به دِ ایرې ایرې شی — کۀ مِ آهونه ستا په پلۀ لاړ
چا چې طلب د خپل منزل کولو — هغوی د سمې نه په غرۀ لاړ
چې دِ رقیب سره غوربونه ورکړه — اسویلی خُلې نه مِ سارۀ لاړ
قدر د زاغ نن په چمن کښې کیږی — بلبل په څان وُشرمیدۀ لاړه
لکه یعقوبؑ ستا په فرقت کښې اشنا — زما د سترګو نه لیدۀ لاړ
ستا د دیدن د یو جلک په طمع — وخت رانه ټول په تلۀ را تلۀ لاړ

اوس مسعوّد په تش ګوګل څۀ کوی
ترینه یو خکلی پسې زړۀ لاړ

دا سرمدی د الا الله چغه ده — دا د الست قالُو بلٰی چغه ده
بیرغ د حق د باطلانو مخکښې — دا د شهید د کربلا چغه ده
چې د زخمی زړونو دوا ده پکښې — دا د یٰسین او والضحیٰ چغه ده
دا چې تر عرش معلّیٰ پورې څی — دا په فنا کښې د بقا چغه ده
تیارې د غم دی خوشحالی نشته دے — هر خوا د جور او د جفا چغه ده
د یتیم چغې څوک په غوربو ناؤری — هر څوک کۀ وائی دا زما چغه ده
چې د کفارو تباهی ده په کښې — دا حیدری د مرتضیٰ چغه ده
چغه آخر کښې اسرافیل به وهی — د جهانونو د فنا چغه ده

تل مسعوّده انتظار کښې چې وی

وایم کۀ ډیر چې دا زما چغه ده　　بیا هم اشنا ته نا اشنا چغه ده
د زخمی زړه د پاسه پَهې لګی　　څومره خوږه د بې وفا چغه ده
خلق کانه دی که اثر ئې نشته　　ما رَسَوَلې په هر خوا چغه ده
ورک په تیارو کښې دی تیارو وُخوړل　　وهلې چا چې د رڼا چغه ده
خدایه د دین جنده او چته لرې　　دا په دُنیا کښې د دُنیا چغه ده
پښتونه وینه خپل ادب له ورکړه　　دا دِ دُنیا کښې د بقا چغه ده
چې پښتانۀ راویښوی له خوبه
دا مسعوّده د وفا چغه ده

ستا په رضا راله رضا را　　هم په قضا مِ زړه صفا را
زه چې د خپل زۀ نه بهر ته نه ځم　　قوی ایمان راله په دا را
هم د خلیلؑ او د منصور په شانې　　د پوخ ایمان یوه ندا را
یا مِ منزل په کوهِ طور جوړ کړه　　یا شهادت د کربلا را
خلاصے د نفس او د هوا مِ نه شی　　د زړه په کور راله پناه را
چې تاریکۍ او وسوسې لرې کړی　　د صبحدم غوندې رڼا را
چې د زړه درد مِ په ارام غوندې شی　　داسې نسخه د مسیحا را
زه مسعوّده په کښې بقا وینمه
خپله مستۍ کښې دِ فنا را

ستا چې په مخ باندې زلفان پراته دی — لکه په ګنج چې خاماران پراته دی
دا ستا په په در د عقیدت په خاطر — لکه زما ډیر عاشقان پراته دی
ستا د پُرنوره ښائسته مخ ته اشنا — ګوته په خُله حُورې غِلمان پراته دی
اے زمانې ستا د ګردش د لاسه — نن مِ په خاؤرو کښې یاران پراته دی
چا له ازغو ګوتې زخمی زخمی کړې — د چا په زلفو کښې ګلان پراته دی
زما د زړه د بیابان ګلو ته — واړه په طمع د باران پراته دی
د خُکلی مخ خاونده ور کړې ورله — ځوک چې د خُلې دِ په ارمان پراته دی
په آخرت به سر اوچت ګرځوی — ځوک چې سر ټیټی په قرآن پراته دی

اے مسعوّده د سحر نخښه شوه
ستوری اودهٔ په شین اسمان پراته دی

چې مِ اوشو ستا په مینه اندراج — ورځ مِ ښکاری د اختر شپه د معراج
ګلستان راته عالمه ټول ازغی شو — چې د عشق نعره مِ واشوه په سماج
عشق عاشق خو د خپل سر په بها مومی — عشق بس عشق دے بیل بیل نه لری مزاج
د صفا مروا کوشش خو عبادت وو — اصل دا د حاجرېؑ وو احتیاج
چې محفل د اشنایانو ګرد الود کړی — مناسب دی چې د دهٔ اوشی اخراج
هر محتاج سره د وس تر حده اوکړه — آه د عرش پورې رسیږی د محتاج
هر یو سوال دا ستا په درباندې قبلیږی — ستا د در خاؤره د خوږ زړګی علاج
مستقبل، ماضی ته حال ګوته په خُله دے — د پرون فکر تالا مِ کړلو آج
زه د یار په طلب قبض سره مخ یم — لا مِ بخت نه دے رڼا لکه سراج
د عشق لاره په هیڅ شانې مشکل نه ده — که دِ مینه کښې نسبت وی د حلاج

مسعوّده دا چې لوړې مانۍ وینې

چې عاجز ترينه د هر چا تصّور دے
ستا وجود په کائناتو کښې مظهر دے

هر طالب د خپل مطلوب په طلب ګرځي
بې محنته چا موندلے دا ثمر دے؟

حقيقت خو شريعت سره موندے شي
معرفت ئې د شهود سره ګوهر دے

قِسم قِسم سيارې دي په حرکت کښې
هر يو ځيز لره مدار خپل مقرّر دے

هر عالم د ولايت په رُتبه نه وي
خو ولي هر يو په علم برابر دے

په دُنيا او په عُقبىٰ به سر بالا وي
چا چې څکلے ستا د عشق آب کوثر دے

په قضا کښې دِ رضا غواړمه ربه
سا رضا د کاميابۍ نوے سحر دے

مسعوّد ستا په خُکلا باندې مئين دے
هر انداز دِ ځلنده لکه قمر دے

ښې جلوې وې د ايمان په مېخانه کښې
وو ډېر ښکلي عاشقان په مېخانه کښې

ډېر په مينه تلاوت باندې مشغول وو
زوَړند سر وو په قرآن په مېخانه کښې

اِمام هم مخکښې د مونځ تابيا کوله
چې مې کړے وو اذان په مېخانه کښې

پس سلام نه مې چې وروستو نظر اوکړو
وو په صف کښې ډېر شېخان په مېخانه کښې

ډېر ناپوهو نه په لهو لعب تېر شو
د تېر ژوند ئې کړو ارمان په مېخانه کښې

ډېر په طمع د رضا د پاک الله وو
چا لالچ کړو د جهان په مېخانه کښې

مسعوّده نيت وو هر چا خپل راوړے
وو د هر چا امتحان په مېخانه کښې

چې په یو بل د چا نه وی اعتماد
څـهٔ بـه جوړ شی د یارانو اتحاد

چې د عشق ښکلے بازار ئې کړو آباد
هغه نوم دے د مجنون او د فرهاد

زمانې ورته بخلے لوئ مقام دے
چا چې کړے په دې لاره کښې جهاد

مئین زړه رانه په پنجو کښې اوباسی
دا م یار دے که زما د زړه صیّاد

بعضې کار بغیر له رهبره که ممکن وی
خو عشق نه شی بې رهبره بې استاد

اتحاد هله راځی چې اعتماد وی
خو د دواړو نه افضل دے اعتقاد

نن د بوټو نال کولو ستا اختیار دے
چې ازغی کرې که ونې د شمشاد

مسلمان د هغه وخت په انتظار دے
ګوندې رابه شی طارق ابن زیاد

چې د مینې په جهاد کښې سر شنده که
باقی پاتې دی منصور دے که فرهاد

د قرآن، حدیث او فقهې روستو ښائی
چې دی غوره فیصلې د اجتهاد

موجودګی د تې وی، ډش، کیبل په کور کښې
تباهی ده د اخلاقو لوئ فساد

بادشاهی کښې ئې د زغرو سازول کړهٔ
خدائ چې نرم کړه داؤد وته فولاد

چې د مور او پلار حیا لره دشمن وی
زمکې لاندې شه دا هسې رنګ اولاد

هر تنقید سره د علم ضرورت وی
پکار نه دی چې بې علمه وی نقّاد

هغه خلق به مسعؔوده همیش یاد وی
چې د صدق یو ګلزار کاندی اباد

د سر خیر له خدایه غواړه مسعؔوده
غماز ګرځی درپسې لکه جلّاد

# قطعه

چې پوره وزنی اشعار وی
په معیار هم برقرار وی
د ربښتیا وینا پاسدار وی
بیا ئې عمر ډیر بسیار وی

فـکـر زما چې لمبوزن د عقل تل ته رسی
څـکه وزرې مې د عشق خپل منزل ته رسی

که ستا د اور سمندر لوئ دے یم خوشحاله پکښې
زما د اوښـکـو یـو دانه د دې اجل ته رسی

زه د قُـل هو په رسۍ پورته ستا درګاه له درځم
پیروی ټوله د محبوب مې دې عمل ته رسی

ټول کائنات دِیو دَکُن ښکلے ظهور ښکاریږی
څـکـه فـکـرونـه مې نـقطه د لم یزل ته رسی

غـاړه بستـه پـه تـکلیفونو ستا رضا لټوم
څکه عمل مې هر یو ځان له توکل ته رسی

د زړه قـوت پـه الستـی وعـده کښې غـواړم ربه
هـره سـجـده د مسعـّود دا ستـا دُرشل تـه رسی

احسـاس د ژونـد کـه ستـا د میـنې لیونو لـه راشی
خدائ زده کـه بیـا زوړنـده زړونـه ستـا بـنـو له راشی

ویـنـې د زړه مې دی اشـنـا ګوره غـلـط پـرې نـه شې
چـې پـه ژړا ژړا کښـې اوښـکـې مې لیمو لـه راشی

داسـې پـه زلـفـو کښې تـړلے زړه مې مـځ ګرځوه
هسې نـه چـرتـه کښې د سر وینـه مې پښو له راشی

یـار مې هـمیـش لـه د رقیـب سره استـوګـنـه کـوی
مـمـکـنـه نـۀ ده پـه کفـن بـه مـخ کتـو لـه راشی

څـوانـی دِ داسـې شـه خیـرازه دا دُعـا کـو مـه
چـې مې زړګے لـکـه بُلبـل مستـو نـغـمو لـه راشی

د فـکـر مـل مې د صـحـرا پـه طرف تـلے ښـکـاری
معـلـومـه نـه ده چـې واپـس بـه دې کوڅو له راشی

پـه زلـفـو ګیـر د مسعـّود قسمتـه ژاړې بـه اوس
ګـل چـې هـم او خاندې د زلفو زولنو لـه راشـي

# باقي يو نوم د پاک الله دے

پيدا چې کله شو جهان
په غم اخته شو انسان
واړه ښکاره په وير د ځان

اول نوبت د بيلتانه وو
روستو سلګۍ وې د هجران

څوک چې راغلے په دنيا دے
يو باد وهلے د فنا دے
که دے ادنیٰ او که اعلیٰ دے

مونږه د دې باغ يو ګلونه
باقي يو نوم د پاک الله دے

صرف غرض مې ستا ديدار دے
ژوند مې که واړه ناقلار دے
دغه مقصد پسې په دار دے

چاته ملاؤ په کوهِ طور شو
په لامکان زمونږ نامدارؐ دے

کله طوفان کله سيلۍ راځي
کله باران کله بړلۍ راځي
کله غمونه خوشحالۍ راځي

دغه اختيار د يو الله دے
د قيامت ورځ به په شپېلۍ راځي

په هر یو څیز کښې دِ نشان وینمه
د معرفت دِ په کښې شان وینمه
ځکه دِ رب روزی رسان وینمه
چې کوم خوا ګورم هلته ته ښکارې
ستا قدرتونه په هر آن وینمه

زه مسعود چې ستا دنیا ګورمه
هر شے مدار کښې دِ صفا ګورمه
هر نوے شان صبا بیګاه ګورمه
د فکر اَس که څورسی اوشلوی
آخر نقطه باندې هم ستا ګورمه

صدف کله هم ګوهر ته نهٔ رسیږی
چې ئې خاشکے د زړهٔ سر ته نهٔ رسیږی
هغه زړه چې بې اخلاصه مینه کاندی
هغه کله هم باور ته نهٔ رسیږی
کرامت د هر ولی ډیر معتبر دے
معجزې د پیغمبر ته نهٔ رسیږی
دا منم چې یوسفٔ بې مثله ښائسته وو
خو په حُسن کښې سرورؐ ته نهٔ رسیږی
بعضې ډیر ظالمان تیر دی له دُنیا نه
بیا په ظلم کښې شمر ته نهٔ رسیږی
هر یو څیز د خپل مدار سره ښائیږی
په جلوه کښې ستوری نمر ته نهٔ رسیږی
ټول نبیان رب ته محبوب دی مسعوده
خو احمد خیر البشرؐ ته نهٔ رسیږی

چې مقصد د ژوندون هم معرفت دے
پـه خندا راتـه لـه ورايـه حقيقت دے

مـعـجـزه ئـې انبيـاءُ لـره ورکـړه
اوليــاء لــره ورکـړے کــرامــت دے

چې وفـا ئـې د نبـيؐ سـره وه کـړې
پـه دنيا پـرې زيرے شوے د جنت دے

د اسلام مـقـابـلـه کښې کفر داسې
د رڼـا مـقـابـلـه کښـې جهـالـت دے

تــه ئـې مــۀ کوه غـنـدنـه اے واعظـه
په دنيا کښې خو بـس کار د محبت دے

نـن زاغـانـو د بُلبلو ځائ قبضـه کړو
ځـکـه بـاغ م د زړه واړه لت پـه لت دے

پـه سختۍ د ژنـکدن بـه نـۀ پو هيږې
چـې قـرآن ئـې ګـرزولـے ضرورت دے

هـم د بـل عـزت کښې خپل عزت موندے شي
مسـعـوّده بـې عــزت تـل پــه لعـنـت دے

پـه زړګی خو زما ځکـه حکومت کړه
چې خوږې شونډې ئې بيا د مينې ست کړه

واړه حُسن په جهان کښې چې ليدے شي
ستـا ښـکـلا ده هر مئين پرې محبت کړه

وږې زلفې سپين رخسار ئې هسې زيب که
لـکـه مـه د ځـوارلسمې چې رويت کړه

پښتـانـۀ هميـش پـه ننګ دی ځليدلی
پـاسـه اودريـږه خـالدؓ شـه شجاعت کړه

پـه دُنيـا کښې کـۀ اعلیٰ مرتبه غواړې
تـل تـر تـلـه د مـحتاجو حمايت کړه

دنيـا پـريـږده دنيـادار دِ پرې نـازيـږی
د فـنـا نـــه د بـقـا وتـــه رحلـت کـړه

خدائ وتـا تـه ښـۀ او بد په خوښه کيخود
مـرضی ستا ده اوس په دې کښې عدالت کړه

پـه مـحفـل د زاهدانـو بـه کـامياب وی
تـل بـه خوار وی چې د بدو سکونت کړه

مســعــوّده وفـــا کـــو مــــه وفـــا غـــواړم
زمــا زړه تــل د جـفــا ځيـنـې نفـرت کـړه

تــورې شپــې د هـجـر دِ غـمـونـو کښې جلیا کړم
ګـورمـــه رڼـا چـې د مهتـــاب ورلـــه پیدا کـړم
تــل دِ نــرمــې شـونـډې هـم وعـدې د صبا کـانـدی
زه دِ دَ سبـــا پـــه طــمـع طــمـع کښـې تـــالا کـړم
ګـوره ستـــا د عشـق د ورکـې لارې تـصـوّر کښــې
شپــې تـولـې د فــکـر سمـنـدر بـانـدې صبا کـړم
ښــۀ ده چــې د زلـفې پـه لاس نـۀ راځی صنـمـه
دغـــه بـې وسی بــانـدې بـه ټول وجـود فـنـا کـړم
عشـقـــه لټـومـــه ئـې مـکـان پسـې دِ ګـرځـم
غـم کښـې دِ بـې خـوده لیـونـو غـونـدې ژړا کـړم
څـو بـــه لـــه ستـمـــه د همیـش لــه زۀ ژړیـږم
راشـــه چـــې خبــر د دا دُنیـــا پـــه نــاروا کــړم

څـوک چې د وفا پـه نـوم د زړونو قتلول کوی
زه مسـعـؔـود هـغـــه بـې وفــا سره وفـا کـړم

هـر خـوا ګـورم چـې بـه راشـې پـه نظر بیا
مــعــراجـی بــراق پسـې یـمـه اوتـر بیــا
کـلـــه لاس کښـــې سهــاره د الا الله مِ
کـلـه سـوال کـړم پـه خـاطـر د مبشرؐ بیا
یـو رهبـر یـدِ بیـضـا مِ رانصیب کـړې
چې مـقـام مِ کـوهِ طـور شی بـرابـر بیـا
یــو جـذبـه د حُسینـنیؓ شرابـو غـواړم
چې د هـر ظـالـم پـه سر شـمـه خنجر بیا
د قــرآن حـدیــث تـابـع شــه مسعـؔوده
هلـه طـمع پـه قیامت کـړه د کوثـر بیـا

نن دِ دلبره په سرو شونډو چې مسکا خوره ده
لکه چې پرخه په ګلونو د صبا خوره ده

تل چې خوشبویه د ګلاب غوندې ژوندون تیروې
ځکه دِ باغ کښې د هر چا په خُله ثناء خوره ده

هر یو انداز دِ د لیدونکی مشغولا جوړه ده
د خکلی شان دِ په هر لور باندې ښکلا خوره ده

دغه شین خط پاس په مخ باندې خپل نه ښکاریږی
دا مِ د سوی زړګی نخښه په مخ ستا خوره ده

خدائ زده پخلا به په جرګو شی مسعّوده که نه
نن مِ د زړه په دُنیاګۍ دغه سودا خوره ده

تصور کښې دِ د حسن لمبوزن ووم ګرځیدمه
یو نکته وه ځلیدونکې ترې چاپیره تاویدمه

تلمه په دې لار چې یو ګُل په ګوتو راغے
څۀ عجیبه ښکلے د خوشبو په فکر تلمه

څۀ د خیال ګرداب وو چې خپل ځان ته فکر یوړم
توئ شوم لکه شمع په خپل ځان نه پوهیدمه

وایم مسعّود چې ټول جهان ډک له حکمت دے
څو که زه د عقل پرې اسونه زغلومه

چې افشان شی چا ته راز د معرفت
خبردار شی په انداز د معرفت

همه واړه کائنات به مسخر کړي
چې په لاس ئې شی اعجاز د معرفت

دا چې روح مې د توحید سندرې وائي
اوریدلے ئې دے ساز د معرفت

چې په صوت سرمدی باندې پوهیږي
هغه آوري تل آواز د معرفت

چې تقویٰ لري د شرعې پابندي کړي
مبارک شه ورته راز د معرفت

د هغه عرفان عارف ته معلومیږي
چې اوچت لري پرواز د معرفت

معروف خلق د دُنیا په پلو نه ځي
دوئ موندلے وي هر ناز د معرفت

بیا مزل به لږ آسان شی مسعؔوده
چې یو ځل اوشی آغاز د معرفت

چرته ورځ ده په جهان کښې چرته شپه ده
په هر لور دِ د خائست جلوه خوره ده

دا د ستورو محفلونه په آسمان دي
که زما د ارمانونو قافله ده

چې رقیب ورسره راغللو محفل ته
هره اوښکه مې واپس شوه پښتنه ده

حسرتونو د کاروان سره مې یاره
ستا د زنې د خالونو بدرګه ده

موده اوشوه ستا یادونه پیښه نه کړي
نن ګیله ځکه راغلې مې په خُله ده

د باران طمع زما ځکه پیدا شوه
وریځ د زلفو دې چې مخ باندې خوره ده

دا قرآن چې خدائ لیږلے په انسان دے
هم آئین دے معجزه هم فلسفه ده

د دُنیا په مال و زر غاوره مه شې
د قارون نه پاتې شوې خزانه ده

چې له رویه ئې جوړ شوی کائنات دي
د هغه نوم مې د ذکر وظیفه ده

ستا په مخ کښې تا او ځان او جهان وینم
آئینه ده آئینه ده اٗئینه ده

مسعؔوده چې وجود دِ په کښې ورک شو
محبت خو خُدائګه له به افسانه ده

چې هر راز شي د آسمان ورته افشان — هغه نه وي په ژوندون باندې نالان
هر کلام ئې د الله په در قبول وي — رحمتونه پرې وريږي د سمان
د الله رضا هغهٔ ته مشکل نه وي — چې طالب وي هميش کړي دغه کوشان
چې نازونه به ئې تل په دې دُنيا کړل — خاؤرو لاندې شوې غنچې وې جاوِدان
مسعـوده خير د ربه هر وخت غواړه
د شيطان په جال کښې نه شې آويزان

چې زړګے مِ ستا په عشق کښې مغلوب شو
په ليدلو ستا د ښکلى مخ مطلوب شو

په شپه ورځ کښې ستا د رحم طلبګار يم
خوار زړګے مِ ستا په عشق کښې مجذوب شو

ډير رازونه د صُوفيانو ئې څرګند کړه
چې الف کله حائل په دې مکتوب شو

هيڅ اختيار ئې د بيان په خپل ځان نه وو
هغه يو چې د منصور ځينې اسلوب شو

خوار ابليس د ملائيکو لوئ استاد وو
په انکاريو لعنتى درياب کښې ډوب شو

تل راضى د الله اوسه مسعوده
چې امامؑ د مرسلانو دِ محبوب شو

دا خو يو نکته وه چې د کن په حکم وا شوه
بيا لکه غوټۍ هسې خوره شوله دُنيا شوه

څوک روګرداني سره فاني بويه دې چم کښې
چا له دا فاني دنيا فنا سره بقا شوه

کله چې په باغ کښې د سپرلي وږمې خورې شوې
بې نمه غنچو کښې هم د نم مزه پيدا شوه

کله چې رضا په بالقضاءِ دِ يقين پوخ شو
لار د تيريدلو دِ په هر مقام صفا شوه

بې پيره مسعوّده په دې لاره ګزر ګران دے
پير چې دِ کامل دے تاريکي درته رڼا شوه

لرې مِ بچ کړه د شيطان د وسوسو نه
يو ذره راکړه د عشق د اثاثو نه

امتحان د معرفت دِ آسان نۀ دے
هر مقام دِ يادوم د خُلاصو نه

آئينې غوندې اسلاف مخې ته کيږدم
چې سبق واخلم د دوئ د ميراثو نه

هره لار مِ په خپل فکر کړه روښانه
چې غافل شمه د ژوند نورو قيصو نه

ستا د رحم يو نظر زما پکار دے
باقي ژوند مِ کړه محفوظه حادثو نه

حسينيؓ غوندې شراب له تا نه غواړم
نور توبه مِ د شرابو د کاسو نه

عقيده مِ د وحدت د ستا په ذات ده
مسعوّد غواړي امان له ثلاثو نه

د ازل ليک دے هر بنده ته پۀ خپل وخت رسيږي
د چا نصيب کښې وي ټکرې څوک عېشونه کوي

چې د خوږ زړګي درمان دے یار دے دا
چې په غم مې پریشان دے یار دے دا

داسې نه چې زه په یو یم دے په بله
چې په څنګ کښې مې روان دے یار دے دا

نه په دا چې د رقیب په خوا کښې ناست وي
د رقیب سره چې وران دے یار دے دا

چې مې زړه لکه بلبل په کښې چغیږي
د سپرلي یو ګلستان دے یار دے دا

د بیمار زړګي دوا په کښې موندے شي
چې روغتون د یو انسان دے یار دے دا

دا سرې شونډې ئې ګلاب غوندې نازکې
د سرو شونډو شبستان دے یار دے دا

چې همیش د مسعؔود په خوښه ګرځي
کامران څکه په جهان دے یار دے دا

جام دې ساقي راکړه خو پښتو نه ئې معموره کړه
ډیر د احساساتو پښتنو نه ئې بهر پوره کړه

یا خو حقیقت کښې یو هوا د فهم راوله
یا خو بې انصافه دنیا ټوله چوره چوره کړه

هر خوا ته مجاز دے حقائق په کښې لیدے نه شي
دا خلق خبر په حقیقت د کوهِ طوره کړه

عشقِ مجازي د مصوّر په بت خانه کښې وي
واړه د بُتانو دا دنیا ټوله معذوره کړه

عشق یو امتحان دے چې د سر په بدله کیږي
دغه کار ایزده چرته په دار کښې د منصوره کړه

عشق خو بې خطره انګارونو ته دنګلي وو
رب ورته نصیب کښې زندګي ټوله د نوره کړه

بیا به د اسلافو د ناموس محافظي کوي
زنګ نه که دې پاکه مسعؔوده خپله تُوره کړه

چې پس له مرګه ژوندون غواړې درته وایم ګله
ښه پُر مقصده لاربنودونکے یو کتاب اولیکه

نــه پتېـرې پــه ايـرو کېنــې کلــه لال
نــه تــړلے شـی رسۍ بـانـدې شـمـال

اشنـائـی بــه نـن د سـرو پــه بهـا مومــې
خـوار کـنجوس سره اشنا نه وی خوشحال

چـې پـه لوښی کېښې څۀ وی هغه تر ِ څاځی
اصيــل نـــه کـوی خـويــونــــه د کــولال

نۀ د جوش په وخت اوبو کېنې عکس ښکاری
نـۀ بـه بـچ شـی پـه دنيـا څـوک لـه زوال

نـصـيـحـت بـانـدې هـر دم عمل پکار دے
کــه ئـې مـومــې پــاس لـيـکلے پـه ديوال

هغه څوک به مستقبل کېنې کامياب نه شی
چــې بـنـيـاد د مـسـتـقـبل نـه ږدی پـه حـال

د مــاضـی خـريـد بـــه اونکړې دنيـا کېنې
خــزانـې کــه پـر ِ خـالـی کـانـدې د مـال

سائـنـسـدانـان کـۀ د دُنيا وارۀ راغونډ شی
مـړ ميــرے بـــه ژونـدے نـه کړی پـه کمال

مسـعـّـوده پـــه عـمــل بـخـښـنـــه نشتـــه
ده پـــه فـضــل د خـــاونـد رب ذوالـجــلال

نـــه حُـســن پـرسـت يـم نـه د حُـسـن تـنـدې وُږے يـم
بـــس صـرف د حُـســن مـصـوّر تـه فـکـر وُږے يـم

ګـوره پـــه ادب بـــه مـلـغـلـره تـل کېنـې پـروت يـم
بـې ادبـــه تــل بـــه د اوبــو مـخکېنـې خسنـے يـم

تـــل ګـلـونـــه خـــانـدی د شـبـنـم پـــه وريـدو سـره
زه هــم د اشـنـــا پـــه ديـدن دغـسـې مـخ رونـے يـم

نـــه کــوم ســـاقـی ستـــا د شـرابـو پـرواه نـه کـوم
زه چــې سـرۀ لـبـانــو د اشـنـــا ډيـر نشـه کـړے يـم

زه مسعّود ګير د زمانې په هغه دور کېنې شوم
هـر خوا يو ګرداب د ژوند غمونو ايسار کړے يم

یاره خام دِ معلومیږی تول سو چونه      د حُباب په سر تړې پاخهٔ برجُونه
کامیابی د ناکامو نه پس موندے شی      ګوره ستوری په تیاره ښائسته مخونه
هغه علم چې عمل ورسره نه وی      لکه بې فائدې بلیږی چراغونه
هغه عشق چې د اخلاص په بنیاد نه وی      په آخره شی سلګئ سوی آهونه
هر انسان دِ دغه دریو ته تیار وی      اول مرګ دویم زوال دریم غمونه
عزازیل چې کبر اوکړو حال ئې څهٔ شو      تر قیامته پرِ وریږی لعنتونه
حرص بد دے فکر اوکړه درته وایم      چې شو پاتې د آدمؑ نه جنتونه
بد کلام د اور شغله ده معلومیږی      چې همیش لره پریږدی په زړه داغونه
فلاح هغه چا موندلې ده جهان کښې      چې مائل ساتی په یاد د الله زړونه
فتح صرف په هتهیارو ممکن نه ده      حوصله باندې ګټلے شی جنګونه
په ښهٔ خوئ او ښهٔ اخلاق به معتبر شې      لکه څانګه د ازغو باندې ګلونه
په ښهٔ خوئ تل له بدانو بې پرواه شه      په نرمئ لکه اوبهٔ مړ کړه اورونه
مسعوٓد خو ستا رضا له تا نه غواړی
په رضا ئې تهٔ پوره کړه ارمانونه

هسې زړه مِ ستا له غمه لوَټ په لوَټ دے      ترې جوړ شوے سونامی او بالاکوټ دے
په علاج د طبیبانو به روغ نه شی      زما زړهٔ ته رسیدلے داسې چوټ دے
هر خوا ظلم دے انصاف دلته خرخیږی      تر خپل وسه هر یو ویستے بل نه پوټ دے
چې سسپنس او پلاټ کردار سره خائیږی      افسانو کښې دا معیار د اوؤر کوټ دے
دا دُنیا ده خدائ له فرقه پیدا کړے      بادام کله خوند راپریښے د اخروټ دے
همیشه به سر ګردان لیونے ګرځی      چا ساتلے چې اشنا ته زړه کښې کوټ دے
هغه یار به دِ یار نه شی مسعوٓده

د صدف څاڅکے ګوهر نه وی هر يو — څليدونکے شے سرۀ زر نه وی هر يو
په چمن کښې ټول ګلونه شګفته وی — په ښکلا کښې صنوبر نه وی هر يو
اشنائی خو د يو کس سره مزه کړی — په ګاونډ کښې خو دلبر نه وی هر يو
د يارۍ مَزے به کله مضبوط نه شی — په خلوص چې برابر نه وی هر يو
هغه روغې ته راضی نه شې هيڅ کله — چې جرګه کښې زوره ور نه وی هر يو
اتفاق ډير مشهور دے د مَګسو — چې جُدا په لَر و بَر نه وی هر يو
څوک ولی او قلندر شی په جهان کښې — هم په دا چې قلندر نه وی هر يو

مشروبات دی خدائ هر قسمه پيدا کړی
مسعوّده خو کوثر نه وی هر يو

د وفا د لارې مل يمه يارانو — چرته پوهه په چل وَل يمه يارانو
هيڅ ګمان مې په ځان نه شی چې به روغ شم — د هجران په ژرنده دَل يمه يارانو
دا خو زه يم چې د زړونو تختول کړم — هسې نه چرته کښې غل يمه يارانو
زه د يار د تورو زلفو زولنو کښې — انښتلے وَل په وَل يمه يارانو
په سُرود ئې چې ګلونه مستی کاندی — نغمه ساز هغه بُلبُل يمه يارانو
په ديدار به د يار کله شم خيرازه — هميشه په دې تکل يمه يارانو
هغه پيغله چې زما په زړه کښې اوسی — زه ئې ګل د تور اور بل يمه يارانو
لکه پرخه چې په ټول چمن وريږی — زه د هغه خلقو مَل يمه يارانو
ما د عشق په مدرسه کښې عمر تير کړو — لا ناپوهه په دې چل يمه يارانو
داسې نه چې اوس په دۀ يم عاشق شوے — زه عاشق ئې دَ ازل يمه يارانو

چې په بد مې خوشحاليږی مسعوّده
زه له هغه خلقه بيا ، يمه يارانو

پــه مــرض د عــاشقۍ کښې مبتـلا یم
زه پــه طــمـع د مـدد د پــاک مـولا یم

دا چې زه پــه سمــه لار خورم تیندکُونـه
ګــرفتــار زه پــه دا هسـې رنګ بـلا یم

عشقــه تــا رابـاندې داسې کوډې اوکړې
نـــه د کــاریـم د دُنیــا نــه د عـقبـیٰ یم

د دې خپــل نــادان زړګــی لــه بـرکتــه
هســې پنډ د مـحبـت پـه نــرۍ مَلا یم

چــې مجــاز د حـقیقــت پـه خیاط پیلم
هیـڅ مِ نــه مـونـدۀ لـګیـا لـکـه جـولا یم

کلـه کلـه مـۍ خـواری کـووم د مینـې
زه ګیـر شـوے پــه نــاترسه شان اشنا یم

چــې د خپـلــو ګـنــا هـونـو انـدازه کـړم
نیـمـه شپـه کښې خپـل الله تـه پـه ژړا یم

لیـونتـوب او مـحبـت مِ اشنـایـان دی
نـه پـه ځـان یمـه ملګرو نـه پـه چا یم

د رقیـب پـه غیـږ کښـې نـاست دے اشنا خاندی
راتـــه وائـــی مسـعـوّده چــې زه ستـا یـم

چــې مِ یــار پــه خــُلــه د میـنـې اعتراف کړو
دا لـُوګـی لـُوګـی مــاحول ئې راتـه صـاف کـړو

چـــې الله تـــه مـخـــامـخ شـو شـرمـنـده وو
پــه ګـنـاه چـې کـومو خلـقو دلتـه لاف کـړو

د الله پـــه در بـــخښنــــه ورتــــه کیــږی
چـې قـصـور د یـو بـنده دلتـه چـا معـاف کـړو

د یـــار غــم بـــه درتـــه څــۀ وایـم مـلـګـرو
دا الف وجـود زمـــا ئـــې لـکـــه قـــاف کـړو

مســعـوّده پـــه روانــو اوبـــو ګــرځـــه
چــې دِ زړه د آئیـنـې غـونـدې شفـاف کـړو

لکـه پتـنګ پـورتـه پـه شمع ځان سیزل ازده کړه
پــاره سیـنـــه د ګـل د پــاســه د بُلبـل ازده کــړه

چې د ګردش څپېړې خورې هر وخت په دواړه مخه
داسې طـوفـان کښې د کشتۍ په مخکښې تلل ازده کړه

چې په تیرو تیرو ازغو کښې وی همیش خوشحاله
داسـې دنیـا کښـې زنـدګی لـکـه د ګـل ازده کـړه

چې د چړو غـونـدې غـابـنـونو نه ځان ځنګه ساتی
داســې هُـنــر بــانـدې د ژبـې چـلیـدل ازده کـړه

هـم د بیـمــار زړګـی دوا ده هـم پـر هـر راولـی
خــوږې خبــرې دِ شـــکـــرې دی کـول ازده کــړه

کـه شـنـه لـو خـړه شې پـه حق باندې ولاړ اوسـه تل
لـکـه مـنـصـور غـونـدې په دار باندې ختل ازده کړه

یا خو مـجـمـر کښـې شـه لـوګـے د خپله سره یار ته
یـــا لــکـــه پــرخـــه پــه ګـلـونـو وریـدل ازده کــړه

هسـې پـه میـنـه کښـې نـعرې او سُورې مۀ وهه تل
ورشــه سُور اور کښـې سـمـنـدر نـه اوسیدل ازده کړه

اے مسـعـّوده کــه فـلاح د آخـرت غـواړې تـل
پاڅـه په شپه کښې لوئ الله ته ژړیدل ازده کړه

چې مِ یار پـه خـُـله د مینې اعتراف کړو
دا لُـوګی لُوګی ماحول ئې راته صاف کړو

چـې الله تــه مـخـامـخ شـو شـرمـنـده وو
پـه ګـنـاه چـې کـومو خلقو دلته لاف کړو

د الله پـــه در بـخـښـنـــه ورتـــه کـیـږي
چـې قـصـور د یو بنده دلته چا معاف کړو

د یــار غــم بـــه درتـــه څـهٔ وایـم مـلـګرو
دا الف وجـود زمـــا ئـې لـکـــه قـاف کـړو

مـســعـــّوده پـــه روانـــو اوبـــو ګـــر څـــه
چــې دِ زړه د آئـیـنــې غـونـدې شـفـاف کـړو

معـلـومـیـږي ښـهٔ سیـرت او ښـهٔ ګفتـار
دا اعـلـیٰ ژونـدون هـم دغــه دے مـعـیـار

بـل بـه دا هم د دې څـانګـې وی ګـلونـه
صـفــا نیـت دویـم خـدمـت او ښــهٔ کـردار

د نیـکـۍ صِـلـه هـمـیـش لـره نیـکـی ده
د نیـکـۍ لـبــاس بـــه نـهٔ وینـې میـلـدار

لـکــه وریـځــه پــه هــر چــا بـاندې وریـږه
کـــه ګـلـونـــه کـــه ازغی وی کـه کـُهسـار

چـې قـدرت د انـتـقـام لرې پـه لاس کښې
غـصــه او څکـه لوئ جهاد دے دغـه کـار

خـامـوشی بـه دِ لـه ډیره غـمه خلاص کړي
ضــمـــانــت دِ هــم پــه کـښـې دے د وقــار

د هـر چـا نـظـر کښې روغ لیـونے ښکاری
چـې بـې ځـایه کړی محفل کښې ډیر ګفتار

د مـطـلـب خبـره یـو سـړی لـه بـس وی
بـې هـوده مـجـلـس هـرګـز نـه وی پـکـار

خـود داری د انـســان هـغـه یو هتـهیار دے
چــې کــامــران بـــه وی د ژوند پـه هـره لار

چـې خـلوص او اعتـماد لـه مینـځه لاړ شي
نــاکــامــی بــه دِ قـدم ښکل کـړی هـر وار

اعتـراض کـول دُنیـا کښې آسان کـار دے
خــو اصــلاح د ځــان ده واړه مشـکـل کـار

چــې د بــل پـــه غــم غـمـجـن شې مسعـّوده
دې دنیـــا کښـې ډیــر ښــه کــار دے دغــه کــار

زړه مې ګیر نن د غمونو په ګرداب دی
لا هو کړې بیلتانه په دې سیلاب دی

د وصال په شپه د هجر علامې دي
چې سپین مخ نه ئې تاؤ کړې نن حجاب دی

د سپرلی غوندې خویونه ئې اختیار کړه
ورته ګورې نه چې هر چا ته سیاب دی

تورې زلفې د اشنا په مخ پرتې دي
حُسنه تا راؤړې څه ښکلې کتاب دی

له ازله پرستِش کړم ستا د حُسن
په هر شعر کښې مې عکس د شباب دی

دا آهونه چې خوارهٔ دی په فِضا کښې
غــږولې چــا زمــا د زړه ربــاب دی

ستمګره د فراق له برکته
اوښکې نه دی دا زما په مخ خوناب دی

تورو زلفو کښې ئې ورک شوم لکه خَلې
هیچا هم راته دا نهٔ وې چې ګرداب دی

چې له کومه راسې ستا ځینې جُدا یم
زړه زما د بیلتانه په اور کباب دی

عاشقی خو د مئینو عبادت دی
رقیب ولې پرې خفه خانه خراب دی

کوم مریض چې خپل طبیب نه جوابی شي
دا باقي عمر ئې کور کښې د قصاب دی

فقیران ځکه خُویونه بادشاهي کړي
چې سرخیل ئې مسعّوده بُوتُراب دی

دا نن په ما لاسونه خدائ زده چا راواچول
ما وئیل ملګرو جوړ اشنا راواچول

ښکاره راته تضاد شو ستا د زلفو او د مخ
صبا راته لاسونه چې بیګاه راواچول

ستا دیو مُسکا عِوض به کله زه پوره کړمه
داسې خو پورونه دِ په ما راواچول

ملګرو هسې نه چې شي خفه رانه وفا
فکرونه مې زړګی ته نااشنا راواچول

چپه د فکر راغله زړه وونکے غوندې شوم
رقیب چې سلامونه په خندا راواچول

زړه مې شو قلم په لور د وروځو د اشنا
قلم ته ئې شعرونه چې زما راواچول

خدائ زده که زه بچ شم له مړو سترګو مسعّوده
دمه نه کړهٔ بَلا دې مسیحا راواچول

چې ته به څۀ چې ته به څۀ ښکارې — ماته په هر شکل کښې ښۀ ښکارې
هر خوا چې ګورم راته تۀ ښکارې — هره ګړۍ هره لحظه ښکارې
واړه جلوې دِ په هر لُور څلیږي — ټولو جلوو کښې ښۀ میشتۀ ښکارې
په نمر سپوږمۍ زمکه آسمان کښې تۀ ئې — ډیرو رندو ته بیا هم نۀ ښکارې
دې ګلستان کښې دا ښائسته ګلونه — ماته د هر یو ګل ورمه ښکارې
هره لحظه ولې بدلیږي اشنا — چې په راتلو کښې هم په تلۀ ښکارې
د سر په سترګو به دِ هم اووینم — راته په سترګو چې د زړۀ ښکارې
د چا په سترګو کښې اوبۀ اوبۀ شې — د چا په سترګو کښې رانجۀ ښکارې
دا خو په هر څۀ کښې هم تا وینمه — ما خو وئیل که راته نۀ ښکارې
په تصوّر کښې به دِ ځائ کړمه زۀ — چې راته نۀ ښکارې نو ښۀ ښکارې
زړګیه ویښ شه د ښو په غشو — وروځو لیمو ته که اودۀ ښکارې
د چا وزرې د مزل ماتې شي — د چا په خیال په الوتۀ ښکارې
په تصوّر کښې دِ هر وخت ساتمه — ماته په خیال کښې آئینه ښکارې

قاسمّه پریوتې د چا له سترګو
چې لکه اوښکه په بانۀ ښکارې

په هر څۀ کښې راته ښکاری ستا بشر نن — چې نظر مِ ناګهانه دے اوتر نن
اډانه د یو الله زما په لاس ده — ورسره مِ سَهاره ده مبشرّ نن
کوهِ طور خو یو مقام ستا د وصال دے — د موسٰیؑ غوندې نصیب مِ که رهبر نن
کربلا دلته په هر قدم پیښیږي — د حسینؓ په جذبه زیر به کړم شِمر نن
هغه سترګې مسیحا زما پکار دی — خپل نظر چې ورسره کړم برابر نن

چې سرونه د شاهانو په کښې ټیټ وی

هسې نه چرته د سترګو دِ ګوذار شم
لګه پرخه د دیدن شه چې ګلزار شم
د بڼو غشی دِ کوم طرفته یوړه
هسې نه چې غوڅ د وروځو په تلوار شم
چې رټې مِ د رقیب په خُله لالیه
لیونے به ګریوان څیرې تار په تار شم
سودا ګانې به د مینې په کښې اوکړم
ګډ چې ستا د مخ د زلفو په بازار شم
ژوند مِ واړه ستا په عشق کښې په داؤ کیخود
لابه کله هم ستا مینه کښې په کار شم
چې حسینؓ او کربلا ته نظر اوکړم
له ګفتاره زیات مئین زۀ په کردار شم
دا اقرار دے که انکار دے خبر نه یم
کله پوه به ستا اِنکار او په اقرار شم
د قسمت نه مَرور شمه ملګرو
چې ایسار د تورو زلفو په حِصار شم
ملګرتیا چې مسعوّده زه د حق کړم
عاقبت به د منصور غوندې په دار شم

ما چې کله ګورې په ګلونو کښې مِ ګوره
یا د مستو مستو په خیالونو کښې مِ ګوره
تل چې مِ د ویرې په ژړا باندې مشغول وی
ډیر د هغه زړونو په دردونو کښې مِ ګوره
هر هغه محفل چې مِ په ذکر باندې جوړ وی
تل داسې محفل سره ذکرونو کښې مِ ګوره
کله چې د زور ظلم دوره وی په وطن کښې
بیا د مظلومانو په آهونو کښې مِ ګوره
اخوا دیخوا ولې ځې زما موندل آسان دی
راشه خوا له راشه سوی زړونو کښې مِ ګوره
مظهر د کائناتو مِ په ذات واضحه کیږی
نمر، سپوږمۍ د زمکې مدارونو کښې مِ ګوره.
هر یو څیز زما د عجائبو مجموعه ده
راشه مسعوّده دې سو چونو کښې مِ ګوره

تل ګویا راته هر وخت په چپه خُله ئې
د خوشبو غوندې په ټول چمن خوره ئې

لکه سیوری مې دِلبره راسره ئې
فرښتې غوندې مې ناسته په اوګه ئې

ستا په مخ کښې د هر چا د مخ جلوه ده
سخ د هغو چې د چا زړه کښې پرته ئې

څوک دِ وینی څوک دِ نه وینی په چم کښې
بعضو بعضو ته رڼا په بعضو شپه ئې

ته زما د زړه او ذهن په کتاب کښې
لکه ټکے له ازل نه نوِشته ئې

کۀ څوک وائی چې څۀ نشته غلط نه دی
آئینې ته مخامخ شوې آئینه ئې

په چمن کښې د محک غوندې الوزې
په ښکلا کښې د ښکلا یوه چپه ئې

په تور تم د عاشقۍ د دې دنیا کښې
حُسنه ته مې په مزار بله ډیوه ئې

لا دِ مخ وته ماسم کتلی نه وو
چې کوځې نه مې روانه په ستنه ئې

د تندی ګونجې اوارې کړه محفل کښې
دلته ټول خلق خبر دی پښتنه ئې

فلسفیان درته همه ګوته په خُله دی
عشقه خدائ خبر چې کومه فلسفه ئې

د اُلفت په ګلستان کښې مسعوّده
د بُلبل د سرودونو یو نغمه ئې

نن دِ خوږ کړمه د زلفو په شړق داسې
لکه وُغورزیږی تندر په پړق داسې

یار مې خوا کښې د رقیب لیدو چې ناست وو
زړه مې اوچوده له غمه په تړق داسې

اختلاف دِ خیر دے وی ادب کښې یو شئ
د خټکو په ګډا چې وی پړق داسې

د دُنیا غمونو ګیر کړې مسعوّده
یو ورځ اوبه کړې شاه تیر غوندې کړق داسې

چې صفت دِ پکښې ستایم کلام دا دے — را پیرزو که دِ وصال کړو انعام دا دے
که سلام لویه دُعا ده هر بنده له — چې نصیب دِ شی جنت کښې سلام دا دے
نه په دا چې څۀ منې او څۀ نه ډاډ کړے — چې پوره د دین تابع شې اسلام دا دے
هغه رُوح چې د بدن نه پرواز اوکړی — فرښتې چې استقبال کړی اکرام دا دے
بې له دې نه هر پیغام راته عبس دے — چې مِ پښې د خوږ زړه شی پیغام دا دے
چې خپل سرور کړو حسینؓ د دین د پاره — سر لښکر د امامانو امام دا دے
هر نظام د دُنیا ډک دے له نقصانه — چې الله دے رالیږلے نظام دا دے
مرګ د کټ او بسترې څۀ خوندی نه دے — شهادت د الله لار کښې مقام دا دے
د ښکلا حال دِ په خله نه شم وئیلے — په غزل کښې دِ ستایمه ګلفام دا دے
جام د جم راته هیڅ کله پکار نه دے — که مِ ستا شونډې نصیب شولې جام دا دے

د الف او میم معنیٰ به ترینه غواړم
مسعوده که په زلفو کښې لام دا دے

که هر څو دِ زه په مینه سرفروش یم — ستا نظر کښې همیشه خانه بدوش یم
ښکلې مینه دِ په زړه کښې ساتم پټه — خوشبویۍ غوندې ګویانه هم خاموش یم
خلق خیال د لیونی راباندې کاندی — زه د یار په تنکۍ مینه کښې مدهوش یم
نصیحت راباندې څکه بې اثر دے — چې راغلے د ازله نه مے نوش یم
ستمګره چې وعده دِ وفا نه کړه — له خپل ځانه څرته تلے یم روپوش یم
سر تندے مِ څکه نه لګی په زمکه — بیلتانۀ کښې لیونے د جګر ګوش یم
دې ساقی وته لږ غږ اوکړئ ملګرو — په آباده میخانه کښې لا په هوش یم
شپه او ورځ د یار دیدن پسې لیواله — زه د یار د کوڅې خاؤرو کښې پاپوش یم

عشق د جوش نه عبارت دے مسعوده

مړاوې مړاوې د هر ګل ښکلې ځهره ده
خدائ زده کومه ورته پېښه حادثه ده

لار د زلفو چې په نیغه کښې کږه ده
نو خطا رانه ردیف او قافیه ده

کربلا ملګرو داسې واقعه ده
چې بیان په کښې د مینې فلسفه ده

په تیارو د کائناتو کښې ملګرو
دا وجود مې په مثال بله ډیوه ده

عاشقانو ورته ږیرې کړلې سپینې
خو پرده ئې لا په مخ باندې پرته ده

هر سړے په کښې خپل مخ وینی ملګرو
مخ د بل سړی هر چا ته آئینه ده

چې عزت د بُزرګانو په کښې ورک شو
خدایه پاکه دا لا څنګه زمانه ده

هر محفل وته خواږه د مینې راؤړئ
د مجنون او د لیلیٰ قیصه خوږه ده

اوس هم دار شته هم منصور شته دے ملګرو
چا وئیل چې دا د عشق قیصه زړه ده

کوهِ طور سوے په اور شو و موسیٰ ته
ښکاره کړې خدائ تعالیٰ ورته جلوه ده

منړه نه ده، ده په تېنړه مسعؔوده
خدائ لیکلې د هر چا خپله حصه ده

یمه مسعود د زړه داغونو کښې مې ګوره
یا د خوار بُلبل سوی غړونو کښې مې ګوره

خوب ئې رانه وُتختوه یار چې راته اووې
مۀ راځه محفل وته خوبونو کښې مې ګوره

کله تغافل او کله کله التفات کړه
راشه بیا د خپل غزل شعرونو کښې مې ګوره

لاړم مسعؔود غریب ملنګ شوم ستا له غمه
اوس چرته بیدیا کښې مزارونو کښې مې ګوره

بې له تا نه به جهان واړه فاني شي — دا ستا ذات دِ زما ځان لره کافي شي
هر يو حکم ته دِ زهٔ غاړه بسته يم — بدقسمتو نه به دې کښې کوتاهي شي
زما هر قدم دِ ستا په لاره سم وي — تل انکارم ستا د هر يو مناهي شي
کامراني د هغه خلقو ده جهان کښې — چې هر چا ته ئې په زړه کښې خير خواهي شي
څوک چې لاړ شي د دنيا نه راتلے نهٔ شي — که په لاس ئې سکندر غونډې شاهي شي
تقویٰ دار واړه الله ته محترم دي — که ئې کار د ګډو بيزو چرواهي شي
هسې شانې ښتنو نه ښتو لاړه — لکه لاړه د ويښتو نه چې سياهي شي
کافر کله هم ستا دوست جوړيدے نه شي — د قرآن په دې خبره ګواهي شي
چې ته دوست بولې يهود نصاریٰ واړه — نوره زياته دې نه کومه ګمراهي شي
د ايسټ انډيا کمينۍ ته فکر اوکړه — په دوستۍ کښې به دِ داسې تباهي شي
د شيطان په رحمانۍ چې غلط نه شې — که هر څو ئې ډير کارونه فلاحي شي
مسعؔوده په جنت کښې به سيل اوکړې — که خوشحاله درنه خدائ پاک الٰهي شي

توره شپه کښې رب ته ژاړه مسعؔوده
په ژړا د پټ رازونو آګاهي شي

ارمان دا چې د خدائ لاره کښې شهيد شم — چې په صف د شهيدانو کښې مِ شمار شي
عاجزۍ باندې د خدائ رضا موندے شي — کاميابي د هغو برخه چې خاکسار شي
وی نسکوره د غرور کاسه متل دے — که هر څو ئې په دنيا کښې اقتدار شي
د جنت حُورې د هغه چا نصيب دي — چې د زړه شيشه ئې پاکه له اغيار شي
بل مشال د نيک عمل په لاس کښې واخله — چې الله دِ په هر لورې مددګار شي

دغه سوال د مسعؔود په خُله مدام وی
په قيامت ئې چې شافع نبي روئېدار شي

سرۀ اورونه بعضې خلقو ته ګلزار شي
بعضو بعضو ته ګلونه هم انګار شي

عاشقي مې خدائ نصيب کښې ده ليکلې
ستا د عشق په مشغولتيا زما قرار شي

چې هميش له د بل بد د ځان صفت کړي
تف لعنت دِ په دا هسې رنګ ګفتار شي

د هستۍ له حقيقته څوک خبر دي
هم هغه جلوه د نور شي کله نار شي

چې زما خيرې ګريوان پورې خندا کړي
خدائ دِ اوکړي د ښو د غشو ښکار شي

چې د يار په شونډو سترګو ئې څوک ليکي
هر يو ګفت ئې خود پخپله غزل زار شي

اے ملګرو چې هغه پرې خوشحاليږي
سر د څو ځله زما د اشنا زار شي

چې ښکلا وينې د هرې زاويې نه
ژوند دمينې دِ په مثل د پرکار شي

چې انکار ئې د اقرار په شکل اوکړو
دا انکار به ئې پخپله يو اقرار شي

زمانه هم د هغه په لورې ګوري
مهربانه چې په چا پروردګار شي

په محفل کښې يار ته نيغ کتلے نه شم
د يار رنګ ملګرو سُور لکه انار شي

حسينيؓ قافله کله واپس کيږي
که ميدان د کربلا وته ئې لار شي

اے ډيوې ګورے لمبه چې کمه نه کړې
پتنګان چې سر شيندلو ته تيار شي

جُنون پريږده چې ګريوان کړي ځان له خيرې
چې خبرو د الفت وته اوزګار شي

د قرآن او د سُنت مشال په لاس کړه
چې ډيوه دِ پس ته بله په مزار شي

د ساقي مهرباني چې ورسره وي
هر يو څاڅکے ئې په سترګو کښې خُمار شي

دوه په دوه وي محبت په خاموشۍ کښې
اشارې د مينې کله په بازار شي

د درود شريف توخه ځان سره يؤسه
چې شافي دِ بيا د دوؤ کونو سردارؐ شي

ربه ژوند مې د حضورؐ په سُنت تير کړې
مسعوؔد چې د فردوس جنت حقدار شي

درود همیش له د بنده نبی سرورؐ ته رسی
لکه جزا به د نیکۍ چې هر بشر ته رسی

د تصوّف سلسلې واړه په دنیا کښې چې دی
په شجره کښې یو په بل پسې حیدرؓ ته رسی

چې دروازه ورته د علم د ښهر بیرته نه شی
څنګه به داسې عاشقان نبی سرورؐ ته رسی

ولې د اوښکو مِ په مخ باندې چې یو شی سره
واړه سیندونه د دې د هر سمندر ته رسی

تګے د عشق چې او چې شونډې شی رخصت له جهان
هغه به پټې سترګې نیغ حوضِ کوثر ته رسی

چې وظیفه ئې شپه او ورځې وی نامه د اشنا
که لیونے شی هم هغه د اشنا در ته رسی

ما چې د زړه پاکه شیشه کښې خپل وجود اولیدو
هره دانه زما د اوښکو نن ګوهر ته رسی

د مسلمان دې موجوده حال ته چې زیر شمه زۀ
تمامې کړیکې د زړګی مِ پاس اکبر ته رسی

لړ د مظلوم د بد دعا نه همیش ځان اوساته
دا مسعوده نیغ په نیغه د عرش سر ته رسی

چې په بده لار مِ کله کړے تړ دے
ضمیر خکلی پرې راښکلے رانه غوړ دے

هغه راسې مِ ژوندون په قلار نه شو
کله شوے چې په ما د یارۍ غړ دے

ناکردو د اشنا هسې کړم لیواله
چې هر وخت مِ په زړګی دننه زوړ دے

مسعود د یار په مینه کښې فنا کړو
که هر څو ئې په دنیا کښې عُمر لړ دے

چې اشنا رانه بیل کړې رقیب نه وې
په ژړا به مې د زړه عندلیب نه وې

د غماز په خُله به ډېر پخوا جُدا وو
که اشنا راسره خوا کښې قریب نه وې

ستا اور بل ته به هیڅ کتلی نه وو
چې پراتۀ پرې سرۀ ګلان په ترتیب نه وې

په وجود به مې د خاورو ځلې جوړ وو
کۀ دیره په کور د ښکلي طبیب نه وې

یو تیارۀ به د بدۍ وه خوره شوې
د نیکۍ که په دنیا کښې خطیب نه وې

هر انسان به بیا په بدو لارو یون کړو
که په زړه کښې ئې څۀ ډار د حسیب نه وې

عبادات به مې ناقصه وو دنیا کښې
چې الله زمونږ اسره او مجیب نه وې

د وجود غوټه به چا نه وه سپړلې
خدائ تعالیٰ ئې که پخپله نقیب نه وې

دا نظام به کله هم برقرار نه وو
کۀ ورکړې خدائ هر څیز له ترکیب نه وې

پښتو ژبه به چا نه وه پیژندلې
په دې سیمه که شاعر او ادیب نه وې

لوئ واړه به مې هر وختې تابعدار وو
که پیدا به دنیاګۍ کښې غریب نه وې

په تور تم د ګناهونو به مونږ غرق وو
که دُعا راسره مَل د حبیبؐ نه وې

څۀ مې کار څۀ مې غرض په اسلحه وو
که سایه د جنګ له ویرې مهیب نه وې

خدائ به نه وو پیغمبر ترینه اخستې
که جوړ کړې عیسایانو صلیب نه وې

کۀ انکار ئې د سجدې نه کړې نه وې
نو ابلیس به تر قیامته معیب نه وې

د رحمّان کلام به کله شیرین نه وو
چې ئې مینه د نبیؐ په نصیب نه وې

واپسی کۀ حق ته نه وې مسعّوده
اصلیت وته به هیڅوک منیب نه وې

تیاري کړه ختمې یو رڼا راوله
لکه د شمعې ځان سیزل زده کړه

ژوندانهٔ کښې تول کارونه په تقدیر شي — هسې نه چې خلق وائی په تدبیر شي
تصوّر کښې مِ د نمر په شانې ګرځي — په شعرونو د غزل کښې مِ تصویر شي
شمع بله نن زما په مزار پریږده — زلفې ولې خورَوې زړه مِ جوګیر شي
هغه خط چې د اشنا په تندی لیک دے — لویه خدایه که مِ لاسو کښې لکیر شي
د حیات په پاڼه ژوند هسې کنده دے — لکه نوم د چا په شګو کښې تحریر شي
د اُلفت په نیغه لاره باندې یون کړی — کږ لیچونو کښې د زلفو چې اسیر شي
تهٔ دِ ضبطه د اَنا بندونه جوړ کړه — په محفل کښې چې بې واکه درته زیر شي
چې دِ فکر د وصال غلبه اوکړی — ډیر فکرونه مِ زړګی ته دامنګیر شي
یو رحمٰن وو چې پښتو ژبه کښې تیر شو — هسې نه چې هر سړے دِ عالمګیر شي
چې د یار سروتکو شونډو وته ګورم — زړه مِ هسې د ماشوم غوندې شریر شي
د زړګی کچکول ئې ډک شی له مرجانو — هر سړے چې د اشنا د در فقیر شي
داسې فکر مِ نصیب کړې لویه خدایه — چې خوبونه راله رانه شی شبګیر شي
مشکلات د عشق د لارې به آسان شي — مهربانه کهٔ په حال زما قدیر شي
چې قدم د خپلواکۍ اخلم په زمکه — تورې زلفې دِ زما پښو ته زنځیر شي
عاقبت به د فنا په لاره درومی — په دنیا چې څوک بادشاه او یا وزیر شي
بُلبُلانو په چمن کښې خندا مهٔ کړئ — هسې نه دا خوشحالی درله د ویر شي
په تحریر کښې د بوډۍ د تال رنګونه — دا خیالات دی چې لیکلو له خمیر شي
په دنیا کښې د عمل بوټے زرغن که — دا خبرې په تحریر نه په تقریر شي
عجیبه نه ده ملګرو چې مِ یاد شی — په زړګی کښې د خیالاتو یو بهیر شي
غږ مِ څکه د مجنون پسې کولو — قافلې د لیونو لره چې پیر شي

خدائ تعالیٰ چې د چا مل شی مسعّوده
په دنیا او په عقبیٰ به بې نظیر شي

# حکمت

کـلـونـجـي دوا د ډیـرو بیـمـارو ده
پـرې ګـواه دی د طـب ډیـر کتـابیـات

هـم پـه دا چې پـرهیـز نیـم علاج یادیږي
بـاقـي نیـم عـلاج پـوره کـړي ادویـات

کـه وادهٔ مـړې د شـرعـې مـطابـق شي
تـریـنـه ورک بـه شي بې هـوده رسـومات

دغـه کـار مـونـږه پـخپلـه دې ګران کړې
راپیـدا مو کړه رنګ رنګ په کښې بدعات

هـر بـدعـت زمونږ په دین کښې ګمراهي ده
راشـه مـکـوه بـې دینـه تـقـریبـات

ایټـم بـم بـانـدې هیـرو د پـاکستـان شـو
قـدیـر خـان پـه دې مـد اوکـړه کـمالات

د دې دهـر د فتـنـې نـه بـه بچ نـه شې
کـه د ځـان سـاتـلـو اوکـړې اقـدامـات

پـه نیـکـۍ د مسـلـمـان ئې نظر بند کړه
شـه نـصیـب ئې د دوؤ کـونـو درجـات

د قیـامـت نـخښې دی ښې راته ښکاریږي
ظـاهـر شـوي بـعـضې بـعـضې نشـانـات

د الله کـلام خپـل ژونـد کښې عـملي کړه
هـم ئې زده کـړه تـمام قسـمـه معلومات

تـصوف کښې د ازغو په څوکو تګ دې
پـه مشـکـلـه ئې سـر کیـږي مقـامـات

دا زنځیـر د آزمـائـش کـړو نـه جوړ دې
دی هـر دم پـه هـر قـدم امتـحـانـات

په دې لاره کښې چې څوک بریالي شوي
سـر نـګـونـه ورتـه ویـنـم کـائـنـات

یـو وبـا د بـې پـردې کـارونـو زور ده
دا ښـکـاریږي د خدائ قهـر تـه دعـوات

کـوم یـو قـوم چې شي باغي د پاک الله نه
وخـت پـه وخـت بـه پرې ګذر کاندي آفات

مـنـافـق پـه زړه کـوتـه وی مسعـوّده
پـه ظـاهـر کـه د نیـکـۍ کـړي بیـانـات

مـریـضـان ګـرځـي طبیبـان نشتـه دې
دلتـه پـه یـو بـل مهـربـان نشتـه دې

هـر خـوا تـه ګـورم پـه نـظـر نـهٔ راځـي
هـم مسیـحـا او هـم لـقـمـان نشتـه دې

حُسن دار دی همه واړه کائنات
خدایه څومره ښائسته به وی ستا ذات

ستا په یاد کښې اطمینان د زړونو پروت دے
وایم تیر کړم ستا په یاد کښې ټول لمحات

د جنت د ګلزار سیل ورته آسان شی
چې عمل ئې د حبیبؐ شی هدایات

غوره دین خو پاک الله لره اسلام دے
ضابطه ده مکمله د حیات

مسلمان چې د پستۍ په لور روان دے
دا ئې پریښی د اسلافو روایات

خدایه ښکلے اتحاد د مسلم شان کړې
لکه وه چې وروروَلی د مواخات

مشوره د کامرانۍ په طرف یون کړی
بادشاهی وی بعضې بعضې روایات

هر ساده شعر همیش لره خوندی وی
کله کله پکښې خوند کړی کنایات

بُلبلان دِ چې د حُسن ثناخوان شی
ځان کښې وا چوه د ګل غوندې صفات

یو آرزو ستا د دیدار لرمه خدایه
راپیرزو کړې ربه داسې عنایات

د کفارو حکومت کښې به وخت تیر شی
د ظالم سره تیریږی نه اوقات

چرته عدل و انصاف په داسې دور کښې
چرته رابه شی نظام د مساوات

چې انصاف عدالتونو کښې خرڅیږی
د مالدار د ګناه نشته دے اثبات

خوښه ستا ده که ئې اَخلې که ئې نا خلې
ما زړګے درله راوړے دے سوغات

په توحید باندې یقین لرم ملګرو
هم تابع مِ د توحید دی نظریات

په انسان کښې عناصر واړه موجود دی
ورته وائی خُلاصه د کائنات

د زر میاشتو عبادت نه ده بهتره
شپه د قدر کښې چې اوکړې عبادات

ملائیک ډیر جبرائیلؑ سره راکوز شی
هم نازل شی په کښې ډیر ډیر انوارات

تر سحره په دې شپه سلامتی ده
کال کښې یو ځلې را درومی داسې رات

د رمضان آخرو لسو کښې موندے شی
معتکف شه چې حاصل کړې برکات

رب راضی کړه په ښهٔ شانې مسعوّده
چې پرَدې شی درته وا د سماوات

چــې مـــالک د ټول جهـــان اکبــر لــرم — څــۀ پــرواه زه بیــا د بُــش کــافــر لــرم
هیڅ غـمـونـه د شیـطـان د لغزش نکړم — چــې شــافــی د دوجهـــان ســروؒر لــرم
نیک عـمـل د پـاک الله هـر دم پکار دے — چـــې پــــه لاره د صـــراط ګـــزر لـــرم
د حبیبؐ په روئی به هر مشکل آسان شی — چـــې ئـــې لاس د شـفـقـت پـــه ســر لـرم
سپیـن رخسـار مِ د اشـنـا شمـس و قمر دے — شیـنـکـے خال پـه کښې ښکاره افسر لرم
د زړه ګـل مِ خـنـګـه اوخاندی چمن کښې — چــې خــزان غــونــدې رقیـب پــه در لـرم
د جـنــت طـمـع پـــه زړه لــرمـــه حقـــه — چـــې ســرکـــارِؐ دوجهـــان رهبـــر لـــرم
څــۀ پــکـار دی نالـَـول د داسې بــوټی — چـــې صبـــا تـــریـنـــه د ځـان ضــرر لــرم
کـه حـجـاج یـوسف یـو لـوئ ظالم یادیږی — خپـــل اشـــنـــا د زمـــانــې شِـمــر لــرم
نــه پــه زار نــه پــه قربان باندې پو هیږی — ډیـــر نـــاتـرســـه بـــې ســرپـې دلبــر لــرم
دواړه ستـرګې ئې لیندې په ما راښکلې — د بـــڼـــو غـشـــو تـــه ډال ځیـــګـــر لـــرم

کـــامیـــابـــی د رب نــــه غــواړم مسـعـّـوده
چـــې میـــزان، قبـــر، صـــراط، مـــحشـر لـــرم

نـــن زمـــا د امیـدونـو ډیـوې مـړې شـوې — چې مِ زلـفې د اشـنـا بل تـه اوړدې شوې
هغـه خلق چـې د حق سـره اشـنا شو — تـرې نـه پـاتـې د دنیـا نورې اسرې شوې
بُـلبـلانـو د چـمـن نـه کډې اوکـړې — چـې د ګـلـو او زاغـانـو یـارانې شـوې
چې ئې ننګ پـه پښتنو باندې کولو — د هـغـو خـلـقـو نـه ډکې ادیرې شـوې
د مجنون خو خپلې مینې سره کار وو — ورتـه هسـې د حالاتو سترګې سرې شوې
چــې ئــې خونــې د مظلومو ورانئولې — د هغـو خونـې همیش لره سپیرې شوې
د طاغوت سیلاب په ګړده نیَ اوخوت — د هیـواد مِ پـه کښې ډوبې کنارې شوې

و تـاریـخ بـه ئې مـعـاف نـه کـړی مسعـّوده

کـهٔ آئیـن د عـاشـقۍ پـه غم بهرپور دے
خو عـاشق ئـې قبـلـولـو تـه مجبور دے

د عشـق تـاؤ د زلیـخـې زنـدان تـه بوتلو
کـه هر څو یوسفؑ په دې کښې بې قصور دے

د بُـلبـل پـه خُـلـه ژړا بې وجې نـه ده
د ګـلـونـو پـه خندا کښې پروت سرور دے

کـه مې پیتـے د ګـنـاه پـه اوګـو بـار دے
خو پرواه مې په دې نشته خدائ غفور دے

دا خـو ابـن الـعـربـی هم ښـهٔ وئیـلـی
چې تـخلیق چرته کښې نشته دے ظهور دے

د کـعبـې د حـقیـقـت لـه حقیـقتـه
اسمـانـونـو کښې هم اوګوره چې نور دے

مـونـږ طـواف کـړو د کـعبې د دې په مینه
کـه هـر څو په اسمان جوړ بیت المعمور دے

د ګـلاب د مخ سُـرخـی څـهٔ خپله نـه ده
د بُـلبـل د زړه پـه وینـو بـانـدې سُـور دے

پـه عـلاج د طبیبـانـو بـه روغ نـه شی
دا زړګـے مې چې پـه څـهٔ بـاندې رنځور دے

دا چُـغلـی د رقیـب نـه ده نو نور څـهٔ دی
چې الـفت دِ هم په سترګو کښې کافور دے

یـوه ورځ بـه قـاصـد زیـرے رالـه راوړی
سـوال د مینې مې د یار در کښې منظور دے

ګـور کـه ګـران دے آخر مـړی لـه ناکام دے
هر سـړے بـه پـه دې لاره ځی مجبور دے

کـهٔ رقیـب مې پـه هـر دم د مـرګ بنا کـړی
خـو پـه مـا ئـې د صحت پُرسان ضرور دے

چې شـاکـر د پـاک الله نـه پـه هر حال وی
دې دنیا کښې چې صوفی دے نو مشکور دے

داسې ښـکـاری چې مې ځان په کښې لمبه شی
چې سرې شـونـډې د اشنا راتـه تنور دے

لاشـعـور کښـې مې داخـل دے مسـعـوّده
کــه هـر څـو مې اشـنـا دلتـه بـاشعُور دے

چـې پـه خـُلـه کښـې نـرم خـوږ لـرې ژبـان
هـمـیشـه د خـدائ پـه ذکـر وی ګـویـان

ورسـره د بـنـده زړه ډېـر طـاقـتـور شـی
هم مـضبـوط ئـې شـی بېشـانـه پـرې ایمان

سر مې ښکته خپل مولا ته په سجود دے
چې خالق د کائنات دے هم معبود دے

بې له خدایه چې امید کړی له بُتانو
دغه خلق جهنم لره وقود دے

چې فرمان ئې د مولا نۀ دے منلے
تباه شوے قوم د عاد او د ثمود دے

چې مو لاره د اغیارو اختیار کړې
راخور شوے په ذهنونو مو جمود دے

چې د عشق سختې زغملې په دنیا دی
هر مطلوب ئې رسیدلے تر مقصود دے

خدائ قرآن کښې مسلمان ته ښکاره وائی
دوست به نکړې په هر ځائ کښې چې یهود دے

مقامات د پاک نبیؐ واړه ښائسته دی
خو بهتر په دغه ټولو کښې محمود دے

آوازونه ډیر خواږه شته دې دنیا کښې
چې په خوږ آواز یاد شوے وو داؤدؑ دے

په مجذوب حالت د هیچا غلط نه شي
دا مجذوب د خدائ په مینه کښې مفقود دے

چې انکار ئې د الله له حکمه اوکړو
شیطان هغه چې مردود شولو مردود دے

مسلمان چې دے ویزاره د یو بل نه
شرارت څۀ د شیطان څۀ د هنود دے

کۀ ډیر څۀ ئې جمع کړی وی دنیا کښې
چې تقویٰ ورسره نشته دے نابود دے

چې منشا ترینه د حق په ډاګه کیږی
په هر څۀ کښې حق تعالیٰ ایښے ګمود دے

بې له خدایه بل څۀ نشته دے ملګرو
دا چې څۀ دی دا همه واړه وجود دے

مکتوبات چې د امام ربّانی دی
ذکر فکر ئې د وحدت الوجود دے

په ظاهره به د زهرو ګوټ هم تیر کړو
په کښې پټ زمونږ او ستاسو که بهبود دے

چې د خدائ او د رسول په لاره نه وی
د دنیا علم کۀ ډیر دے خو محدود دے

که کمے د تغزل مې شته غزل کښې
په معنیٰ او په مفهوم کښې دا سُعود دے

دیـنداری چې خورَوؤمه په ادب کښې
هر کلام مې مبارک او مسعؔود دے

هر خوا ګورمه ورمې د پسرلی دی
د بلبل په خُله نغمې د پسرلی دی

زره شیشه ده کائنات په کښې لیدے شی
په خلوص مې ورځې شپې د پسرلی دی

مواخات که مسلمان قوم عملی کړی
د نبیِ دِ بیا رشتې د پسرلی دی

د نبیؐ اخلاق چې خپل کړې زما وروره
په سُنتو کښې مزې د پسرلی دی

بې سختۍ نه راحت نه دے چا موندلے
په ازغو ګیرې غونچې د پسرلی دی

د مـّراد په غزلونو معطّر شوم
د زاهـّد هم قافیې د پسرلی دی

سور رخسار ئې په مسکا کښې داسې ښکاری
په ګلونو شونډې سرې د پسرلی دی

زمکې واړه شوې په شین لباس کښې پټې
که میوې که ادیرې د پسرلی دی

د الحاد تیارې که هر خوا ته خورې شی
اسلامی سوچ مې ډیوې د پسرلی دی

په سپرلی کښې هم سپرلی رانه خفه دی
معلومیږی دا ښیرې د پسرلی دی

موده پسته مې اشنا تپوس له راغے
ځکه اوښکې مې شیبې د پسرلی دی

پښتنه جرګه د امن یو نوید دے
نوے سوچ نوې نعرې د پسرلی دی

هم د قام د خوشحالۍ فکرونه کاندی
هم ئې راؤړې فیصلې د پسرلی دی

په فنا کښې چې فنا شی بقا مومی
دا عاشق له واقعې د پسرلی دی

د ازغی او ګل د دواړو نه ځاریږه
چې ئې خپلو کښې رشتې د پسرلی دی

په شفق هم ستا د شونډو رنګ وریږی
ستا د ښکلی مخ جلوې د پسرلی دی

څو ګلونه مې د فکر یار له ورکړۀ
مسعـّوده نظارې د پسرلی دی

چې د تیارو نه خلق را اوکاږی رڼا پلۆ ته
داسې رڼا لکه د شمعې په هر آن راوله

چې راضي پروردګار شي نوید دا دے | تابعدار چې د روئیدارؐ شي سعید دا دے
د مطلب سجدې هیڅکله نه قبلیږی | په اخلاص چې څوک سجده کړی سجید دا دے
خدائ اسلام ته غوره دین قرآن کښې وائی | باقي ټول په دې منسوخ شو تردید دا دے
آذری بُتان چې پښو لاندې پائیمال کړی | یو یقین په واحد ذات کړی توحید دا دے
چې بلالؓ ئې د ظالم د ظُلمه خلاص کړو | ډیر شانداره عالیشانه خرید دا دے
تورې سترګې سپین رخسار صراحی غاړه | شینکے خال په کښې ښکاریږی فَرید دا دے
چې ټول عمر د آقا په رضا تلۀ کړی | ماته ښکاری چې هم غوره مُرید دا دے
چې مقصد دِ دَ الله راضي کول وی | پیروی د رسولؐ اوکړه تقلید دا دے
کۀ لحد کښې ستا د مینې تپوس اوشی | د زړه داغ به ورته ښایم رسید دا دے
عاشقی چې په کردار شي مجنون ګوره | یو کردار د کردارونو کلید دا دے
هم حبیب نجار د خدائ عشق کښې شهید شو | ښۀ مثال د دین د لارې فقید دا دے
په بې ځایه تنقید زړونه ازاریږی | چې اصلاح د پاره اوشي تنقید دا دے

چې له مخه ئې خدائ ټول جهان پیدا کړو
مسعوده زما ځان او ورید دا دے

چې په سر کښې دِ خپل سر بائیلی مَل دا دے | روڼ سحر هم ښکلے زیرے د کل دا دے
دا یقین دے چې سالم به پکښے اوسے | که هر څو د نهنګانو ځنګل دا دے
په درګاه کښې ورته تل په زړا سر شه | هم تندی له د سجدو دِ دُرشل دا دے
چې د یار په یاری غر هسې ولاړ وی | راز و نیاز او یارانه کښې اول دا دے

چې د رب په عبادت کښې تل مشغول وی
مسعوده په دنیا مکمل دا دے

چې ستا په حُسن مې نظر اولګی — لکه چې تګے په کوثر اولګی
قدوقامت ته دې چې اوګورمه — پورته په عرش مې تصوّر اولګی
ستا په دیدار هسې تازه شم اشنا — لکه تیارو پسې سحر اولګی
کړه د اشنا د خط و خال خبرې — که مې په فکر کښې اثر اولګی
په بدو سترګو د بل باغ ته ګورې — چینجے به ستا هم په ثمر اولګی
پښتون غزله چې تعریف دې کوم — د خیال نظر مې په خیبر اولګی
سوی ګلشن وته چې راشې اشنا — په ونو بوټو باندې نمر اولګی
د بڼو غشی دې بې واکه دی نن — څوک پرې دننه څوک بهر اولګی
نن دې په لاس کښې کاڼی بیا وینمه — دریغه زما وربانديې سر اولګی
ماته چې اوګوری مُسکے غوندې شی — هسې مې پهې په پرهر اولګی

څنګه به ګټه مسعوده اوکړې
چې درپسې یو میر جعفر اولګی

چې د خدائ په مینه مست دی متقین دی — بې له دې نه همه واړه غافلین دی
چې ئې دین د دې دنیا بدله کښې پریخو — دغه خلق په معنیٰ کښې هالکین دی
په هر دم ئې چې د رب رضا مقصود وی — پرهیز ګاره دی بې شکه صالحین دی
د هر قسمه انسان قدر ډیر پکار دے — دا سنت مو د شفیع المذنبین دی
په نیکو باندې ختمیږی ګناهونه — فرمائیلی زمونږ رب العالمین دی
هغه څوک چې عاشقان د پاک نبیؐ دی — په دنیا کښې تل یاد شوی صادقین دی
هغه زړونه چې د خدائ په یاد تازه دی — د چمن ګلو کښې یاد په ذاکرین دی
نیک و بد دې په هر وختې ریکارډ کیږی — هر بنده له خدائ ورکړی کاتبین دی
عبادت د خدائ بې شکه چې ګران کار دے — مګر هغو ته آسان چې خاشعین دی
د بلبل د سوز نعرې په غوږو اؤرم — په څوانۍ جوړې راغلی ګل ورین دی

په هر کار کښې چې د خدائ له قهره خوف کړی

په تصوّر کښې چې دلبر راغے — لکه په وریځو کښې قمر راغے
یوه رڼا په ټول جهان خوره شوه — چې په دنیا خیر البشر راغے
دا مجازي بُتان ذرې ذرې شو — د حقیقت چې پیامبر راغے
چې د یوسفؑ زیرے یعقوبؑ ته اوشو — هلته د سترګو ئې نظر راغے
یمه خوشحال د صوفیت په لاره — چې مې رهبر علي حیدرؓ راغے
چې ئې سینه د اخلاص ډکه راکړه — یخ مې زړګی کښې سمندر راغے
واړه د یو چمن ګلان یو مونږه — پښتون د لَر او کۀ د بَر راغے
زلفې ئې تار په تار په مخ شوې خورې — غرمه شوه تته ماځیګر راغے
ما دې تابیا کړله د تورو زلفو — ستا د بڼو وروځو لښکر راغے
جوړې په میو کښې نشه نشته دے — زړه میکدې نه کوروکَر راغے
زیر د خالونه وو په زنه اشنا — په الف مخ د وروځو زوَر راغے
زۀ ئې له خپله ځانه ورک کړمه نن — زړه ته د چا مې تصوّر راغے
تا به نن زلفې خورې کړې نه وی — خیال کښې دِ مخ چې بختور راغے
ما په لحد کښې د تیارو نه ژړل — چې په خندا خندا دلبر راغے
چې ئې په مخه کړې تیارې د جهان — څوک دې دنیا ته منوّر راغے
چې د رحمان بابا په پل ئې ووئیل — محفل ته هغه سخن ور راغے
جوړې محفل کښې ورته یاد کړمه چا — خیال ئې چې ماله برابر راغے
خوره جهان کښې شوه رڼا د توحید — بُتان نسکور شو چې سرورؐ راغے
بیا هم د زړه علاج مشکل دے زما — بو علي سینا کۀ ئې ډاکټر راغے

نن مسعودؔ ته چې اشنا اوخندل
لکه روژې پسې اختر راغے

کۀ ملګرو ته مِ ښکاری چې مدهوش یم
محبت کښې د دریاب غوندې خاموش یم

پیرزوینه دِ ساقی رابانـدې نه وه
په شرابو دِ څۀ اوکړه چې په هوش یم

دائره کښې د نقطې غوندې ګرځیږم
ستا په زلفو داسې زه حلقه بګوش یم

ستا د حُسن د جادو له برکته
در په در در پسې زه خانه بدوش یم

په نظر د خمارو سترګو نشه یم
نه په هوش یمه ملګرو نه په جوش یم

لړ د سرو شونډو ملهم ورباندې کیږده
په نوکارو د بیلتون خروش خروش یم

د دنیا جاه و جلال نه بې نیازه
د شاهانو په محفل کښې خرقه پوش یم

تصوف رابانـدې هسې کانې اوکړې
چې مے نوش یمه هم زه هم مے فروش یم

چې خبرې د پښتو او د پښتون کړی
د هغو سره ملګرے دوش بدوش یم

شمشتیِ د تخیّل مِ ده مره شوې
په سُخن کښې زه په مثل د خرګوش یم

د هر چا ترخ کښې بُتان دی مسعوّده
دا سبب دے چې له خلقو فراموش یم

زۀ به څۀ په ژوندانۀ شمه خیرازه
چې اشنا مِ پرده اخوا کړی له رازه

په هر موړ کښې د ابلیس مقابله کړم
صدق خپل مِ بچ کوی له دې غمازه

اشنائی د هغه خلقو وی کامیابه
چې سینه ساتی یو بل وته درازه

ناسازی د هغه چا په نصیب ښائی
چې نظر ساتی هر چا وته ناسازه

چې شیطان پرې تر قیامته لعنتی شو
ځان دِ بچ کړه له دې هسې رنګ اندازه

چې څۀ وائی تول په ځان ئې عملی کړه
چې لائق د خزانو دِ کړی بې نیازه

که په صوتِ سرمدی پوهیدل غوارې
سالکان واړه خبر دی له دې رازه

بد نیتی دِ کۀ جامه شوه مسعوّده
ځان به اوکاږې له هر قسمه پروازه

عدل ځان له وظیفه کړه مسعوّده

نن مې د ورایه چې په سترګو خپل دلبر اولیدو
د هجرانه په توره شپه کښې مې قمر اولیدو

په دې لوګی لوګی ماحول کښې ستا دَ امن چغه
د عنائرو په ګرداب کښې مې ګوهر اولیدو

څه به دِ ستایمه دلبره شونډې سرې او رخسار
ما خوشین خال په زنخدان د قلندر اولیدو

د عشق تاؤ مې هغه وختې داسې تهم غوندې شو
چې په سُور اور کښې مې خوشحاله سمندر اولیدو

چې د مودو نه ئې په طمع د دیدار وومه زه
نن مې د زړه په سترګو بیا هغه بشر اولیدو

څوک له دیواله پورې غاړه هم کتلے نه شی
ما د احساس په توجه کښې بحر و بر اولیدو

ناممکنات هم شو ممکن راته د یار له مخه
ما د کیکر په شنډه ونه کښې ثمر اولیدو

زما د زړه او د نظر روژه ئې ماته کړله
بغیر د میاشتې د کتو نه مې اختر اولیدو

هر یو مشکل دِ اسانیږی په اخلاص که اووے
ما د نبیؐ ښکلی درود کښې دا اثر اولیدو

ډیره ښائسته خو بې وفا ده هیچا خپله نه کړه
بیا هم په مینه ئې ما هر نفس اوتر اولیدو

زه مسعؔود به ترې په لپو لپو اوغواړمه
که د سرورؐ په لاس کښې جام مې د کوثر اولیدو

یو رټل مَ د یار مینه کښې انعام شو
بل مِ نوم په تهولو خلقو کښې بدنام شو

عاشقان کله په عشق کښې ناکام نه وی
عاشقان چې څوک ناکام بولی ناکام شو

په دیدار د پاک نبیؐ چې مشرف شی
په نیمګړې دنیاګۍ باندې ګلفام شو

عاقبت به زه د میم په طلب ګرځم
چې په مخ مِ د یار زلفې الف لام شو

یو فریب د انګریزانو ګاندهی بیل کړو
چې تحریک د خلافت ئې پرې ناکام شو

سر مِ لاړو مال مِ لاړو هر څۀ لاړه
ستا په مینه مِ دلبره دا انجام شو

خورؤل د دین په مونږ باندې لازم شو
نبوّت چې محمدؐ باندې تمام شو

هر کلام به دې د خلقو زړه کښې ځائ شی
که کلام دِ په اخلاص باندې کلام شو

د رښتیا مینې اخلاص ته نظر اوکړه
چې محمود غلام په مینه د غلام شو

فضیلت په نورو شپو د معراج ډیر دے
چې رسولؐ مِ د نبیانو جوړ امام شو

ساقی څۀ کوم پیاله ستا د شرابو
چې نصیب مِ د اشنا د شونډو جام شو

زه د ژوند د صباؤن په طمع ناست ووم
تا چې زلفې راخورې کړلې ماښام شو

ماوې زه به دې رخسار په شونډو ښکل کړم
چې نصیب مِ ستا د تورو زلفو دام شو

چې شراب مِ ستا د شونډو په جام نوش کړه
هله پسته مِ زړګے لږ په آرام شو

ماوې زه به د طبیب په دارو روغ شم
زما عشق کښې جوړې دا مرض مدام شو

منافق د خدائ دشمن دے مسعوده
که څادر د پیغمبرؐ ورته انعام شو

---

ما په چشمو دے لیدلے دا حدیث
هم له ډیرو اوریدلے دا حدیث

بې د مرګه چې د هر مرض دوا ده
کلوَنجې کښې هر انسان لره شِفا ده

چې عاشق وی تکلیفونه خو زغمی به
خپله مینه ځۀ تاثر خو ورکوی به

چې دعوه د آدمیت کړی دا ثبوت دے
د اسلام په احکاماتو باندې ځی به

دا چې زه لاس په نامه ورته ولاړ یم
لاس د مینې خو ملګرو راکوی به

چې طوفان د محبت راپسې راغلو
دیوالونه د زړګی مِ نړوی به

لاس نیوې ئې چې د نیک سړی وی کړې
نو رښتیا خبرې هر ځائ کښې کوی به

چې ئې زه په تورو زلفو کښې بندی کړم
په کمځو کښې لیونی بلا تړی به

هوښیاران کۀ چرته مخکښې مخکښې یُون که
د فضول خلقو بلا خبری وړی به

چې رسی د شریعت وی چا نیولې
کوزولے شی د ستورو نه غمی به

چې د نیکو له صحبت نه ډډه کاندی
دغه خلق خوروی تل ګمراهی به

په لنډۍ کښې کۀ غزل دے د مراد دے
هم موندے شی په کښې خٰال او رنګینی به

چې زما د زړګی کلے ئې تاراج کړو
داسې ډیر ځلمی هم نور بربادوی به

چې ملګری ئې رومّی په خطاب بولی
مسعّود غوندې شعرونه جوړوی به

لکه چې مینه ئې په زړه کښې نه وه
ځکه مزه ئې په راتلۀ کښې نه وه

اشنا زما جوړ لیونے غوندې شو
اوښکه مِ ځکه په لیمۀ کښې نه وه

دا به لمسون وی د رقیب ملګرو
پخوا خو دا خبره ده کښې نه وه

چې ئې جلوه په چا پیر چل خوره شوه
درته به څۀ وایم چې څۀ کښې نه وه

د سحر مونځ ئې چې قضا کړو رانه
مزه ئې هیڅ په نمر خاتۀ کښې نه وه

ترینه رنګونه اوښکو اوبَیوَل
سُرخی مِ ځکه په لیمۀ کښې نه وه

راته ئې ووئیل چې وایه کنه
خبره یو زما په خُله کښې نه وه

د مسعّود نصیب خراب کۀ نه وے

چې مې خیال د یار له فکره سره سم شی — په خزان کښې پسرلی غوندې موسم شی
وابه نۀ ورم ستا د مینې دا قسم دے — که مې سر له تنه دې باندې قلم شی
چې اشنا زه د رقیب په خوا کښې وینم — هغه وختې زما ځان باندې ماتم شی
ستا د سرو شونډو له جامه به ئې زار کړم — که هر څو راته تحفه کښې جام د جم شی
یو لحظه دیدن دې ما لره کافی دے — چې زما د زړه پرهر لره مرهم شی
چې ستا یاد مې د زړګی خونې ته راشی — لکه شپه کښې چې رڼا د صبحدم شی
چې په فکر د پښتو ناوې ښائسته کړم — زما فکر به جهان کښې محترم شی
غلط وائی چې عاشق سړے بې غم وی — څوک به څنګه د یار مینه کښې بې غم شی
د خپل رب نه مې همیش دغه آرزو وی — چې هر پَل باندې مې پَل د مکرمؐ شی
هر فریاد به دِ دَ خدائ په در قبول وی — چې په لاس دِ دَ اخلاص ښکلے عَلَم شی

دا احساس تنده به هله مې شی ماته
چې پښتون په پښتونخوا کښې خوش خرم شی

یار نه طمع د سلام کړم سلام کوم دے — په اخلاص د زړه په مینه کلام کوم دے
د جنت په غم کښې څنګه ګرفتار یو — د تقویٰ زمونږ په زړه کښې مقام کوم دے
چې ئې لار د خوږ نبیؐ ده خپله کړې — هغه ټول عمر کامیاب دی ناکام کوم دے
د یار عشق کښې لیونے د بیابان شوم — معلو میږی نه د مینې انجام کوم دے
په رندو سترګو مې نیت کړے ولاړ یم — خدائ خبر شه چې د مینې امام کوم دے
هر طرفته ګلستان کښې اوتر ګورم — چې زما د یار په شان ګل اندام کوم دے
دا چې زه نن لیونے وریسې ګرځم — زما زړه په دې چمن کښې ګلفام کوم دے
تا چې زلفې د مخ لرې کړې دلبره — ټول جهان رڼا رڼا شو ماخام کوم دے

هسې بې وجې د خدائ نه ګیله من یو

چې د یار له مخه چا باندې ماتم شي — څنګه اوچ به ئې دواړو سترګو نم شي

چې شروع ئې د حابيل قتل نه اوکړه — تر قيامته به قابيل ورباندې ګرم شي

دومره پيټے د الفت راباندې مړده — هسې نه چې په ځوانۍ کښې مې ملا خم شي

ستا د زلفو مارخوړلے به روغ نه شي — که د کلي مولايانو باندې دم شي

د ښکلا باغ ئې خيرازه شي ملګرو — چې د وروځو په لور زړه قلم شي

که خيالونه د دُنيا راباندې راشي — خيال د مينې دِ په ټولو مقدم شي

لاس د مينې دِ اشنا ورباندې کيږده — لږ دردونه به زما د زړګي تهم شي

چې مصحف د يار د روئی چې کله لولم — مخ ئې مالره کعبه سترګې حرم شي

طبيبان ئې د علاج ځيني عاجز شي — چې په رنځ د محبت باندې کړم شي

چې آدمؑ ئې له جنته رابهر کړو — اوس پرې څۀ که جهان ټول غنم شي

لکه ګل به د يار مخ په کښې تازه وي
مسعوّده چې ستا اوښکې پرې شبنم شي

په ياد کښې مې چې ستا د مخ رنګونه څليدل — زما د سوی زړه واړه داغونه څليدل

تتې رڼاګانې هم تياره تياره ماحول شو — خيال کښې مې د خلقو ټول نيتونه څليدل

زه ئې په وفا په محبت چې غوليدمه — ټول په حقيقت کښې سرابونه څليدل

چې اومِ کړه د حُسن تجزيه د کائناتو — هر ځائ کښې ستا د حُسن انوارونه څليدل

وژلے چا مئين خو مسعوّده پرون نه وو
بيګاه چې مقبره کښې چراغونه څليدل

خدائ دِ ما غوندې ځوک نه کړي په عذاب — چې زړګے ئې شي د عشق په اور کباب
کــه زه نــه وے اشنا ستا د دیدن تګے — زه بــه ولــې غــولیــدمــه پــه سـراب
د رباب هسې پــه نشــه سینه پرورت یم — ټـنګوی مِ یـار بــې وختــه پــه مضراب
څـهٔ پـروا ئــې فــقیـران کــوی مـلګـرو — کـه ځـوک خان شی که سلطان شی کهٔ نواب
سـکـنـدر غـونـدې بـه ځی خالی لاسونه — کــه ئــې ډیــر وی پــه دنیـا مـال و اسباب
هغـه وخت کښې دِ قدرت راته عیان شی — چــې زه لــولـمــه ستـــا ټکی د کتــاب
پـــه درنـو خبـرو خـلق درانـهٔ ښـکـاری — بـد ښـکـاریږی چې ځوک وائی بد القاب
مشـران پـرې هـمیشـــه واړه بـدنـام وی — چې په کـور کښـې شی پیدا خانه خراب
پـه تـور رنګ اصلیت کـلـه نه بدلیږی — تــورَوې بــه تــر څــو ږیره پــه خضــاب
پـــه غـرور پـــه زمکـــه مـړده قـدمـونـه — ستـــا وجــود دے پیـدا شـوے لـــه تُـراب
بې د خدائ لـه فضلـه کلـه جنت نشتـه — کــامیــابـی ده ډیــره ګـرانــه پـــه حساب
د قیـــامــت پـــه لــویــه ورځ ربــه مدد شې — چــې پــه ښــی لاس د عـمل راکړی کتـاب
ځــوانــی ټـولــه ناپوهــۍ کښـې رانـه لاړه — پــه پیــریۍ کــارونــه نــه شی د شبـاب
د دروغـــو مـــزے لـــنډ وی دا متــل دے — لـعنت وائی خـدائ پــه هر قسمـه کذاب
پـه خـالـی لاسونو ځې د جنګ میدان ته — څنګه شې به په دې جنګ کښې فتحیاب
پـتـنـګـان همیش پـه شمع باندې سوزی — وُبـــه نــهٔ ویــنــې د دې خـوا کښـې زُباب
کــائـنــات ئــې چــې لـه مخـه پیدا شوی — ده خـــوره ئـــې پـــرې رڼــا لـکـــه آفتــاب
ربـه ستـا شـان تـرې واضحـه معلومیږی — چـــې د زړه پـــه سـتـرګـو اوګـورم ګـلاب
پـه هـر کـور کښې چې د چا مشران ډیر شی — بیـا ئـې ګـوره لـوئ واړه ټـول پـه عــذاب
پـه هیڅ شان ئې په قانون باندې پوهه نه شوم — کـــه مِ ختـم کــړه د عشـق واړه ابـواب
کائنـات بـه هـمـه واړه پـرې سوخته شی — کـــه د لـــرې کـــړه د مـخ واړه نـقـــاب
هـم اسـلام او په پښتو کښې مونږ وئیلی — درجـــــه ده ډیـــره لـویـــه د حـجـــاب

دې جهــان کښــې چــې څـهٔ کـار کړې مسعّوده
مــدد غـــواړه د رحـمـٰن رحیـم تــواب

د ځـــان پـــه پیــژنـدلـو کښـې سُبـحـان لټـوم
اے ربــــه کـــائـنـــاتـــو کښــې دِ شـــان لټـوم

دا روح او زړه او ځان خو په معنیٰ کښې سره یو دي
پـــه کـوم دلیـل هــر یـولـــه خپـل درمـــان لټوم

په ټولو کائناتو کښې هم ستا حسن ښکاره دے
سپـــوږمی دہ کـــه د ستـــورو کهـکشـــان لټـوم

آدمیـــت لـــره رحـمــت دے پــه عـــالـم کښـې
مــحســـن د هـــر انســـان هـغـــه انسـان لټـوم

د نمر نـه هم ځلانـده پـه کښې مخ د جانان وینم
زه کـلـــه چـــې تـــور تـکـــی د قـــرآن لټـوم

چـمـن چې مِ د زړه هـم پـه خوشبو باندې ودان کړی
زه ګـــورمـــــه یـــو داســـې څـــو ګـــلان لټـوم

دروغ مـنــافـقــت کـلـه زمـونـږ سـره خـائـیـږي
پـــه زړه او خُـلـــه چـــې یـو وی صــادقـان لټـوم

هـم دغــه انـدیښـنـو دِ زما عـمـر پـه عـذاب کـړو
ستـــا زلـفـو کښــې زړګـے چـې پـریشـان لټـوم

د ژبــې پــه سـر ډیـرو دلتــه کـړې هـم دعـوې دی
وعـــدې چـــې وفـــا کـــانـدی مسـلـمـان لټـوم

دیوال د غتهو تیګو چې په وړاندې د غاصب وی
سرتیری پښتونخوا کښې دا ځوانان لټوم

خال د زنخدانته رسیدل ئې اسان نه وی
په ګران پسې روان یمه اسان لټوم

تاریخ زمونږه ډک د غیرتیانو میړنو دے
د ننګ په شمع سوی پتنګان لټوم

یو نه دی چې ئې تاسو ته په ګوته کړو ملګرو
لاسونو کښې د چا به خپل ګریوان لټوم

نفرت نه مِ نفرت دے مسعوّده په دنیا کښې
د مینې او محبت چرته کاروان لټوم

دلبره ستا هره ادا ښکلې ده
په سر د شونډو دِ مُسکا ښکلې ده

سپرلیه راغلې په چمن مِ د یار
ځکه دَ ګل هسې خندا ښکلې ده

داسې نظر کښې راته ښکلې ښکاری
لکه مجنون وته لیلیٰ ښکلې ده

فانی بازار کښې د فانی به څۀ وی
هسې دې بعضو ته دنیا ښکلې ده

ټول کائنات دی ستا په حُسن ښائسته
هره ښکلا کښې دِ ښکلا ښکلې ده

چې څومره ژاړم دومره تا یادوم
ما ته دِ هره یو ادا ښکلې ده

چې ده لازمه روستو هر مانځه نه
خوښه مِ هره یو دُعا ښکلې ده

په هر بیان د خدائ رضا لټوم
ځکه مِ هره یو وینا ښکلې ده

هره خبره ئې منمه ځکه
هره ادا مِ د اشنا ښکلې ده

دا زه چې ژاړم پسې ګرم نه یمه
اے مسعوّده په رښتیا ښکلې ده

غم مِ دائمی دے ثوک به څۀ یاد کړم  فکر مِ زخمی دے ثوک به څۀ یاد کړم
عشق مِ د چا یاد وته کۀ نۀ پرېږدی  دا خو ازلی دے ثوک به څۀ یاد کړم
زه کۀ څو مئین په جلالی یمه  ماته جمالی دے ثوک به څۀ یاد کړم
تۀ که هم څۀ وائې شیخه ښۀ وائې  هغه چې راضی دے ثوک به څۀ یاد کړم
زه دې خپل زړګی ته کتے نشمه  تهول په اور ستی دے ثوک به څۀ یاد کړم
خیال ئې د کعبې رانه هیر کړے دے  درد مِ اولسی دے ثوک به څۀ یاد کړم
ثومره چې جلوې مِ تصور کښې دی  دومره دے خفی دے ثوک به څۀ یاد کړم
څنګه به څۀ طمع زه د چا کوم  خدائ مِ چې غنی دے ثوک به څۀ یاد کړم
بیا ئې راخندلی دی د ګل غوندې  وخت د پسرلی دے ثوک به څۀ یاد کړم
زه هم د دې دور پیداوار یمه  دور د دورنګی دے ثوک به څۀ یاد کړم
نۀ څم میکدے ته مسعوده زه
زړه کښې مِ ساقی دے ثوک به څۀ یاد کړم

زمکه چې ګرمه شی سیلۍ راځی  تل په زړا پسې سلګۍ راځی
د زړه روغتون مِ دے هغو د پاره  ثوک چې زخمی په عاشقۍ راځی
عاشق ته یو د غماز پېښه نه وی  ډیرې غیبی غیبی ګولۍ راځی
سپرلے همیش وی د ګودر په خوا کښې  څکه خو هر قسم مرغۍ راځی
داسې ماحول د سرکاری دفتر دے  چاله روپۍ چاله ډالۍ راځی
د دې خالی بازار ماحول ته ګوره  د چا خارګاه د چا ډولۍ راځی
د چا نصیب کښې تهول ازغی ازغی وی  چاله د سرو ګلو جولۍ راځی
ثوک ئې دیدن پسې ژړېږی مدام  چاله په تشه یو شپیلۍ راځی
ګلستان ولې به ښائسته پرې نه وی  ورله بلبلې د سیالۍ راځی
د مسعود نه مِ ګیله نشته دے

د دې وختونو تاریکو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه
د چا پیر چل دې اندیښنو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

ډیرې مودې نه استحصال د پښتنو روان دے
د ابدالی دغې بچو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

د فحاشۍ تیارې خورې دی په دې ملک دننه
دغې طوفان د فحاشو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

هر خوا یلغار د مسلمان په پاکه زمکه دے نن
دې ژړاګانو اسویلو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

څکه ناکام یو چې سنت مو د نبیؐ پریښی دی
زمونږ د ژوند دې ناکامو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

ښکلی قرآن کښې چې څلیږی ټول د ژوند علمونه
افسوس چې دغو فلسفو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

ذهنونه واړه آلوده زړونه هوا نه کوی
د دې ماحول تورو لوګو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

مونږ د دنیا په رنګینو باندې یُو داسې مئین
د دې څو ورځو رنګینو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

مونږ د صحرا نه ګیله مند یو هم په دې خبره
چې نن صبا دې لیونو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

سپرلی زمونږ نه دی خفه مونږ د سپرلو نه خفه
دغې خفګان د پسرلو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

اے مسعّوده دے فانی دنیا کښې ټول فانی یو
د دی فانے فنا کیدو ته چا د فکر ډیوه بله نه کړه

چې په ما د عشق لارې تنګوي
عاقبت مې خړ سیلاب ته دنګوي

چې عاشق نه مال و زر په عشق کښې غواړي
لکه جنګ کښې چې اسونه سربوي

عاقبت به مې د ژوند رڼا تیاره شي
د بورا چې ځان په هر ګل بنګوي

یو اشنا سړی له بس دے په دنیا کښې
نه چې هر لوښے بې ځایه ټنګوي

ګناهګار به له سزا ځیني بچ نه شي
که هر څو ئې په زمزمو لمبوي

ستا کالۀ به هم خالي نه شي له ویره
ته چې داسې سنداګان په جنګوي

نادانان د عشق د لارې خبر نه وي
که د عشق جرس ئې غوږ کښې کړنګوي

د زړه کور مې درله در کړلو صنمه
ته ئې ولې بې تپوسه ړنګوي

په خپل حال لږ مسعود په قلار پریږده
په عارضي ژوندون ئې څۀ له تنګوي

---

راشه اوګوره انجام زما د زړه
چې خبر شې په ناکام زما د زړه

لیونے د یار د مینې خیر له راشي
استحصال وي په هر ګام زما د زړه

که معلوم شي درجې ورته د زړونو
یار به تل وي بیا غلام زما د زړه

که ئې خدائ د ځان په ذکر رابلد کړي
دا به وي خدائیګو انعام زما د زړه

د کعبې نه درجه کښې اوچت یاد دے
چې معلوم کړو چا مقام زما د زړه

که مسکن مې خوږ زړګے د الله جوړ شي
پاس په عرش به شي کلام زما د زړه

مسعوده چې په ښۀ لفظونو یاد شې
بس هم دغه دے پیغام زما د زړه

په دنیا کښې د شیطان نه ځان ساته
منافق غوندې انسان نه ځان ساته

چې ئې رنګ لکه د ګل وی خوند د پیازو
لباسی داسې جانان نه ځان ساته

په خوله خوږ او په زړه کوږ چې در سره وی
د دې هسې خوږ زبان نه ځان ساته

چې د لاس په ځائ لستوڼے درله درکړی
دهوکه باز غوندې خپلوان نه ځان ساته

چې نظر باندې ئې کاڼی ټکره کیږی
د مجذوب سترګو کمان نه ځان ساته

په میدان دِ چې یوازې جنګ کښې پریږدی
بیا د داسې میر کاروان نه ځان ساته

چې د ګل په ځائ اغزی دِ په نصیب شی
د دې هسې ګلستان نه ځان ساته

خیرې نه درومی خطا د مظلومانو
د مظلوم آه فغان نه ځان ساته

چې په تا په کښې د اور بځری اوری
د دې هسې بوستان نه ځان ساته

د نیکۍ ډیوه دِ بله ساته لاس کښې
طوفانونو د دوران نه ځان ساته

چې صبا ترې د پهانسۍ رسۍ جوړیږی
نو بیا هسې رنګ زلفان نه ځان ساته

ګناه مکوه کۀ لږه وی کۀ ډیره
د ګناه هر یو طوفان نه ځان ساته

چې فائده په کښې د دین نۀ د دُنیا وی
د فضول هسې بیان نه ځان ساته

بدنامی توره بلا ده مسعوّده
بدنامۍ کښې د هر شان نه ځان ساته

کۀ اشنا را ته نزدې لکه شه رګ دے
داسې ښکاری د رقیب په لمسه برګ دے

چې یار ستا په غیږ کښې پروت وی بل ته خاندی
دغه یار نه دے د دې زمانې ټګ دے

رقیب سګ که راته وائی پروا نشته
ځکه هر عاشق د یار د کوڅې سګ دے

د څو ورځو میلمانۀ یُو په دنیا کښې
ژوندون واړه په مثال لکه د زګ دے

که هر څو درته عزیز دے مسعوّده
خو آخر د دې فانی جهانه تګ دے

چې پـه زړه کښې دِ ځلا کوي احساس
د ژونـــدون د هـــرې لارې دے اســـاس

داسې شـمـع چې مـدام درتـه بلیـږي
پـه تیـارو کښـې بـه رڼا دِ شي وسواس

تـوره شپـه بـه د رڼـا شـي مـکملـه
نـــه جـــار وزې بـــه پـه لاره د خنّـاس

هـر حسّاس له د احساس نظر چې ورکړې
اواريـــږي مـعـــاملـې بـه دِ حســـاس

هـر تـخلیق کښې ربه تهٔ واضحه ښکارې
حيــرانيـــږمــه پــه نفـي د عـکـاس

سـورتـونـــه آخـري هـميشـــه وايـه
ئې مـحـفـوظ بـه "من الجنت والناس"

د قُـدرت مـناظـر هلتـه ډير ښائسته دي
کـهٔ لیـدلے چـا پـه سترګو وي چیلاس

فيـصله ئې چې حدُود کښې څرګند نه وي
دې نـــه روستـــو بيـا مـقـام دے د قيـاس

اے حبیبـهٔ چـې يـو جام د کـوثـر راکړې
بيـــا بـــه ختـم شـي زمـا د عـمـر پيـاس

چـې هـر قـسـمـــه فیصلـه کړې مسعـّوده
خـــامـخـــا ئـې نـوشتـــه کـړه پـه قرطـاس

د ژونـدون پـــه هـر ډګر اوسـه محتـاط
د صبـا افسـوس نـه نن ښهٔ دے احتيـاط

و جـنـت تـه رسيـدل څـهٔ اسـان نـه دي
ډيـر مشـکـل دي مـنزلـونـه د صراط

کـاميـابي د هغـه خلقو پـه نصيب وي
چـې الله سـره مـضبوط سـاتي رباط

ستـا پـه غم کښې مِ زړګے هسې زخمي دے
چې رخـونـه ئې قـاصر ښکاري خيـاط

ډيـر کـارونـه بـې لـه خطـه نـه سميږي
هـلـه سم شي چې خط راکاږي خطاط

د هـــر چـــا د رنـځ دوا شــــه مسـعــّوده
ستـا ژونـدون بـه شي د ګـل غـونـدې بساط

د یـــار لـــه غـمـــه پـــه ژړا زړګیـــه
لـــکـــه بـلـبـل کـړې واویـلا زړګیـــه

دام کښـې د زلـفـو پـریشـانـه نـه شې
ئـې د خیـــالــونـو مِ عـنـقـا زړګیـــه

یـو ورځ رڼـــا بـــه شـی تیـاره د هـجـر
اوســـه پـــه طـمـع د صبـا زړګیـــه

د هــریـو خُـوږ زړګـی دوا یـادیــږې
ئـــې د رنـځـورو مسیـحـــا زړګیـــه

چې پـه خلـه خوږ وی په زړه کوږ درسره
ځـهٔ بـــه کـړې دا رنـګې اشنـا زړګیـه

ډیر پـه مـنـت زاری راضـی چې نـه شو
بـــاقـی ئـې پـریــږده پــه الله زړګیـــه

زار د مـــاشـوم اشـنـــا لـــه نـــازه ادا
لـوبـې ئـې اوکـړلـې پـه تـا زړګیــه

چـې ستـمـګــر دِ شو اشنـا د میـنـې
نـخښـــه دِ شوه جوړې خطـا زړګیــه

داسې اشنـا نـــه بـــه ځان لـرې ساتې
چـې نـن زمـا وی صبـا ستـا زړګیـــه

ډیـر پـه کـوشـش دِ هم لیدے نه شمه
لـکـــه د نـمـر کوې بـریښـنـا زړګیـه

کـلـــه خـنـدیـږې هـم ژړیـږې راتـــه
د آئیـنـــې غـونـدې صـفـا زړګیـــه

وایـمـــه دا چـې دِ تـکـړې تـکـړې کـړم
بیـا دِ تـقـسیم کـړم پـه هـر چـا زړګیـه

زه مســعـــود بـــه درتـــه ځـــهٔ اووایـم
د اشـنـــایی نـــه نـــا اشـنــا زړګیـــه

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

هـریـو کـار زمـا پـه خـوښـه د دلـدار شی
لـکـه کار د نمر سپـوږمی چې پـه مدار شی

هغـه کـس بـه هـمیشـه پـه عذاب ګیـر وی
چـې هـر وخت ورتـه د مـور او پـلار ازار شی

دغـــه ســوال د مسـعـود تـل پـــه زبـان وی
چې شفیـع ئـې پـه قیـامت نبی روئیدارٌ شی

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

ستا په لاسو کښې اختیار زما د زړه دے — هم په دغه کښې قرار زما د زړه دے
ځکه لاره کښې بانه خپل غوړومه — قافله کښې چې سردار زما د زړه دے
د یار مخ باندې شین خط چې راښکاره شو — معلومیږی دندوخار زما د زړه دے
لکه تاؤ چې شی انګور د توت له ښانګو — داسې تاؤ د زلفو مار زما د زړه دے
چې حساب شم ستا د عشق په غلامانو — هم یو دغه لویٔ اسرار زما د زړه دے
میخانې وته به ښنګه نه راځمه — میخانه کښې چې نګار زما د زړه دے
چې په یو مُسکا ئې تول له مانه واخست — ما وئیل دغه خریدار زما د زړه دے
پښتو وایم پښتو لیکمه پښتون یم — د پښتو ادب ګلزار زما د زړه دے
په دیدن مِ چې د زړه چمن اباد کړی — دغه یار نه دے مالیار زما د زړه دے
چې ئې اور زما د یار په ځوانۍ بل کړو — معلومیږی چې ازار زما د زړه دے
دغه نمر د مازیګر نه دے ملګرو — په خندا باندې پرهار زما د زړه دے
د بیلتون په اور ئې زړه راله کباب کړو — یار خو نۀ دے یو خونخوار زما د زړه دے
محبت مِ په وجود کښې هسې خور دے — د نفرت ځینې انکار زما د زړه دے
چې آواز دِ د ښکالو ترې خطا نه وی — ضمیر دا رنګِ بیدار زما د زړه دے
مخامخ چې آئینې ته شوه ښکاریږی — بیا راغلے جوړې وار زما د زړه دے
دا چې زه ئې درته وایمه ملګرو — بل څۀ نه دی دا اظهار زما د زړه دے

در په در خاوړې په سر چې درته ښکارم
مسعوده دغه کار زما د زړه دے

که لمن د صداقت دِ کړه راټینګه
هر ظالم به را حصار کاندې له سینګه

که هر څو لکه منصور د دار په سر يم — خوشحاليږمه سور اور کښې سمندر يم
ستا غمونو مِ د خيال وزرې پريکړې — د بيلتون په شاړه زمکه کورو کريم
رقيبان که م هر څو په کاڼو ولی — زه د عشق په دې دنيا کښې قلندر يم
دومره جور راسره مه کوه دلبره — يو عاجز غوندې بنده د پاک اکبر يم
ستا محفل کښې چې ستا زړه وته نزدې وی — زه د هغو خلقو کله برابر يم
نه جادو باندې پوهيږمه ملګرو — نه قائله د تهوتکو نه دَ منتر يم
کۀ عمل زما ښۀ نه دے په دې پوئ يم — خو په طمع زه هميش له د کوثر يم
چې له مخه ئې خدائ درست جهان پيدا کړو — مئين شوے په دې ګل د صنوبر يم

په دې لاربه معشوقه ګودر له درومی
څکه ناست نن مسعوده مازيګر يم

د ديدار دِ په هر وخت طمع لرم — ستا د حُسن پلوشې دی په هر دم
داسې ښکلی کائنات ښائسته ماحول دے — راته ښکاری واړه ستا رحم و کرم
د ګلاب د خوشبويۍ اثر ته ګوره — دے واضحه د زخمی زړونو ملهم
مخلوقات دِ دَ حبيبؐ په مخ پيدا کړه — دے امام د انبياؤ محترم
ستا په ياد کښې مِ زړګے هسې ژړا کړی — لکه وی چې په چا مياشت د محرم
چې هم ستا رضا کښې خپله رضا ګوری — ربه تاته داسې خلق دی مکرم
ستا رضا مِ د زړګی ښکلې رضا وی — هر يو کار چې دې دنيا کښې ګزارم
خدايه روح مِ د سجّين له تيارو بچ کړې — عليين باندې مقام ورکړې اکرم

په حساب او په کتاب ئې برابر کړه
مسعوده که دِ دم دے که قدم

خوشحالۍ مې ستا مُسکا ځان سره یؤړې هم دا ستا جورو جفا ځان سره یؤړې
د چمن ګلان به تول دِ غلامان شي د بلبل نغمې که تا ځان سره یؤړې
اے د وخت جورو ستمه ستا د لاسه پیر زوینې دِ زما ځان سره یؤړې
خاماران به د لحد ورته حیران شي که مې زلفې ګور ته ستا ځان سره یؤړې
پس له مرګ به مې هم ژوند په قرار نه شي که خیرې مې د هر چا ځان سره یؤړې
د بهار ګلونه کوم دي چې به وا شي چې خزان غنچې په غلا ځان سره یؤړې
یو لوګے لوګے ماحول دے په دنیا کښې خوشحالۍ ئې نن صفا ځان سره یؤړې
هغه دم به مې رنځور اشنا پخلا شي که مې سترګې مسیحا ځان سره یؤړې
پس له مرګه به ئې هم خلق ثنا کړي که د عشق لمبې هم چا ځان سره یؤړې
په محفل کښې د رندو شمعې بلیږي دا نایانو ترې ځلا ځان سره یؤړې
څو ساګانې مې د ژوند وې باقي پاتې
مسعوده جور اشنا ځان سره یؤړې

په فراق کښې دِ ژړیږم شب و روز لکه شمع ویلې کیږم شب و روز
نندارې دی ستا د حُسن ګیر چاپیره تصوّر کښې دِ اوسیږم شب و روز
چې وعده دِ د راتلو راسره اوشي انتظار کښې دِ کړیږم شب و روز
ما خو نه دی څوک په ژوند کښې ازار کړي ستا د لاسه ازاریږم شب و روز
ستا له غمه مې خزان په ځوانۍ راغے لکه ګل هسې رژیږم شب و روز
زړه مې شین او نظر ختم شو د سترګو ستا دیدن پسې ژړیږم شب و روز
مسعود دِ په ژوندون باندې پوهه نه کړم
چې نۀ مرم نه پاتې کیږم شب و روز

دولت جوړ کړي د کم اصلو اصیلان
عـلامــې د قیـامـت دا دي پـه جهـان

نه په سوال او په جواب باندې پو هیږي
پـه جـرګـه کښـې شـي د خلقو مشـران

نـه ئې اصـل نـه نسب پـه چا ښکاره وي
شـجـره کښـې پټـواري ئې کـړي افـغـان

دا سـاعـت دے نـن راغـلـے په دنیا کښې
چـې د بـاز پـه نـرخ خـرڅیـږي ټپوسان

چـمـن ټـول زاغـانـو ګـیر کـړو د سرو ګلو
ځـکــه ژاړي نــن پـــه چـغـو بـلـبلان

شـمې هـم د خـلقو غم کښې ژړا پریښوه
هــم ړانـده ویـنـم د ورایــه پتـنـګــان

هـغـه مـلـک چې ازمریان په کښې اباد وو
نـن ئـې ویـنـم په هر څنګ کښې ګیدړان

سـرۀ اورونــه دِ پــه داسـې اوربل بَل شي
غیـر غـمـاز چې شي د کوم اوربل ګلان

انـدازه ده خدائ راستولې په کتاب کښې
مـۀ اوبـاسـه پښـې ځادر نـه پـه هیڅ شان

حــقـیـــقـــي بیـــان دِ اوکــړو مسـعـــوده
د ربښتیـــا خبــرو ډیـــر دي دښـــمـنـــان

همیشـــه وي خـطـرې د هـغـو سر تـه
څوک چې اوکاړي ځادر نه پښې بهر ته

چې څـۀ غـوارې د سبحان لـه دره غواړه
نــه پـه دا چې تـه اودریږې د بـل در تـه

چې ښکلا ویشي هر خوا ته په دُنیا کښې
هم په دې وجه کتے نه شي څوک نمر ته

یـار پسې مِ کـتـڼ نیولے نـه رغیـږم
څـوک بـه یـوسي دا خبر زما دلبر تـه

په اسانه چې دیدن په کښې موندے شي
هم پـه دې مِ زړه دعـا کـړي مـازیګر تـه

پـابـنـدي د شریعت چې دلتـه نـکړې
مـخ بـه څۀ ښائې خپل خوږ نبی سرورؐ ته

لـــه هـــر خـوا تـورې تیـارې دي را روانـې
مسـعـوده خـدائ دِ خیـر کـړي پیښـور تـــه

چې د اشنا له خُلې انکار اوخیژی زړه نه مې هغه دم غبار اوخیژی
په تورو زلفو دِ قطار ګلونه لکه په سروه چې ښامار اوخیژی
په حقیقت کښې چې عاشق وی هغه لکه منصور په سر د دار اوخیژی
اوښکې بلو مه تور ماخام ته د ژوند که د غمجن زړه مې قرار اوخیژی
څوک په کښې اسوزی لمبه لمبه شی چاته د سرو ګلو ګلزار اوخیژی
عشق خزان شی د چا ژوند د پاره چا ته د ورایه نو بهار اوخیژی
یاران همیش له بې وفا وی خلقه څو کله کله وفا دار اوخیژی
ګیله به ولې ترې کؤمه په دې چې مې د یار په شانې یار اوخیژی
مودې نه پروت یم د دیدن په طمع نن به مې روح په انتظار اوخیژی
چې ئې په سر، سترګو، لیمو پالمه هغه زما د تن خونخوار اوخیژی
که اسویلی مې درپسې شو ګله سر نه لمبه به دِیو وار اوخیژی
د مسعوؔد دَ مینې خیال چې ساتی
څنګه به زړه نه ئې ازار اوخیژی

آئینې وته چې ګورم آئینه شم کله کله چې د ځان په تماشه شم
که هر څو د فکر باز ورپسې بو ځم عاقبت شمه ناکامه په ستنه شم
مخامخ اشنا ته تهول یم مینه مینه پشی شا ترینه که ډیر خفه خفه شم
ستا په عشق کښې ارزومند یمه دلبره په دنیا کښې چې د حق یوه نعره شم
چې د بل خیرې ګریوان پورې خندا کړم یوه ورځ به د خپل ځان په رنځ اخته شم
چې د عشق په کتابونو کښې مشغول وی وایم دا چې دې طالب لره ډیوه شم
د کِردار مِ په هر ځایٔ خلق صفت کړی لا به کله معشوقې ته پاکیزه شم
مسعوؔده د انا خپلې د لاسه

ستا په دیدن پسې ژړیږم          په دیدار مې مشرف کړه
زوړ دیوال هسې نړیږم          په دیدار مې مشرف کړه

ډیر د له غمه ناقراریم
ستا د دیدن په انتظاریم
مودو نه پروت درته په لاریم
ستا د دې دوؤ سترګو بیماریم

لکه د لمې ګل رژیږم          په دیدار مې مشرف کړه

بېلتانهٔ لوټ کړلو بازار د مینې
خلق ئې تول کړله په دار د مینې
واړه ئې ختم کړه غمخوار د مینې
بیا به څوک نه وینې بیمار د مینې

هسې د شمعې ویلې کیږم          په دیدار مې مشرف کړه

واړه عمل کښې خو چَل وَل دے زمونږ
فکر دنیا کښې ال و ول دے زمونږ
دین مو دے پریښے یو اجل دے زمونږ
یاری د غیرو خپل عمل دے زمونږ

د غمه مرم نه پاتې کیږم          په دیدار مې مشرف کړه

سودا دِ زر کوه فانی دے جهان
تل په فنا پسې کوې به ارمان
هر چې فنا شی نهٔ راځی په چشمان
نه ئې بیا وینې چرته نوم و نشان

فانی مسعؔود درته وئیږم          په دیدار مې مشرف کړه

ستا له غمه مې زړګي کوي فریاد
لکه جال کښې چې څوک ګیر شي د صیّاد

چا چې ایښې نوم په ځان د عاشقۍ دې
غماز ګرځي ورپسې لکه جلاد

عاشق خپل مقام ته رسي پس له مرګه غمازان دي
عاشق نه وي کله دې دنیا کښې ښاد

نه مکتب شته نه قانون د عاشقانو
کۀ مې چانړ کړه د نیا واړه بلاد

که راضي شي خدائ به خپل حقونه معاف کړي
نه معاف کیږي په هیڅ شان حقوق عباد

دغه سوال مې هر مدام وي زما ربه
چې دِ جوړ شم هر ساعت ښکلے حماد

اهم رکن د اسلام زمونږه مونځ دے
چې د دین معراج یادیږي هم عماد

ټول نظام دِ ربه څومره پُرحکمت دے
چې حیران دِ فلاسفر دي هم نقاد

په پوره اسلام به رب ته ورنزدې شې
نه په دا چې منعقد کاندې میلاد

دا حدیث دے چې رسول مقبولؐ فرمائي
تر قیامت پورې جاري به وي جهاد

په سکون چې اوسیدل غواړې دنیا کښې
مسعّوده امان غواړه له فساد

خدایه مکړې مسلمان چرې بې ننګه
د عزت شمله ئې جګه لرې دنګه

په جنګونو مسئلې پیچیده کیږي
په خبرو باندې حل شي بې له جنګه

هغه کس د کامرانۍ په پلو ښائي
چې د زړه کاسه ئې پاکه وي له زنګه

ښکاري دا چې تباهي دِ زر نصیب شي
چې امید د ابادۍ کړې له فیرنګه

چې د بل ورور پُوزکے زغملے نه شي
خدائ به تا هم راګوذار کړي له پالنګه

عیب ئې نه دے بد رنګي څۀ مسعّوده
عیب ئې دا دے چې اشنا دِ شي دورنګه

# ترانه

ربه ستا کرم دے دا په مونږه لویٔ احسان دے مونږ ته نصیب کړے دِ چې ښکلے پاکستان دے

مونږه به کوشش کوو چې دې نه یو جنت جوړ کړو
مونږه به عالم کښې د خپل پاک وطن عزت جوړ کړو
مونږه به تهول خپلو کښې یو باغ د محبت جوړ کړو
مونږ به رورولی، مینه، خلوص او اخوت جوړ کړو

دا مو د غیرت، پښتو، حیا عظیم نشان دے مونږ ته نصیب کړے دِ چې ښکلے پاکستان دے

خاؤره د وطن درنه هر وختې قربانی غواړی
وخت تیرول په مینه هم خلوص او رورولی غواړی
تیارې د جهالت ختمول داسې روشنائی غواړی
جوړه هم د امن فضا هریو سچائی غواړی

دا زمونږه مینه ده او دا زمونږه شان دے مونږ ته نصیب کړے د چې ښکلے پاکستان دے

دا د پاک الله په نوم جوړ شوے دے بوستان زمونږ
دا دَ نظریئې د دوؤ قومونو دے پهچان زمونږ
دا دَ آزادۍ عجیبه ښکلے ګلستان زمونږ
دا دَ مشرانو دَ کوشش دے اوچت شان زمونږ

دا زمونږ د قوم د قربانو عظیم داستان دے مونږ ته نصیب کړے د چې ښکلے پاکستان دے

دا مو د قائد د کوششونو نتیجه ښکاری
دا دَ علامه صیب د خوبونو سلسه ښکاری
دا د سید احمد د دوو قومونو نظریه ښکاری
دا زمونږ د قوم دَ قربانو یو ثمره ښکاری

دا مو د حیا نخښه او دا زمونږ ایمان دے مونږ ته نصیب کړے د چې ښکلے پاکستان دے

اے زمـا وطـنــه تـا بــه جـوړ کـړو يـو جنت مـونـږه
کـړو بــه مـحـفـلـونــه پــه هر ځائ د مـحبت مـونـږه
جـوړ بــه کــړو قــانــون د پـاک اللّٰه د شـريـعت مـونــږه
جـوړ بــه کـړو لــه تـانــه پــه هـر شـانې لوئ طاقت مونږه
دا دَ مسـعّـود د مودو راسې لوئ ارمان دے　　مـونـږ ته نصيب کړے دِ چې ښکلے پاکستان دے

د يـادونـو دِ چې څـومـره پــه مـا زور دے　　خـالـي کـړے ورتــه مـا د زړګـي کـور دے
درست جهان په خوشبويۍ ئې معطر کړو　　يـار نيـولے چـې هـوا تـه اور بل خور دے
د اشـنـا غــمــه دا څـۀ چـارې دِ اوکـړې　　ژونـدانـۀ کښې رانـه جوړ مړے د ګور دے
چـې د زړه ويـنـه مِ مينـې لـه ورنـه کـړه　　بـې اخـلاصـه يـارانــه ده حـال مِ نـور دے
پــه هــر کــارمِ د اخــلاص لـمـن نيـولـې　　څـکــه بـاغ مِ د زړګـی هسې سمسور دے
چـې مـقـام ئـې د کـعـبـې او د قبـلـې دے　　نـو ښـکـاريږی چې هم دا د پلار او مور دے
د غـريـب سيـورے خـو تـول پـه کـاڼو ولی　　د مـالـدارو خـلـقـو هـر سړے غمخور دے
د انــصـــاف جــنـــازه وُوتـلـــه لاړه　　نــن صبــا د زوره ورو خــلــقــو زور دے
تـور د سترګـو دِ زمـا کـلـه سپين نـه شی　　نــه پـه چـا دِ دا آواز اوشی چـې تـور دے
سـرو مــال نــه هــغــه دم وی تيـروتـلے　　چـا چـې کـړے يـو پښتـون وتـه پيغور دے
هـر طـرفـتـه د نفسـی نفسـی نعـرې دی　　څـکـه کـور په کـور کوڅه په کوڅه شور دے
کــومــه لاړه چــې بــه بـچ شـې مسـعّـوده
د يـــار غـم درتـــه پـــه دواړو اوګــو سـور دے

يـو ورځ کـوچ بــه د لـــــنډۍ کـړې مسعّـوده
کــه هـر څـو درتــه کشميـر او يـا لاهـور دے

لــکــه پــه ګـل هسـې شبـنـم مې پـه رخسـار پـريـږده
یــا مې د خـــال غــونــدې پـــه زنـــه پــه قـرار پــريــږده
ستـــــــا نـــاکـــردی مې ګــور تــه یؤړې ارمـانـونـو سـره
اوس شــمــعــه بـلــه راتــه پـورتــه پــه مـزار پـريـږده
هــر يــو ادا دِ راتـــه پـــورتـــه پـــه ســر اور لـګـوي
ګـوره جـلـیـا شـومــه خـو مـا پـه دې انـګار پـريـږده
مـا چـې میـلـمـه کـړلـې پـه زړه کښـې درتـه وایم ګله
خــوشبــويي تـولــې مې د زړه پـــه لالـــه زار پــریـــږده
نشـــه نشـــه یـم ستـا د مینـې میـخانـه کښې ساقی
لږ مې مـدهـوشـه میـکـده کښـې مئـې خوار پريـږده
صبـا بـیـګـاه چـې ستـا د حُسـن تصور کښې اوسم
دې تـخـیّـل کښـې مې مشـغـولـه دا افـکار پـريـږده
د دې بـــې لارې خَـــلَـــقـې د نـــاکـــردو نـــه لـــرې
د تـــورو زلــفــو پــه کـږ لیـچ کښـې مې پــه لار پـریـږده
تـــۀ چې پـــه بـام بـانـدې راوُختـې نـمر مخیـه اشنـا
نـري نري پرخـــــه دِ ګلـه پــه رخســـــار پریـــږده

د ســـحـــر بـــادشـــه مسعـؔـوده د اشـنـا پــه لـورې
مـئـیـن بـادونـه صبـحـدم کښې په ګلزار پريږده

تـلمه په لاره ما چې څو پورې لیدل ګلونه        د چـا لـه غـمـه په ورو ورو به ژړیدل ګلونه

مـخ تـــه چـــې اونیسـم کتـاب د تــاریــخ
او بیـــا ئـــې اولـــلـم ابـواب د تـــاریـــخ
روح مِ تـــازه شـــی پـــه هـر بـاب دَ تـاریـخ
اســلاف مِ ستــوری هـم مهتــاب دَ تـاریـخ

د قـوم پـه حـال وو نـاقلاره رژیدل ګلونـه        د چـا لـه غـمـه په ورو ورو به ژړیدل ګلونه

کـلـه غـیـرت بـه شـی بیدار د مسلمان وروره
کـلـه بـه تـنګ کـړی پـه کفـارو دا جهان وروره
کـلـه بـه ورک کـړی د بـې دیـنو هر نشان وروره
کـلـه بـه سـر د مسـلـمان شی پـه امان وروره

هم په دې فکر کښې وو واړه سوزیدل ګلونه        د چـا لـه غـمـه په ورو ورو به ژړیدل ګلونه

مـعـدنیات واړه مسلمانه ستا په زمکه کښې دی
کو هیان د تیلو خدائ راوُخکی ستا په زمکه کښې دی
هم خزانې د سرو او سپینو ستا په زمکه کښې دی
هم ذخیرې د کوئلې، ګیسونو ستا په زمکه کښې دی

بـس اتـفـاق پسې دِ وروره ړنـدیدل ګلونه        د چـا لـه غـمـه په ورو ورو به ژړیدل ګلونه

کـــه سـمـــنـدر دے کـه اباده ده هـم تـا سـره ده
د دې دنیـــا زرخیـــزه زمـــکـــه واړه تـا سـره ده
د قـیـمتـی غـرونـو حـصــه هم ټولـه تـاسـره ده
د قـیـمتـی ښـکـلـو ځـنـګـلـو ټوټـه تـا سـره ده

پـه بې غـورۍ د مشرانو ځنګیدل ګلونه        د چـا لـه غـمـه په ورو ورو به ژړیدل ګلونه

څکه ناکام يو چې د خُدائ دُشمن مو دوست ګڼلے
څکه ناکام يو د شيطان دوست مو دے دوست ګڼلے
څکه ناکام يو چې د ځان دشمن مو دوست ګڼلے
څکه ناکام يو چې د قام دشمن مودوست ګڼلے
وو په ژړا د هر ليډر په دې عمل ګلونه    د چا له غمه په ورو ورو به ژړيدل ګلونه
څکه خفه يو چې قرآن ته مو شا کړې ده نن
د خوږ نبیؐ هر يو فرمان ته مو شا کړې ده نن
هم طريقو د خوږ ايمان ته مو شا کړې ده نن
هم د اسلافو اوچت شان ته مو شا کړې ده نن
جوړ مسعؔوده په دې حال مو شرميدل ګلونه    د چا له غمه په ورو ورو به ژړيدل ګلونه

په دولت باندې به خپل کړې ډير کسان    بې دولته سړے نه ګڼي څوک خان
آدميت په خاندان او دولت نه دے    دا يو فضل دے د پاک غني سبحان
کۀ جنت چرې دولت باندې موندے شوے    جنتيان به وو دا واړه مالداران
شکر دا چې په عمل جنت دوزخ دے    او بيا عدل دے قيامت کښې په ميزان
دغه نخښې د قيامت نۀ دی نو څۀ دی    چې جرګو کښې شو کم اصل مشران
وخت تر وخته د پلار مور عزت کميږی    شو د ښځو اکثر خلق نوکران
هم ظالم ته څوک ظالم وئيلے نه شی    حق پرست خلق ډير کم دی په جهان
اکثر وينم د دنيا په طلب ګرځی    تش په نوم دے هر سړے نن مسلمان
چې حيا د خلقو اوځی مسعؔوده
بيا امان غواړه هر وختې د ايمان

چې مِ زړګے غــزل غـزل شی نو غـزل پسې ځـم
بیـا ئې مـطـلـع زر نـوشتــه کړم شعر اول پسې ځم
درد مِ د زړه چـې کـلـه نـوے رنګ پیـدا کړی ګـلـه
خیـال مِ بـدلـه قـصیـده شی هـم تـکـل پسې ځـم
نــن د پښتــو ادب بهــار زمـو نـړه عشق دے کـنـه
هـم پـه دې عشق کښې حقیقت مجاز مُرسل پسې ځم
مـنـمــه دا چــې د پښتـو نــاوې ټپــه یــادیـږی
خــو زه ئــې بیــا د افســانــې دې ال وول پســې ځـم
هـم ده ډرامــه او هــم ســنـدره د دې بـاغ ګـلـونـه
هـم د چـاربیتـې میـکـبث غـونـدې سُنبل پسې ځم
داسې بې شمـاره صنفونه په پښتو کښې شته دے
کـځ مـنـکبت هـم رباعـی او آرټیـکـل پسـې ځـم
کـه په ماضی حال مستقبل باندې ئې سوچ اوکړمه
بیـا پـه آسـانـه بـه د شعـر بـحـر خپل پسې ځم
چـې پــه ردیف قــافیــه پُـر وی شعـر وائـی ورتـه
هم ښـکـلے خیـال ئې پُر معنی زه مکمل پسې ځم

مسعـوّد غـوارم هـره زلـفـه ئې پـه لاسو راشی
خـو دې د پاره چرته ښکلی پیر اکمل پسې ځم

داستانونه دی چې لولم د عُشاق — نوشته د زړه په وینو دی اوراق
زما د زړه ئې د بیلتون په تیغ شهید کړو — ترینه جوړ شولو کابل او هم عراق
ماشوم زړه ئې په دهوکه زما نه یوړو — ظالم یار راته نن جوړ شولو قزاق
د یعقوبؑ له دواړو سترګو نظر لاړو — د یوسفؑ خبر چې راغے د فراق
ستا د دیدن پسې لیواله یم صنمه — تل سورلی کوم د عقل په بُراق
د اشنا په وعدو کله باور نه کړم — که د خدایؑ په کلام اوکاندی میثاق
زما ژوند د هغه دوست په رڼا تر دے — چې په نُور باندې روښانه دی آفاق
ډیر څیزونه د یو بل تریاق یادیږی — زما ځان له دې د یار دیدن تریاق
چې دنیا ئې خدایؑ د مخه کړه اباده — په دیدن د دې هستیِ یمه مشتاق
په سُنت د هغه چا ژوندون تیر شه — چې یاد شوی دی قرآن کښې لوئ اخلاق
هغه ملک کښې به همیش له یو فساد وی — چې بُنیاد ئې وی کمزورے د وفاق
بدانو ته دَ ښو نظر څوک نه که — خوش اخلاقو ته د ښو کیږی اطلاق

حلال ټول رب ته محبوب دی مسعوّده
خو حلالو کښې ناخوښه دے طلاق

ښکلے مخ به دِ بورا په شانې تور شی — ښکلول دِ که د ګل هسې په زور شی
لږ خُوږلن د خپل دیدن ورباندې کیږده — چې زما د زړه دردونه پرې ټکور شی
یو جرګه به زه د اوښکو ورله بوځم — که دا باغ زما د مینې پرې سمسور شی
د وصال میوه څۀ هسې شان خوږه وی — هر عاشق وائی چې نور شی او لږ نور شی
خاماران به د لحد هم ډډه اوکړی — که څادر دِ د زلفانو په ماخور شی
په دریاب کښې د حسینو مۀ ګډیږه — تل د ګل په یارانه سرے غمخور شی
ډیر به فکر هر قدم اینبول پکار دی — جوړ بسری نه هم کله کله اور شی

د فراق لمبو د لاسه مسعوّده

چې لــه کــو مــې نــه د تــا ســره اشنا شوم
هغــه راسـې د زړګی پــه رنځ لګیا شوم

ښکلې یار پسې مې ګوره داسې حال شو
لکــه ګل هسې د للمې په صحرا شوم

د نــرو ګلابــی شــونډو پــه طلب کښې
لکــه سپک هسې خځنې په دریا شوم

چې مې نوم دا ستا د عشق په نصیب شو
هلــه پستــه د هــر چــا د خلې ثناء شوم

ستا لــه غمــه مې ژوندون ازغی ازغی شو
لکــه ګل زه دې ازغو کښې په خندا شوم

د فــنــا پــه لــور روان یو ټول فــانــی یو
ستا په عشق کښې چې فنا شوم نو بقا شوم

خوشنودی مې ستا د لاسه نصیب نه شوه
کــه هــر څــو بلد پــه ذکر د اشنا شوم

اے حبیبــه ستــا د عشق لــه بــرکتــه
ټولو خلقو کښې ادنیٰ وومه اعلیٰ شوم

مال او سر مې دواړه ستا پــه مینــه بائیلود
لکـــه ونـــه د خزان غوندې تالا شوم

نن رقیب مې در پــه در کو څو کښې اولید
دې فرعون لره جوړ خدائیګو زه موسیٰ شوم

بددعـــا مې درتــــه اوکــړه مسعــــوده
پـــس لــه بدو ستـــا د رنځ ابن سینا شوم

دومره ډوب یم ستا د حُسن فلسفه کښې
چې اوسیږې مې د زړه پــه آئینه کښې

دا چــې زه ســر پــه تعظیم درتــه ولاړ یم
وایه څۀ دی بې له تا ستا په کوڅه کښې

هر مذهب د ژوندون لار ده کــه پو هیږې
عشق زیات دے لــه مذهبه په رُتبه کښې

هغــه دم کلــه پــه ځان او پــه جهان یم
چې مشغول یم د دیدن ښکلې شیبه کښې

ستا شراب چې د الست مې دی نوش کړی
هغــه دم نــه تــر دې دمــه یم نشه کښې

اے محبوبــه کــه دِ ټول حسن عیان کړو
تمامی جهان بــه هغه دم سوخته کښې

په بهار کښې هم څۀ خوند د بهار نشته
نــه مې اولیده مستی د ګل غنچه کښې

داسې سل نرښځی زار شه پښتنې نه
دا جهاد تــه وی روا نــه پــه پرده کښې

څۀ چې لوښی کښې موجود وی ترینه څاځی
کــه وی زهر کــه وی شهد په کاسه کښې

هر خوا ګورم ستا د حُسن نظارې دی
راعیانــه ئې د نمر هره شغله کښې

خوشبوئــی بــه درنــه خُیژی مسعُوده

ناکـردو د یــار مې کـړلــه بیمـاری
نبـکـلـے یـار راسـره نـــه کوی یـاری

کـه هر څو ورتـه پـه مینه قسم وُخورم
نــه مې سـوال ورتـــه قبلیـږی نـه زاری

د دې دهـــر د یـــارانـــو هسـې حـال دے
مینـځ کښې سخا وی په جوسه وی اناری

اشنـــائی کـه د اشنـا پـه سیم و زروی
زمــا شــانــې تـریـنـه واخلـه انکـاری

سرۀ ګلان بـه خـامخـا شی پانې پانې
چـې د سـوز نعـرې بـلـبـل کـړی ازاری

خوار عـاشق بـه څنګه زه پـه دنیا پایم
چـې دوه سـتـرګـې مې د یار کړی بمباری

د زړه رنـځ مې پـــه مــزه مـزه زیـاتیـږی
چـــې ریبـــار راســره اوکـــړه دوبـــاری

هغـه خلق بـه کـامیاب پـه دوجهان وی
چـې مـونځـونـه پیـنځـه وختـه ګزاری

کـومـه ونـه چـې بهـر پوره پـه میوه وی
هـم پـه دې وَنـه بـه کیـږی سنګساری

چې نصیـب د مسکینانو پکښې نه وی
خـدایٔ دِ ورکــه کـړی دا هسـې مالـداری

چې دِ نه پـه خـوشـحالۍ نه دِ په غم وی
هسـې خپـل ځیـنـې پـکـار ده بیـزاری

کـاروبـار همیشـه ځـان لـه مزه کاندی
تـل پــه ګـنـه تـرې جـوړیـږی مُرداری

هم په دا چې شیطان لویٔ زمونږ دښمن دے
خوشحالیـږی چې څـۀ اوکړې بدکاری

تــه د څو کروړه خلقـو دیـواندارشوې
چـې وهـې د وطن پـنـګـه سـرکـاری

لږ پـــه خیـــال پـرې مـئـیـنیــږه مسعـّوده
اشـــنــــایــــان دی د دې دهـــر بــــازاری

## هـــائیـکـو

پـــه دروغـجـن بـــانـدې لـعـنـت وریـږی
هـم لـویٔ دښـمـن دے د سبحـان عـالـمـه
ولـــې عبـــس هســـې دروغ ووایـــم

بې هنرو کښې که زور د سیم و زر دے | هر انداز د هنرمندو ترې بهتر دے
بل مشال د علم واخله روشنائی کړه | بې د علمه هر سړے د کانړو غر دے
که څوک هر چا ته نسبت د زوره ور کړي | ما د پاره د یار حُسن زوره ور دے
قدمونو د مکیز ئې لیونے کړم | هر نظر ئې د ادا ډیر بختور دے
سرهٔ لبان د یار په ځان نهٔ دي سرهٔ شوي | چې ښُکل کړے ئې زما د زړه پرهر دے
محمّود ځکه ځان غلام د خپل غلام کړو | چې آیاز غوندې غلام ئې د زړه سر دے
لکه ستوري ځلیدلي دي جهان کښې | چا زده کړے چې د عشق ښکلے هُنر دے
هواګانے دي د عشق په کښې چلیږي | خدائ ډک کړے له مئینو پیښور دے
مئین زړه ئې راله تول زخمي زخمي کړو | د ښو غشے پرې هر یو برابر دے
که هر څو ئې د لاسو باندې پرې باسم | آخر اوبه چوي نازک غوندې ځیګرے
هر یو کار کښې برکت ئې نمایان دے | چې په زیر ورته هر چا کړے نظر دے
هر ساعت تجدید د هر یو څیز جاري دے | د عارف زړه ته په دې شوے خبر دے
د فنا بقا عمل دے چې شروع دے | جلالي و جمالي زمونږ اکبر دے
دور یاد د خلفاءُ دے د عدل | هم ګواه پرې هر تاریخ لکه د نمر دے

مسعّود د هغه ګل په خوشبو پا یم
چې چمن د شریعت پرې مُنوّر دے

# هائیکو

په پاکو لاسو څه روټۍ ته کینه
بیا هم شروع په بسم الله کړه ووره
په ختمیدو ئې حمد الله ووایه

د دنیا جاه و جلال او ښۀ پوشاک    د اجل په توره شی خس و خاشاک
د ایام په ګردشونو کښې چې ګیر شی    نه ئې در چا ته معلوم وی نۀ ادراک
د حبیبؐ له سره ټول به صدقه کړم    چې مِ څومره دے په دې دنیا املاک
حق پرستو باندې تل ظلمونه شوی    وو لوئ ظلم کربلا کښې المناک
د نظر غشو ئې زړه زما سُورے کړو    هسې یار راله خدائ راکړلو شیشناک
لکه غم چې د عقبیٰ دے زما زړه کښې    بل به نه وی زما زړه غوندې غمناک
په عمل ئې د اویا نیکو ثواب دے    چې اودس کښې استعمال دِ کړو مسواک
چې ئې ژوند د پاک نبیؐ په طریقه وی    فرښتې ورته دعا کړی په افلاک
که هر څو لکه فرعون خویونه کاندې    عاقبت دِ تورې خاؤرې دے خوراک
په ډیر مال اهل و عیال دې غرور مَکړه    ته په اصل کښې پیدا ئې له دې خاک
په غرور باندې شیطان هم لعنتی شو    چې په مکر او فریب کښې وو چالاک

د لنډې به یو ورځ کوچ کړې مسعوّده
کۀ ئې سوِس ګڼې قاسمه کۀ ښکاک

په لیدو به م د زړه تیاره رڼا شی    مرَوَر اشنا که ما سره پخلا شی
ډیر د مینې سره ګلونه رانسکور شی    د خزان سپیره بادونه چې پرې راشی
واړه مال به ئې د سَره سپیلنے کړم    ښکلے یار چې کله ما سره رضا شی
زما یار که نن په خوئ باندې فرعون دے    زما آه به یو ورځ ده لره موسیٰ شی
هر بنده له بندګی د رب پکار ده    بندګۍ سره رضا به دې مولا شی
ستا دیدن پسې لیواله رنځور پروت یم    یو لحظه دیدن به مالره دوا شی
زما یار کښې د ګلاب غوندې کشش دے    ګل چې اوخاندی ټول وائی چې زما شی
د هر چا سره دعا سلام پکار دے    په سلام دُعا خیرن زړونه صفا شی

داسې تیر کړه مسعوّده ټول غمونه
لکه ګل چې په ازغو کښې په خندا شی

کۀ هر څو په مخ ښائسته لکه ګلاب ئې
خو په زړه لکه یزید غوندې قصاب ئې

اندیښنو کښې دِ د غم کړمه لیوله
تور ماخام په رڼا ورځ مِ د شباب ئې

هر وخت سوچ مِ ستا د دید په پلو یون کړی
و چشمانو ته مِ پروت لکه کتاب ئې

که هر څو مره په خپل حُسن مغروری کړې
عاقبت دِ راته ښکاری چې تراب ئې

تل وعده راسره ماته د صبا کړې
اشنا نه ئې زما هسې یو کذاب ئې

هر اشنا د خپل اشنا د زړه ټکور وی
ته زما څو ورځې ژوند لره عذاب ئې

فلسفې نه د پښتو ئې ناخبره
لکه سپینو لره ټکے د خضاب ئې

هر مدام د ګندګۍ په طلب ګرځې
معلومیږی چې په خوئ لکه زُباب ئې

ښۀ اخلاق مینه خلوص د کۀ ایزده کړو
همیشه په ژوندانۀ باندې شاداب ئې

د دې ژوند حقیقت دا دے که پو هیږې
یو ساعت په دې دنیا لکه خُباب ئې

خُدائ دِ راوَله جوړښت ما سره یاره
په حسینو کښې حسین لکه مهتاب ئې

نیک نیتی په داسې دور کښې لوئ انعام دے
نیت دِ روغ کړه چې روشن لکه آفتاب ئې

لوئ سفر دِ په سر پروت دے مسعوّده
ته لا هسې ناخبره محوِ خواب ئې

## قطعه

چې دلبر راسره جوړې کړې اړیکې
د غمونو مِ په زړه کښې شولې سړیګې

چې اخلاص مینه کښې نه وی مسعوّده
هغه خلَق به تل عشق کښې وهی کړیکې

چې احساس د بل چا نه لري ضمیر ورک شه
چې مُرید لره بس نه وي هغه پیر ورک شه

د وصال په طمع شپه تولـه په ویښه تیروم
د یار دیدن چې په کښې نه وي دا شبګیر ورک شه

چې سرومال د خپل اشنا په مینه نه ورکوي
دا په دروغه عاشقان داسې دلګیر ورک شه

د حقیقت غزلې اوري د سروده سره
دغه دهول سُرنا پیران او مزامیر ورک شه

ښکلے ژوندون وي چې په مینه محبت تیریږي
چې ورور د ورور سره دُشمن کاندي جاګیر ورک شه

مینه په یو ځائ کښې د ژوند د تیرؤلو نوم دے
چې ستا زما لارې جُدا کړي دا زنځیر ورک شه

خلق دوستي کوي د ښځٔ اهل و عیال په طمع
چې بوئي ترې بد اوخیژي وروره دا خمیر ورک شه

## هائیکو

په دې فاني دنیا غرور مکوه
ګوره فرعون یزید هامان ځٔ شو
دغسې حال د هر غاوره به وي

چې نفرت کړی په کښې وده محبت په کښې قتلیږی
دا ساده زړه زما ګوره چې هم هلته مئینیږی
دې ګلاب وته خو ګوره چې غرور کوی په حُسن
په ازار د بُلبلانو پانړه پانړه شی رژیږی
د غماز ظالم د لاسه مایوسی ده بې وسی ده
دا جهان ئې په ما تنګ کړو خلق ما پورې خندیږی
بلبلان به ولې داسې سرې سینې نه وی چمن کښې
پرورش چې د بلبلو سرو ګلونو لاندې کیږی
د تیارو نه راپیدا شو څو بچی د شیطانانو
کائنات ئې تس و نس کړه هره وَنه راغورزیږی
چې له کومې ورځې مانه تهٔ جدا شولې دلبره
هم په تاپسې مِ یاره د زړګی مانی نړیږی
تعجّب دے اے د مینې او الفت پُلِ صراطه
ناپوهان به پرې تیریږی هوښیاران به پرې خوئیږی
د خوبانو ذکر مهٔ کړه په محفل کښې د رندانو
دا خبرې دی د خاصو عام په دې کله پوهیږی
په کِردار د هغو خلقو آفرین شه مسعؔوده
لکه شمع چې محفل ته رڼا ورکړی اوسوزیږی
مسعؔود یوازې نه یم چې صفت د خپل جانان کړم
بلبلان په دې چمن کښې په سحر ماخام چغیږی

هسې ډوب یمه د اوښکو په باران خپل
حال به څهٔ د هجر وایم د جانان خپل

ډیر به لږ وی چې په غم کښې د عقبیٰ وی
ګڼی هر سړے اخستے سود و زیان خپل

بل به خپله ورته ښهٔ د ځان نه ښکاری
چا کهٔ سر کړلو د ننه په ګریوان خپل

ژوندانهٔ کښې غم ښادی خو ضرور خائی
ناشکری درنه وُنه شی د سبحان خپل

زه مئین په هغه خکلی یم یارانو
صفتونه ئې خدائ کړی په قرآن خپل

ستا په ځائ چې د بل چا خبرې کیږی
وویریږمه زه هلته په ایمان خپل

همیشه ئې تانه غواړم عظیم خدایه
شمله جګه په هر ځائ کښې د افغان خپل

بعضې داسې خلق شته دے په دنیا کښې
چې د باز سره به خوشی کړی کارغان خپل

هر اندام د جسم خدائ ته جوابده دے
و هر څوک به رانیوے شی په زبان خپل

خیر د ټولو خلقو غواړه مسعوّده
چې نصیب درته خیرونه شی د ځان خپل

زړه مې ستا غم کښې کړیږی خو بیا هم
لکه ګل هسې رژیږی خو بیا هم

تمام تن مې د هجران په رود لاهو شو
زوړ دیوال شولو نړیږی خو بیا هم

که هر څو نصیحتونه ورته کومه
نه پوهیږی نه سمیږی خو بیا هم

هیڅ خواړه مې دلته وُنه لید دنیا کښې
د غم شپې ورځې تیریږی خو بیا هم

د بدۍ به ئې همیش منع کومه
دے په دې باندې برندیږی خو بیا هم

د بلبل غوندې د سوز نعرې اوکاږی
په غرور د ګل ژړیږی خو بیا هم

د یار غم کښې عاشقان په کاڼو لګی
که هر څو په کښې زوریږی خو بیا هم

نه منت او نه جرګو باندې رضا شو
نه مې دم درود چلیږی خو بیا هم

په اشنا باندې پوهیږم مسعوّده
زما حال پورې خندیږی خو بیا هم

کــه هر څو م د سر ګـل کړو يار د بل شو
د غـمـاز پـه لـمســه بـل چا سره مل شو

عـمـر تېـول مې د وصـال پـه طمع تير شو
عــاقبــت مې پـــه ژړا د زړه بـلـبـل شــو

دا قـرطـاس د کـائـنـات بـه هم رنګين شي
کــه سـوال زمـا د يـار د شـونډو حل شو

دا بـدلـون ئـې فـطـرتـی دے نـه پـو هيـږم
کــه دا دواړه کــائـنــات پــه مــا بـدل شـو

د اشـنـا د زلـفـو پَـړے بــه خلاص نـه کـړی
کـــه راتـــاؤ د چـــا د غــاړې نــه يـو وَل شـو

داسې وخت دے څوک به څۀ د چا ګيله کړی
يار د يار او ورور دَ ورور زمکې ته غل شو

دا د چـــا د نـــظــر غشـــی راوريــــږی
دا چې بيا زمـا پـه زړه بـانـدې يرغل شو

اراده چــې د بـــنـديــانـو رب ښـکـاره کـړه
روح پيـــدا د نبـــیؐ تـېـولـو کښـې اول شـو

ږغـر بـه لاړ شـی د يـو ځـايـه نه بل ځائ ته
خـو دا نـه چې خـوئ عـادت د چا بدل شو

د دشــمــن پـــه جــوړه کـلــه بـاور مــۀ کــړه
کـــه هـر څـو درسره خـوږ لکـه عسل شو

اے يــــارانـــو پــــه مــزه مــزه روان يـــو
د چـــا آج فـــنـــا لـيـکـلـې د چـا کـل شـو

بې د مرګـه پـه دنيا کښې جوړ فساد وو
پيـــدا ځـکـــه د هـــر چـــا لـــره اجل شـو

هـغـــه د رنګ د مسـعـؔود د خـوشحـالـو دے
کـــه داخــل د رب جــنــت تـــه پـــه عـمـل شـو

لـــکـــه ګـل مې پـــه ازغــو ده زنـدګــی
ســراســر مې پـــه سـلـګـو ده زنـدګـی

د ژونـدون مـطلب خو رب راضی کول دی
چــې يـو ورځ پـــه ختـمـيـدو ده زنـدګـی

چې ورک شوی د رب غم کښې وی له ځانه
حـقـيـقـت کښـــې د هغـو ده زنـدګـــی

هوښياران د خپل احساس په لمبو سوزی
چــې پتـنـګ ئـې پـه لـمـبـو ده زنـدګـی

يـو چکـی د ظلم ګرځی پختونخوا کښې
خـــواره نـــن د پښتـنـــو ده زنـــدګـــی

ګـل تــه ګـوره هسـې جوړه زندګی کـړه
چـــې مـــړه ئـــې پـــه وړمـو ده زنـدګـی

هـــر کـــمــــال لــــره زوال دے مسـعـــؔوده

د یار د زلفو په تالونو باندې مۀ غُلیږه
واړه دامونه دی د امونو باندې مۀ غُلیږه

دغه د خوږ زړګی ازار دے بلبلان ئې کوی
په رژیدو د سرو ګلونو باندې مۀ غُلیږه

دا اسویلی مِ د زړګی دی زرغنه پرې کوی
د یار په مخ دې شنو خالونو باندې مۀ غُلیږه

فانی بازار دے سوداګانې د باقی کړه دلې
دلته ښائسته رنګین وختونو باندې مۀ غُلیږه

ته به په مینه ورنزدې شې دے په تک درکوی
په ګلابی او سپین رنګونو باندې مۀ غُلیږه

په بعضې ځائ کښې امتحان د خپل اشنا اَخله
تش په دروغه شنو باغونو باندې مۀ غُلیږه

هسې یو دور د منافقو دے دنیا کښې اشنا
د دوئ کوته کوته نیتونو باندې مۀ غُلیږه

چې نۀ تیریږی هر یو ګوټ ئې ستا مری، غوځوی
داسې د شهدو ډک جامونو باندې مۀ غُلیږه

دنیا دهوکه ده مسعوّده حقیقت خپلوه
دلته د ژوند هسې عیشونو باندې مۀ غُلیږه

هره ورځې ستا دیدن ته طلبګار یم
ګل د للمې د باران په انتظار یم

د ازل لیکل به وخت په وخت رارسی
بې اختیاره هم عمل کښې بااختیار یم

ښۀ او بد خو دواړه رب واضحه کړه وزمونږ ته
تل د رب نه د نیکیانو امیدوار یم

دا عمل مِ د خوشبو په څیر عیان کړې
چې هر چا لره د مینې یو ګفتار یم

هم په ضد ئې د ابلیس کړې لویه خدایه
چې همیش وربانديې تندر راګزار یم

ټول وجود مِ نصیحت زبان ته اوکړو
ستا د لاسه تل تر تله ناقلار یم

ته کۀ سم شوې هر اندام به زما سم شی
ستا په بد وینا همیش لره سنګسار یم

کائنات چې ئې له مخه خدائ پیدا کړه
په دیدن پسې د هغه دوست بیمار یم

داسې ژوند له ربه غواړم مسعوّده
په ثناء چې د نبی خکلی روئیدارّ یم

عشق کړه د الله چې د شیطان خونه تاراجه شي
دومره عمل نیک کړه چې جنت درته محتاجه شي
ډیره ضروري ده چې تشخیص د بیمارۍ وُشي
پام چې ورته نه کړې مرضونه لاعلاجه شي
ژوند خو آخر ژوند دے په هر حال به تیرول غواړي
ګرانې ورځې شپې دِ وي نفرت مِ له احتیاجه شي
غم او ښادي دواړه مِ له ژوند سره تړلي دي
کَر که مِ هیش له دظالم رسم و رواجه شي
دین دے هغه ښکلے په اخلاص چې پیروي کوې
دا به لاڅۀ دین وي چې هر څۀ ستا د مزاجه شي
ښکلې ضابطه قانون د ژوند زمونږ قرآن دے
ورک شه جمهوري نظام نفرت مِ له دې راجه شي
راشه د منصّور غوندې په عشق کښې ځان په دار کړه
یا حبشي بلال شه درته حُورې چې محتاجه شي
داسې خلق وینم چې مصِر د ځان جهان وي دوئ
خلاصے له داسې خلقو له خپل ملکه د اخراجه شي

سترګې د کرم چې د هیچا په مخ کښې نه وینم
موړ د مسعّود زړه به آخر له دې سماجه شي

خوشبو چې په کښې نه وی ګلابونه څۀ کوې
بې شرمه دلربا له نقابونه څۀ کوې
کتاب د حق د لارې یو قُرآن ترجمانی کړی
نور پرېږده دا د غیرو کتابونه څۀ کوې
کشتئ د بسم الله کښې تل په مخکښې مخکښې درومه
اذکار د پاک الله کړه ګردابونه څۀ کوې
څه به دا نشه وی چې دې عقل بندیوان کړی
نشه د کوثر بویه شرابونه څۀ کوې
خطاب هغه مزه کړی چې ستا ژوند په کښې موندے شی
ساتلے ئې چې نه شې خطابونه څۀ کوې
هر شعر شاعره یو الهام د پاک الله دے
زر زر ئې نوشته کړه سیلابونه څۀ کوې
نیکی کړه مسعّوده د رضا مالک رضا کړه
رضا د ده کافی ده ثوابونه څۀ کوې
اشنا دِ آخر لاړو د رقیب په خوا کښې کیناست
حیران حیران په ګوتو حسابونه څۀ کوې

چې سر دِ شی په سیوری دا کافی ده مسعّوده
جونګړه دِ وی خیر دے محلونه څۀ کوې

زړونـــه راښـکـل پـــه زمـانـــه لـکــه ګلاب زده کړه
پـه مـخـکښې تلل لکه کشتۍ په خړ سیلاب زده کړه

کــه تــه روښـانــه ژونـدون غـواړې د دنیــا او عقبیٰ
پـــه طــریــقــو عــمـل کـول د آنـجـنـابؐ زده کــړه

کــه دِ مـقـصـد وی پــه اخلاقو چې رڼا کړې جهان
تــوره تیــاره بـــانــدې رڼــا لـکــه مهتــاب زده کــړه

کــه د دُښـمـن قـوت دنیـا کښې زیر کول غواړې تهٔ
تــوره چــلــول لــکـــه خــالدؓ و بــو تــرابؓ زده کــړه

ستــا د غیـرت د تــُورې شـرنګ نــه یریدهٔ بـه کفّار
هـغــــه عــمـل لږ د اسلافـو پـــه کتـاب زده کــړه

مـضبـوط وطـن کــړه د دفـا ع او مـعیشـت پـه توره
هم د انـصـاف تـلـه پـه لاس د قـانون بـاب زده کـړه

د خــدائ لـــه ویرې هـره اوښـکـه بـه دوزخ سَړَوی
داســې ژړا د ځــان پـــه حـقـلـــه د تـواب زده کــړه

نــور مسعـؔـوده د ګـنـاه ځینـې تـوبــه اوبـاســه
بـــاقــی کـــارونـــه دې دنیـــا کښـې د ثـواب زده کـــړه

## هـــائـیـکـو

غــوښـــه خــوراک دې د مــړ ورور عـــالـمـــه
ولـــې پــــه بــل پسـې وینـــا کـومـــه
راشـــه تــوبـــه شـــه لـــه غیبتـــه ځینـې

نن مې هسې د زړګی شو جهان ګډوډ
د رقیب سره چې وینم جانان ګډوډ

آباد ښهر د محبت مې داسې وران شو
لکه شي چې په قیامت به آسمان ګډوډ

په اخلاص چې محبت او مینه نه وی
وی ناکامه دغه هسې یاران ګډوډ

تصوف د خدائ رسول د لارې نوم دے
نه چلیږی په دې لاره کسان ګډوډ

مقامات ئې د احتیاط او د تقویٰ دی
بې له دې به دِ شی واړه ایمان ګډوډ

په خپل علم د غرور انجام ته ګوره
چې ئې څنګه کړو له ځایه شیطان ګډوډ

هر عالم چې په دنیا پسې دین پریږدی
د بلعم باعُور شی هغه زمان ګډوډ

د رِیا عمل الله ته ناقبول دے
څکه وینم بعضې بعضې شیخان ګډوډ

چې د اصل او نسب تمیز خطا شو
ښکاری څکه په دنیا کښې انسان ګډوډ

بلبل هم له باغه نن په ژړا لاړو
په چمن باندې قابض شو زاغان ګډوډ

په دریاب د نابیناءُ مسعّوده
خړ سیلاب دے پکښې ګرځی کبان ګډوډ

چې نقلی همیش اصلی جامه کښې پټ کړی
په دې کار کښې دی اخته شاعران ګډوډ

په کوم کار کښې چې درک د څو پیسو وی
وریسې په منډه ځی ناظمان ګډوډ

نشته نشته عدل نشته زمونږ ملک کښې
هر خوا ګورم وکیلان او قاضیان ګډوډ

چې ناقصه حُکمران وی ملک ډوبیږی
خدائ دِ نکړی د هیچا حکمران ګډوډ

عاشقان تل په دنیا کښې مسعّوده
تهول سوزیږی په لمبو د هجران ګډوډ

د یخ ګرم استعمال چې په یو ځائ کړم
د جانان غوندې مې څکه دے ځان ګډوډ

د کفارو د دوستئ انجام ته ګوره
په هر ځائ کښې دے زمونږ مسلمان ګډوډ

اکثر خلق به په دې دوزخ ته لاړ شی
چې جپه ژوند کښې ئې چلیږی زبان ګډوډ

هغه خلق به ناقلاره وی قیامت کښې
چې ئې لوستے وی دنیاکښې قرآن ګډوډ

تاجر هغه مختورن به وی محشر کښې
چې وهلی وی هر څوک په میزان ګډوډ

مسعّوده ښهٔ اخلاق د لاس عصا کړه
ګنې، شې، به دِ ژوندون په جهان ګډوډ

چې بدن راله سُورے کړی د ازغو ګلستان څهٔ کړم
چې په غم مې خوشحالیږی وایه داسې خپلوان څهٔ کړم
و هر ګل ته ئې چې ګورمه په خوا کښې ئې تور مار دے
د بهار داسې ګلونه به ښائسته په بوستان څهٔ کړم
چې ئې زړه د ځان وطن او د جانان غم نه خالی وی
په شکل که انسان دے زه به داسې انسان څهٔ کړم
شونډې ښکلول خو د اشنا زما مقصد دے
تنور که راله جوړ شی بیا به داسې لبان څهٔ کړم
چې په سرومال حیا مِ ستر نه کوی دلبره
مخامخ که رانه زار وی زه به هسې دوستان څهٔ کړم
زما یار به هغه یار وی چې ئې ځان زما په ځان وی
چې پټ راز ئې وی رقیب سره بیا هسې جانان څهٔ کړم

همیش له مسعّوده چې په ژوند کښې زما بد غواړی
په خُله کهٔ ډیر خواږه وی زه به دا عزیزان څهٔ کړم

## هائیکو

تیار دِ جنګ ته شی د خدائ او رسولؐ
دغه فرمان دے په قرآن د الله
سود هسې شان لویه ګناه یادیږی

یاره ستا حُسن ته دا شمس و قمر چرته رسی
ګل د ګلاب ته په چمن کښې صدبر چرته رسی
دلته همیش له یارانې د اصیلانو کوه
په خوند کښې سیب ته باقی واړه ثمر چرته رسی
د بڼو غشو دِ زما زړګے سُورے سُورے کړو
ستا دې بڼو ته تُوره، لور او خنجر چرته رسی
په حفصّه کښې څومره ظلم چې پرّویز اوکړلو
دومره لویٔ ظلم ته یزید او شمر چرته رسی
امداد همیش له مسعّوده د الله نه غواړه
د خدایٔ مدد ته په دنیا کښې لښکر چرته رسی

ستا قیمت په دنیا نشته دے اے وخته
خلق له تا ځینې خفه وینم بد بخته
د ازل لیک دے هر چا ته ور رسیږی
د چا نرمه په نصیب وی د چا سخته
په ازغو شی د چا ډک دواړه لاسونه
د چا وینمه په لاس د ګلو لخته
بعضې خلق چې د بعضو ډیر مال وینی
نو ګیله کوی په هغه دم له بخته
څوک د خاؤرو نه اوچت شی په تخت کینی
څوک په خاؤرو کښې رالړه شی له تخته
هریو څیز په دنیا مخکښې ځی روان دے
وینا آورم له هر چا ځینې ناوخته
دا دیوال به تر آسمانه کوږ روان وی
چې ګلکارئې کړه وُلګوی خخته
علامه د قیامت ښکاری مسعّوده
چې ظالم سره نن خلق کوی مرسته

لــه هـغـې ورځـې مِ يار نــه اعتبار لاړو — چــې دلــدار د رقيبــانــو پـــه لار لاړو
چې ارزو مـی د ګـلـونـو کـړه چمن کښې — غـوځ زړګـے هسـې بـلـبـل مِ پـه خار لاړو
ستــا د حُســن د صـحـرا پــه سرابونو — تــصـور مِ لــکـــه اُوښ بـې مهــار لاړو
چــې پـه کـومـه ورځ مِ تـاسره يارۍ شوه — لــه هـغـې ورځـې مِ روح نــه قـرار لاړو
چــې قـاصـد دِ غـږ د نــه راتلو بيان کړو — مـــرور لـــه ګـلستـــانـــه بهـــار لاړو
عــنـدليـب زړګـے مِ نـن پـــه ژړا سـر دے — ښنګ په ښنګ چې د رقيب سره يار لاړو
د رونـد ماښام او درنه ورځ وه په جهان کښې — لـــه دنيـــا چـــې د کـونيـنـو سـردارؐ لاړو

مسـعـــوده د الــفــت بـنـدی خـانـې تـــه
زړه مِ بـــنـــد د يـــار د زلـــفــو پـــه تـــار لاړو

چـــې د ستـــا پـــه تـمـــاشـــه شــوم — هـــغــــــه دم نشـــــه نشـــــه شـــوم
د فـــکـــرونـــو پـــه تـهـــالــونـــو — د مستـۍ يـــوه جـــوتـهـــه شـــوم
عـــقـــل ډيـــر مِ پسـی بـــوتـــلــو — خــو نـــا مـــراده پـــه ستـنـــه شــوم
د خپـل ځـــان پـــه آئيـنـــه کښــې — ستـــا د شـــان پـــه نـنـداره شــوم
پـــه چـــمـــن کښـــې د ســـرو ګـــلـــو — تـــصـــور کښـــې يـــو وږمـــه شـــوم
هـــم پـــه ســـوچ د کـــائـنـــاتـــو — عـــجيبـــه ووم عـــجيبـــه شـــوم
لـــکـــه طـفـــل پـــه جـوتـهـــو يـم — چـــې د عشـــق پـــه ګـــواره شــوم
مـــا قـيـصــې د خـــلـقـــو کــړلــې — نـــن پـــه خپـلـــه يـــو قـيصـــه شــوم
عـــــقـــــل هـــــوش مِ دواړه لاړه — چـــې د عشـــق پـــه مـدرســـه شـــوم
چـــــې دنيـــــا نـــــه مِ لاس وُوت — پـــــه ژونـــدون يـــو اديـــره شـــوم
پـــه رنـهـــا د ښـــو اخـــلاقـــو — د سپـــوږمــۍ يـــو پـلـــوشـــه شـــوم
دين اســلام لـــه پـــه کتـــه — مســـعـــوده پـــه ديـــوه شـــوم

ئې د خوشبو غونديږ په چپه خُله ګويا زړګيه
هم آئينې غونديږ هر چا ته ئې صفا زړګيه
نن هواګانې د سپرلى دى ستا په لورې اشنا
څکه چمن کښې دِ هر ګل دے په خندا زړګيه
داسې ژوندون او بنۀ ساعت په دې جهان تيروه
چې ئې هر چا لره دنيا کښې دلربا زړګيه
وى بد ساعت د بيلتانۀ کله چې راشى اشنا
حال در معلوم دے د آدمؑ او د حواؑ زړګيه
داسې ځان لرې له دنيا د فريبونو ساته
څنګه چې بچ ګرځى له دام ځينې عنقا زړګيه
د خپل اشنا په ناکردو هسې بدحاله ښکارې
لکه چې ګل چرته ولاړ وى په بيديا زړګيه
ياران هميش له چې ساتې سم ئې په تله تله
هسې نه چرته شې په غيرو کښې رسوا زړګيه
يو ورځ به وُچوې داسې ښکارى چې مکرونه کوې
چې ئې غمجن د هر چا غم باندې زما زړګيه
که توره شپه دِ په لحد کښې سپينه ورځ جوړوې
ژبه دِ تَر ساته په ذکر د مولا زړګيه
مرګے به راشى مسعوّده ترې انکار نشته دے
هريو خواهش به مِ د زړه کاندى تالا زړګيه

تـوره شپـه ده کـه زلـفـان دي خبـر نـه یم — سپیـن رخسـار که ماهتابان دي خبر نه یم
سـورکۍ شـونډې لـکه پاڼې د ګلاب دي — دا سـکـروټـې کـۀ لبـان دي خبـر نـه یم
انـنګـو ئـې داسې ډیر زړونـه جلیا کـړه — سُـور تـنـور دے کـه سیـوان دي خبر نـه یم
پـه خـنـدا ئـې رالـه فصل د زړۀ لوټ کـړو — کـه ږلـۍ پـه تیـز بـاران دي خبـر نـه یم
نـرۍ وروځې تـور بـانړۀ ئـې په نیام دي — کـه دوه غشـي پـه کـمـان دي خبـر نـه یم
رڼـې اوښـکـې مِ د سترګـو نـه بهیـږي — کـه آبشـار تـرې راروان دے خبـر نـه یم
شینکے خال دِ زنخدان کښې هسې خاندي — کـه شبـنـم پـه ګـل خـندان دي خبـر نـه یم

ډیـر ګـلاب غـونـدې تـازه دي مسـعـوده
څـوک زیـلـۍ دې دوران دي خبـر نـه یـم

آشـنـائـي بـه مـوتـر اوسـه قـائم نـه وے — چې لـوظـونـو د وفـا دِ دائـم نـه وے
مـا بـه څـۀ لـره سختۍ د عشق وړلے — کـه لبـان دِ لـکـه ګـل ملائـم نـه وے
مـا بوسـه بـه یاره ستا لـه مخـه نـه کـړه — لـه مودو دِ د دیـدن کـه صـائم نـه وے
دا جهان بـه خدائ جـوړ کـړے یو جنت وو — کـه د ظـلـم زور زیـاتـۍ جـرائم نـه وے
شیطـان ولـې لـعـنـتـي بـه وو دنیا کښې — تـکـبر بـانـدې کـه پټ عـزائم نـه وے

مـالـداران بـه جـنـتیـان وو مسـعـوده
د دنیـا پـه عیـش کـه دیـن نـه نـائم نـه وے

زړونـه یـو ځـائ کـړه تل په دوئ کښې محبت راوله
لـکـه مـقـراض د پـریـکـیـدو د پـاره مـۀ جـوړیـږه

# د امن چغه

عَلَم په لاس د امن ښکلے یو جهان جوړوم
داسې یو شان په دې دنیا د مسلمان جوړوم

دا د غربت د شکست خورو جهان د یتیمانو د مال خورو جهان
په کنډو رنډو ظلم زورو جهان دا د بې وسو تورو سپورو جهان
داسې خزان سوو ګلونو نه بوستان جوړوم
داسې یو شان په دې دنیا د مسلمان جوړوم

د امن نوم باندې ډیر خلق امنیت ورانوی په سرو بارُودو مِ قلا د اخوت ورانوی
په فولادی لاس شیش محل د محبت ورانوی د کائناتو له صفحې انسانیت ورانوی
د خپل تعلیم په برکت ښکلے انسان جوړوم
داسې یو شان په دې دنیا د مسلمان جوړوم

امن خو خوښ زمونږ د رب العالمین دے هم ئې راستولے دے له ختم المرسلین دے
د ده پیغام سلامتی د اسلام دین دے ځکه یاد شوے په خپل دور کښې امین دے
دا مِ کوشش دے په سنت د ده به ځان جوړوم
داسې یو شان په دې دنیا د مسلمان جوړوم

هر خوا سپرلے وی چې د امن په کښې وی یادونه محفل اباد وی هم تازه وی په کښې تول ګلونه
قوم وی خوشحاله ترقۍ په لورې ږدی ګامونه بغیر له امن نه غرق شوی دی اکثر قومونه
خدائیګو د امن به یو داسې ګلستان جوړوم
داسې یو شان په دې دنیا د مسلمان جوړوم

زمونږ قائد هم تل د امن آوازونه کړی حدیبیه کښې هم د امن دستخطونه کړی
فتح مکه کښې په دښمن ډیر احسانونه کړی مدام ئې امن له هر رنګ نصیحتونه کړی
د ده حدیث ځان له افکار ډیر په ښۀ شان جوړوم
داسې یو شان په دې دنیا د مسلمان جوړوم

امـن قائم وی چې په عدل عدالت چلیږی ملکونه ډوب شی چې نظام د رزالت چلیږی
هـم پـه عوامو کښې دننه عداوت چلیږی هـم د انصاف نه په هر ځائ کښې بغاوت چلیږی
داسې عـمـل بانـدې پـه دا آتـش فشان جوړوم
داسې یـو شان پـه دې دنیـا د مسـلمان جوړوم

امن به راشی فیصلې چې په انصاف کیږی تـل د ظـالـم او زورَورو چې خلاف کیـږی
هم وروروِلی او یارانے چې په نیت صاف کیږی هم په غلطیو چې یو بل ته وِرد د معاف کیږی
جـنـت جنت به وی وطن له داسې پلان جوړوم
داسې یـو شان پـه دې دنیـا د مسـلمان جوړوم

ګـوره د ظـلـم انتهـا تـه فلسطین وران شو وِیر دے ژړا ده د کشمیر هسې ګل چین وران شو
هم د کـابل غوندې ښائسته وطن حسین وران شو داسې بغداد او د شیشان چمن شیرین وران شو
د ظـلـم ښکار شم چې حق چغه په زبان جوړوم
داسې یـو شان پـه دې دنیـا د مسـلمان جوړوم

بیـن الملل ته که هر څو چغې سورې وهمه په حال مِ خاندی که هر څو ورته نعرې وهمه
هسـې فـضول نورو قومونو ته اسرې وهمه ځان لـه په خپله پښې په تبر او ارې وهمه
څـهٔ لـه د بـل پـه طـمع پاتې رنګ ایمان جوړوم
داسې یـو شان پـه دې دنیـا د مسـلمان جوړوم

ډیرو شیـطان جامه کښې پټ هم امنیت غواړی چـمـن چـې وران کـړی بیا هغـې لـره زینت غـــــــــــــــــــــواړی
پـه کوم انداز باندې خدمت د انسانیت غواړی څـو مره ښکاره مِ لړزول دا د غیرت غـواړی
اسانـه نـه ده چې شیـطان نـه مسلمان جوړوم
داسې یـو شان پـه دې دنیـا د مسـلمان جوړوم

پـکار خو دا ده بااِختیاره یو جرګه جوړه شی پاکه سیاست نه په اخلاص باندې پوره جوړه شی
ښـهٔ فیـصله دِ د هر ملک په تنازعه جوړه شی مـخـالفینو لـه دِ یو سخته دفعه جوړه شی
پــه دې عــمــل بــه لــه دنیـا دارالامـان جـوړوم
داسې یـو شان پـه دې دنیـا د مسـلمان جوړوم

امن بـه راشي مذهبي چې نفرتونه ورک شي | هم په دنیا کښې لساني تول فسادونه ورک شي
بیا هم د زر، زن او زمین بغاوتونه ورک شي | بې وجې بغض او کینه عداتونه ورک شي

داسې تبلیـغ لــه مسعـوده ځان جانان جوړوم
داسې یـو شان پــه دې دنیـا د مسلمان جوړوم

وفـا دار هـم بــې ګنـاه دے زمـا زړه | ستـا لـه غـمـه پـه ژړا دے زمـا زړه
رنځور پروت دے ستا د سرو شونډو په طمع | پــه طـلـب د مسیـحـا دے زمـا زړه
چې دیدن ئې ستـا د ښکلې بشر کړے | درپســې ورک پــه سـودا دے زمـا زړه
په وصال کښې هم طلب د بوسې نه کړي | ګـوره څـۀ رنګـه پـارسـا دے زمـا زړه
نـاقـراره ستـا د مـخ پـه تـصور کښې | پــه بیـګـاه نــه پـه صبـا دے زمـا زړه
لــه ازلـــه د ګـلـونـو لیـونـے دے | عـنـدلیـب دے کـه بـورا دے زمـا زړه
چې سبـق د مـحبـت ئې وظیـفـه شو | پــه تـمـام جهـان رسـوا دے زمـا زړه
جــوړې زیـرے د راتـلـو دِ ورتــه شـوے | نــن چې دومـره پـه خـندا دے زمـا زړه
لکه پاکې وی اوبۀ د سیند په مینځ کښې | صـفـا داسـې لــه ریـا دے زمـا زړه
چې پـه تیـغ دِ د بیلتـون ارې ارې کړو | مـنـتـظـر ستـا د دُعـا دے زمـا زړه

مسعـوده چې ئې ټـول جهـان ثنـاء کړي
پــه هـغــه ښـکـلـې فـدا دے زمـا زړه

# هــائیـکـو

پـه هـر یـو حرف ئې لـس نیـکۍ دي خلقـه
نـور هـم لــه دې ئـې بـرکـات شتـه دے
زر تـلاوت د پـاک قـرآن شـروع کـړه

په غرور باندې چې څومره هوادار شي — لکه پاڼو د خزان به راګوزار شي
بادشاهان ئې د دنیا پښو کښې پراته وي — چې راضي له چا نه دلته کر دِګار شي
کامیابي ئې هر قدم نه بوسې اخلي — چې عمل ئې په سُنتو د نامدارؐ شي
که لحد کښې مې ستا زلفې څان سره کړې — ښاماران به د لحد مې تابعدار شي
عاقبت به شنه لوخړه شم دلبره — که ژوندون مې ستا د لبو په انګار شي
ګلاب څکه په څواني شي پاڼې پاڼې — د بلبلو ورته هر وختې ازار شي
نعمتونه نور هم ډیر دي په جنت کښې — که هر څو ورله کافي د خدائ دیدار شي
ذمه ستا ده ربه تهٔ روزي رسان ئې — کهٔ هر څومره دِ په دې دنیا جاندار شي

سوال د خدایه مسعوّده هسې شان کړم
چې اشنا زما د مینې پامته دار شي

چې له کومې ستا د ښې مینې قائل یم
پروت په در دِ له مودو هسې سائل یم

یمه په ګرداب د مشکلاتو کښې ګیر شوې
څنګه به بل چاله یو حل د مسائل یم

وفا منت له یاره په دا هسې شان کومه
چې پروت ورته په پښو کښې لاندې زه لکه پائیل یم

درجې هم ستا د عشق په لامکان دي یا حبیبهٔ
په رښا د واقعاتو ئې هر وختې زهٔ قائیل یم

تعارف زما د څان په کښې موقوف ښکاري صنمه
څو قسمه تقسیم کړې دلته خدائ په قبائل یم

دنیا کښې ئې هم لولمه هم ستایم هم ئې لیکم
کتاب د حُسن و عشق لره جهان کښې وسائل یم

درود په پاک نبیؐ په زبان وایم مسعوده

کــه د حــق لټـول غـواړې کـائـنـات تـه نـظـر اوکـړه
پـه هـر دم ئـې نـوی شـان هم دن او رات ته نظر اوکړه

يـو دم هـم قـيـمتـی دے پـه تـلـوار تلوار ئې خپـل کړه
پـه قيـامـت چې بيا ارزو کړې نن اوقات ته نظر اوکړه

ژونـد د احــاديثـو پــه رڼـا بــانـدې روښـان کــړه
اخــلاق د نبـیؐ خپـل کـړه هـدايات تـه نـظـر اوکـړه

عشـقِ حـقيـقــی د مشـکـلاتـو د حـل نـوم دے
سر پــه کښـې ډير بائـيـلـی حـکـايات تـه نظر اوکړه

حـج صـرف کـعبـې نـه تاويـدل نـه دی صـنـمـه
د حـج هـم فــرائـضـو واجبـات تــه نـظـر اوکـړه

عــلـوم د دنيــا واړه پــه قــرآن کښـې مـلاويـږی
پــه عــقـل فـکـر ميـنـه هـر آيات تـه نـظـر اوکـړه

زمـکـه ئـې دنيـا کښـې د پُوزی هسې خوره کـړه
زار ئــې لـــه قــدرت شـم سـمٰوات تـه نـظـر اوکـړه

عـقـل او دمـاغ د انسـان ښـکـاری چې محدود دی
فــکــر کښـې دِ ځـان هـم دې آلات تــه نـظـر اوکـړه

غـمـونـه خـوشـحـاليـانـې ګـرانـې کړی مونږ پخپله
پـه غـم ښـادی، کښې وروره دې بدعات ته نظر اوکړه

لړه خـوشـحـالـی ده ژونـد کښـې ټـول بـاقی غـمـونـه
هـر دم پـه ژونـدانــه کښـې مشکلات تـه نظر اوکړه

عـاجـزی دِ پــه طبيعـت کښـې مسعؔوده لوئ مقام دے
د عــاجـز پـه عــاجـزی، کښـې درجات تـه نظر اوکړه

چې لقب ئې د صادق او دامين شو — په جهان کښې د هر چا د زړه تسکين شو
هم تيارې د کفر لاړې پستنه شوې — په دنيا چې راښکاره نمر د يقين شو
يو سپرلے وو د اسلام په عالم خور شو — چې پيدا د خدائ حبيب يار نازنين شو
سربالا به وی دنيا او په عقبیٰ کښې — هغه څوک چې د دهٔ ذات باندې مئين شو
هغه چا چې د دهٔ ځان ته بد وئيلی — هم په دې او په هغې جهان لعين شو
چې اخلاق دِ د نبیؐ په ځان قوی کړه — مبارک شه ستا نصيب دينِ مبين شو
هر قدم ئې کامرانۍ په لورې درومی — چې ژوندون ئې په اسلام باندې زرين شو
چا چې ځان د مصطفیٰؐ په عشق فنا کړو — و هغه له د لحد زمکه قالين شو
هم اخلاقو ته ئې خدائ عظيم وئيلی — هم ئې ذکر په ضُحیٰ او په يٰسين شو

مسعوؔد خو خدائ نه ستا محبت غواړی
ستا ددید په طمع طمع ئې سر سپين شو

له ازله په رفتن د عشق په لار يم — چې پرې بلې وی ډيوې هغه مزار يم
چې بخنه ئې له خدايه د اُمت کړه — زه د هغه امتی نبی روئيدارؐ يم
چې هميش له پرې د ګلو باغ تازه وی — ژړېدونکې هغه پرخه په ګلزار يم
د ژوندون شمع که ګل شی پرواه نشته — يم خوشحال به چې په دې وخت ايماندار يم
په اخلاص چې عاشقانو ته نصيب شی — زه د هغه جنت ښکلی به ماليار يم
ژوندون هغه زما خوښ دے په دنيا کښې — چې په غم کښې د غمجنو غمګسار يم
چې په مينه او اخلاص ئې پوخ يقين وی — زه د هغو تابعدار يمه هم يار يم
زهٔ په خوند د ژوندانهٔ باندې پو هه نه شوم — داسې ګير د دې غمونو په پرکار يم
سمندر غوندې يم تل په کښې خوشحاله — چې ګډ شوے زه د مينې په انګار يم
ځم روان يم خو منزل مِ معلوم نه دے — تيندکونه خورمه ګډ په داسې لار يم

چې په خُله باندې خواږه په زړه کاړه وی
مسعوؔد له داسې خلقو نه بېزار يم

تــورو تيــارو لــــه دِ د حــق يــدِ بيــضــا جوړه كــړه
بــادِ صبــا شـــه يــو تــازه غــونـدې فـضـا جـوړه كـړه

جــوړ تــقــاضــو د مــحبــت نـــه زمـا خـدائ هـم
مـحفوظ نه شو خپل محبوبؐ له ئې دنيا جوړه كړه

هـم لـعـنـتـى شـو تـر قيـامتـه پـرې لعنت وريـږى
خـوشـې ابـليـس چـې ښـې خبرې نـه اَنـا جوړه كړه

چـې د پـښـو چـغـار ئـې واؤريـدو جنت كښې حضورؐ
داسې بـلالؓ غـونـدې عـمل باندې ښكلا جوړه كړه

تـل د بـاطـل مـخـكښـې د اوسـپـنې ديـوال اودريـږه
د حـق نشـان لـكـه مـوسٰـى غـوندې عصا جوړه كړه

چــا چـې د نـفـس او د شيـطـان خلاف جهاد اوكړلو
خـدائ ئـې فـنـا سره دنـيـا كښـې هـم بـقاء جوړه كړه

نــن تپــوســان زه ګلستـان بـانـدې قـابـض وينـمـه
څـكـه بُـلبـلـو پـه هـر چـم كښې واويلا جوړه كـړه

كــوه صــفــا كښـې خـو چـيـنـه دِ د زمـزم راوُخـكـه
ولــې دِ بيـــا پــــه اهــلِ بيتــو كــربـلا جـوړه كـړه

نـصيـب تـقـديـر دے مـخـلـوقاتو ته په وخت رسيزى
اكثــر نيــكــانـو تــه ئـې دلتــه ابتـلا جـوړه كـړه

ولـې بـه عـشـق كښـې مسعّود لـه بيلتانـهٔ نـهٔ ژاړى
چـې د بيـلـتـون پـه نـامـه خـدائ تـوله دنيا جوړه كړه

حقیقت چې حقیقت سره اشنا شي | سور انګار ورته جنت په دې دنیا شي
کله جوړ ترې لامکان او کوهِ طور شي | کله جوړه واقعه د کربلا شي
شپه او ورځې مشکلاتو سره مخ شي | چې اشنا سړی ته کله نااشنا شي
یم خَپسې د لیلا هسې نیولے | معلوم نه ده که مِ ورځ دلته رڼا شي
د بُلبلو نغمې کله اوریدے شي | په بهار چې د خزان بادونه راشي
خدایه راولې طبیب زما د مینې | چې زما د زړګی رنځ له مسیحا شي
خاندان وربانديې تهول شي ملامته | چې یو فرد د چا په قام کښې بې حیا شي
دغه سوال زه په زبان همیشه لولم | چې راضی رانه د تهول جهان مولا شي

په ژړا رب ته زاری کړم مسعوّده
که مِ ورک نظر په سترګو باندې راشي

ستا د حُسن هر طرفته پلوشه ده | د هر شان دِ ځان له خپله فلسفه ده
په نیکۍ باندې د زړونو دعا واخله | د انسان زړه جوړه کړې خدائ کعبه ده
اندیښنې د تیارو هر طرف خورې دی | نن لیلیٰ زما سحر باندې پرته ده
تر آسمانه به دیوال پرې کوږ روان وی | د بنیاد خخته دِ ایښې چې کږه ده
راته ښکاری چې زاغانو باغ قبضه کړو | د بلبل نغمه چمن کښې چې سړه ده
دا حالات د تباهۍ په طرف درومي | یو تیاره د مایوسۍ چې راخوره ده
ښنګ په ښنګ مقابله کول غواړی | د حالاتو توره ښکاری چې تیره ده
مسعوّد د هغه ګل په خوشبو پایم | په جهان ئې چې خوره ښکلې وږمه ده

یو بهار د مسعوّد په ژوند راغلے
چې دُعا د والدینو ورسره ده

هـر خوا ګورم کـرشـمې دِ عجائـب دی — پـیـدا ستـا هـم مشـارق او مـغـارِب دی
بـختـور دی هغـه خلق پـه دنیـا کښې — ستـا لـه ویرې خو ګناه نـه چې تائب دی
چې لـه ځانـه بې پروا دی ستـا پـه مینه — تـا هـغـو لـره ورکـړی مـراتـب دی
چې د نفس شیطان د شمن دی هغه خلق — کـرامـات ئې ښکـاره شوی مناسب دی
چې ئې ستا له ویرې سترګې او زړه ژاړی — رحـمـتـونـه دِ د هغو پـه جـانـب دی
هر چې ستا په مینه مست دی شاهی څهٔ که — د جهـان پـه هـر سمت باندې غـالـب دی
بې لـه خدایـه خو غیب علم نشته چاله — کـه څـوک شمیری باباګان واړه کاذب دی
د مسـلـم کـار خو میـدان تـه راوتـل دی — کینـاستل خو ځان له ګوټ کښې د راهب دی

مسـعـؔوده یـون د هـغـه چـا پـه لار کـړه
کـومـې لارې چې ښـودلـې مِ صـاحبؐ دی

لـکـه سپرلـے پـه چمنونو مِ شاداب پریږده — هم مِ زړګے په خپله مینه کښې فیضیاب پریږده
هر یو ادا دِ زما عشق له نوے ژوند ورکوی — لږ مِ پـه باغ د اداګانو کښې سیراب پریږده
سختې دِ هر رنګ قبلومه زه په سر او سترګو — دا کـلـه کـلـه یـو بـوسه خو د ثواب پریږده
کشتۍ د ژونـد به مِ شی ډوبه ستا د غم د لاسه — لـکه د پرخې مِ په مخ هسې ګلاب پریږده
د زلـفو شپول کښې دِ رخسار رانه پرده کښې ساتې — لږ خـو دیـدن تـه مِ د سترګو دا مهتاب پریږده

پـه لاس مشـال د عِـلـم واخلـه مسعؔـود قاسمـه
ټـولـه دنیـا کښـې پـلـوشې لـکه آفتاب پریږده

تـولـه شپــه مې انتـظار کښې ستـا د لارې پـه کتو ده
چا کړه تیره د چا غیر کښې او د چا په اسویلو ده

ښـکلې ښکلې دې بې شمیره په دې سیمه زیږېدلې
چا ګټلې ده پـه سترګو چا پـه سرو سرو اننګو ده

هسې مینـه خو بې شکه ځان له نوم د حقیقت دے
چـا مـونـدلـې پـه اسـانـه او د چـا پـه ژړیـدو ده

پـه دیـدن پسـې دِ یـاره هسـې ګـل شومـه د للمې
څـوک د میـنې تـنـده غـرې چا موندلې په کاسو ده

د بلبل سوو نغمو واړه چمن بـاندې اوربل کـړه
هـر یـو ګـل تــه پـه زیـر ګـورمـه ځوانې پـه رژیدو ده

تــه وائــې مسـعـّوده ژونـدون نـوم د مـحبـت دے
ابـــاده دا دنیـــا خـــو پـــه نـعـره د بیـلیـدو ده

زخمونه جوړیدو سره داغونه خو به وي
وختـونـه تیـریـدو سره یادونـه خو بـه وي

منمه ستا نظر کښې عشق ګناه ښکاري واعظه
محفل کښې د رِندانو شرابونه خو به وي

بادونه د خزان مې که په زړه باندې تیریږي
تازه هم ستا دمینې سرهٔ ګلونه خو به وي

غشـي تـل وریږي د خوبـانو د ښو نـه
نخښنه د دې غشو مئین زړونه خو به وي

په قبر زما شمعو ته بد مهٔ ګوره ناصحه
د عشـق پـه شهیـدانو چراغونه خو به وي

سـرومـال دِ دواړه عشـق کښـې لاړل مسعّوده
مطلوب تـه رسیـدو کښې تاوانونه خو به وي

چې مِ یار پـه خُـلـه د میني اعتراف کړو دا لُـوګی لُوګی ماحول ئې راته صاف کړو
د یـار غـم بـه درتـه څـهٔ وایم ملګرو دا الف وجـود زمـا ئې لـکـه قـاف کړو
د الله پـــه در بـخـښـنــــه ورتــه کـیـږي چې قصور د یو بنده دلته چا معاف کړو
چې الله تـــه مـخـامـخ شو شرمنده وو په ګناه چې کومو خلقو دلته لاف کړو
مسـعـودّه پـــه روانــو اوبــو ګـــرځـــه
چې دِ زړه د آئینـي غـونـدې شفـاف کـړو

تـل تـر تـلـه ځان په دې باندې عادت کړه د شیطـان سره هر وختې عداوت کړه
مشـوره پـه هر یو امر حسین کار دے وی کـامیابه چې هر کار په مصلحت کړه
دامتـل دے د غـرور جام بـه نسکـور وی ګـوره ځـکـه پـه شیطان خلق لعنت کړه
حقیقت تـه ډیر د زړه په سترګو ګوره تـل تـر تـلـه د ریښتینو محبت کړه
د زړه ویـنـه یـار لـه ورکـړه مسعـوّده
وی کـامـران چـې یـارانـه پـه صداقت کړه

زړه مِ زار شـه ستـا نـرو سترګو وړونه لـکـه تِیر هسې تیرو تیرو بڼونه
وړې سترګې د یو شرم علامت دے تـل ځـاریـږه د اصیل سترګو مړونه
هـغـه زلـفې هـمیشـه د فـخـر وړ وی د نـظـره چـې مـحفـوظ وی د سرونه
چا چې ایښـے پـه ځان نوم د عاشقۍ دے مـحـفـوظ نـه شـو د وختـونو د چـړونه
د نـازک یـار اشنـائـي مِ ده نـازکـه لـکـه بـار وی چـا تـړلے د بنګړونه
بې ګناه چې د چا ځان په تهمت رنګ شي امـان غـواړه بیا د هسې رنګ کوړونه
کـه خـلاصے لـه عذاب غـواړې مسعـوّده
ځـان دِ بـچ کـړه د حـرامـو د خـوړونـه

زړه راښکونکے یو ګلفام هم ضروري دے   د خوشبو په څیر کلام هم ضروري دے
چې لوستونکے هم په فکر کښې لګیا کړي   ځینې شعر کښې الهام هم ضروري دے
داسې نه صرف درُودپه مصطفیٰ ﷺ کړې   د درود سره سلام هم ضروري دے
و جنت له پنج بینا څۀ کافي نه ده   د فضول وینا لګام هم ضروري دے
له دوا سره پرهیز همیش پکار دے   بیا له دې سره آرام هم ضروري دے
هسې نه د نیم اقرار د نیم انکار کړې   مکمل په ځان اسلام هم ضروري دے
نه په دا چې تل د زور ظلم سودا کړې   کله دې سره رام رام هم ضروري دے
رب نه غواړه ډیر په مینه مسعوّده
مخ قبلې ته کړه قیام هم ضروري دے

سختې لارې دي راپیښې د ازل نه   ځکه غواړمه دعا د لم یزل نه
ازمرې دي چې په ما باندې حملې کړي   ټول رادرومي ستا د زلفو د ځنګل نه
یو ورځ اور به دِ په ښکلې ځوانۍ بل کړي   سرې لمبې مِ درپسې دي د کوګل نه
چې مِ ستا دیدن په سترګو کړے نه وي   لاړ به نه شم یاره ستا خکلې دُرشل نه
هیڅ ظهور چرته د زمکې آسمان نه وو   ستا د مخ ستورے ځلانده وو اول نه
تل په رام رام مسلمانه دهوکه کیږې   ځان خبر کړه د یهودو د بغل نه
چې د کور بنده دِ غل سره ملاؤ وي   بچ به نه شي ستاسو کور چرې د غل نه
زړه به ولې ستا په مینه مِ سُورے وو؟   چې راښکلې دِ لیندې نه وې اوربل نه
مسلمان به آخر ورک شي په دنیا کښې   که دوئ لاس د امداد راښکو د یو بل نه
په نزول د قرآن واړه ټول منسوخ شو   څۀ له غواړې روښنائي د بائیبل نه
لویه خدایه مسعوّد درنه دا سوال کړم
چې م او ستاسې د هر یو بد عمل نه

ننګیالے د ابدالی غوندې افغان یم
زه پښتون یم په پښتو باندې قربان یم
چې خوشبو ئې په تمام وطن خوره وی
زه د مینې هغه ښکلے ګلستان یم
د هر یو خکلی اخلاق والا غلام یم
بداخلاقو لره تندر د آسمان یم
نیکی کومه و نیک وایمه هر چا ته
په نیکی زه له بدانو په امان یم
که اشنا راسره ډیرې زیاتې اوکړې
مسعوّده ورته صبر کښې عثمانؓ یم

هر یو څیز له خدائ ورکړے یو معیار دے
مقرر هم نمر سپوږمی لره مدار دے
لال همیش دخپله اصله پیژندل شی
که دِ اېښے د زمرودو په قطار دے
همیشه چې څوک خپل سُوک کابلے بُولی
معلومیږی ناخبر د بدګزار دے
همیشه چې څوک په بل ملامت وائی
دا تور ژبے د هر چا د لارې مار دے
څکه کډې له دې باغه بلبل یؤړې
چې زاغانو قبضه کړے ئې ګلزار دے
د پښتو چمن به څنګه شګفته شی
چې بدنیته ئې هر ګل وته مالیار دے
هغه زړه به له طوفانه په امان وی
چې تازه د پاک الله په استغفار دے
چې خوشبو به د اسلام باغچو کښې نه شو
بورا نه دے د ګونګټ سره په لار دے
مسعوّده د غریب سړی څوک نا وُری
هر سړے نن د مالدارو خلقو یار دے

## هائیکو

یوه قلعه مضبوطه ښکاری تقویٰ
هم د کامیاب ژوندون کونجی ښکاریږی
راشه تقویٰ د ژوند جامه جوړه کړه

نـن بیـا مې ډیـر یـادونـه د جـانـان څنګوی
لـکـه بـاد د پسـرلـی چـې سرۀ ګلان څنګوی

د طـالـب طلـب همیش له د مطلوب حاصلول وی
چـې هـر در هـر یـو د یـار ئې دا ارمـان څنګوی

ورځ او کـلـه شپـه شـی یو عـجبـه فـضا وینم
لیـلا مې پـه سپین مـخ چې تـور زلفان څنګوی

ښـکـلا هم نازکی او خوشبویی کښې ربه تـه ئې
ستـا شـان ښـائـی هـر ګـل ټول بلبلان څنګوی

ستـا یاد کښـې ربه داسې زه د شپې ورځې مشغول یم
لـکـه سـر چـې طـالبـان پـه لـوئ قـرآن څنګوی

څـان بـه زمـا څـنګـه ګنا هونو نـه خدائ بچ کړی
تـل مې دغـه فـکـر پـه هـر آن څـنګوی

دنیا امتحان ګاه ده مسعّوده څان کامیاب کړه
پاک رب د پرچو ټال کښې هر انسان څنګوی

ستـا دنیـا ده ستـا دنیـا ده
پـه رضـا مې ستـا رضـا ده
د چـا لږه د چـا ډیـره
رسـېدلـې د هـر چـا ده
تـۀ کـافـی شې تـۀ شـافـی شې
ربـه تـا نـه مې دُعـا ده

ګله ستا دِ تل تر تله دا مُسکا وی — که بلبل د همیش غم کښې په ژړا وی
په دیدن د اشنا هسې رنګ تازه یم — لکه فصل په باران چې تازه سا وی
په رڼا پسې د پاکې مینې ګرځم — خدایٔ زده کله په نصیب به مِ صبا وی
د بل چا په درد و غم مهٔ خوشحالیږه — کله ستا په کور به هم داسې غوغا وی
بعضې بعضې په دیدن باندې معمور کړې — څنو څنو لره ستا دیدن عنقا وی
بد کلام نه په سل وارې پناه غواړم — سچ کلام دِ زما هر چا له رڼا وی
هغه یار نه څان جُدا کړه مسعوّده
چې په مخ ئې پرتې لاړې د هر چا وی

روغ صحت دِ په نصیب کښې د هر چا وی — په ناروغه څان آفتاب هم بې رڼا وی
په دارو د طبیبانو نه رغیږم — زما یار دِ زما څان له مسیحا وی
چې د مینې ئې راوُځم نور ډوبیږم — معلومیږی دې دلدل کښې مِ قضا وی
پانړې پانړې به دِ ګله دا څوانی شی — ستا د لاسه تل بلبل په واویلا وی
څهٔ به اووینم بهار ستا په یارۍ کښې — چې خزان رقیب له تاسره اشنا وی
رڼا ورځ د امن غواړم زما ربه — بد امنی دِ دې وطن نه تل په شا وی
د حفصې په شهیدانو مِ سلام دے — تر هغې چې څو اباده دا دُنیا وی
اتفاق د پښتنو ربه نصیب کړې — هم په دویٔ دِ تل معموره پښتونخوا وی
ډیره ګرانه راته ښکاری مسعوّده
چې پوره دِ په ژوند دغه تمنّا وی

نـوې میـنـې سره غـم چې مې پـه زړه کښې تهوکیدو
لــکـــه پــرخـــه د بهــاروه پــه رو رو راوریــدو

زړه مې پــه قــفــس د غــم نـعـرې هـمیـــش وهـلـې
یــار بـــه لــکـــه ګـل زما پـه حال کښې خـنـدیـدو

کلـه چې به جنګ زمونږ د سترګو سترګو جوړ شو
تــلــو بـــه پـــه شـا شـا د خپــلــو بدو شـرمیدو

میـنــه کښې ئـې ګیـر ووم د خلاصی درک مې نـه وو
شپـې غـونـدې پـه ژونـد بـه زمـا هر وخت خوریدو

ښه شـولـه زړګـے مې د یـو ګـل پـه جال کښې ګیر شو
دے لـکـــه بـورا پـــه هــر یـو ګـل بـــه بـنـیـدو

عـرش او نـه کُـرسـی وه او نـه زمـکـه اسـمانونـه
ستـورے د جـمـال وو ستـا چـې مـخکښې ځلیدو

څـو مې ورتـــه ووې میـنـــه اور دے قـلار کیـنـه
زړه د مسعـؔود وو چـې پـه هیـڅ نـهٔ صبـریدو

# عــلـــم

عـــلـــم دولـــت دے هــم عــزت یـــادیـــږی
هــم راه نــمــا هــم نــصـیـحــت یــادیــږی
هــم ئــې پـــه هــر څـهٔ فـضیلـت یادیږی
هــم ئــې تیـــارو لــره مشـــال ویــنــمـــه
هــم خــاونـدان ئــې ډیــر خــوشحال وینمه
مــحــروم لـــه دې واړه بــد حــال ویـنـمــه

ستا وصال پسې همیش دَرونه ګورم — کوهِ طور په شانې خکلی غرونه ګورم
چې سر خپل د همه وارو سلسلو دے — پیروکار یمه د ده فکرونه ګورم
چې ئې ځان د حق په مینه کښې ستی کړو — تل په پښو کښې ورته ډیر سرونه ګورم
همیشه د خپلې مینې په تکل کښې — د فقیر غوندې پردی ګورونه ګورم
حقیقی مینه به خدائ راته جنت کړی — ابراهیم غوندې که سرهٔ اورونه ګورم
ستا په عشق کښې چې د شپې ورځې مشغول وی — زه هغو لره خدائی پرونه ګورم
مسعوّده چې د حق طلب کښې ورک ئې
ځکه ډیر د حقیقی شعرونه ګورم

توره وریځ هم توره شپه ده بې چینی — هر طرفته راخوره ده بې چینی
په مسجد کښې هم د دې هوا چلیږی — کور په کور هم په حُجره ده بې چینی
خدائ دِ اوکړی چې د دې بلا نه خلاص شو — په ورېمو چې شی بدله بې چینی
په ټول ملک کښې مسعوّده خوره شوې
په هر لور هره صوبه ده بې چینی

یارانې دی ټولې ډکې د اغراض — نن صبا زړونو نیولی دی امراض
چې خپل مال و سر د دین په بقا زار کړم — خدایه ماکړې د عثمانؓ غوندې فیاض
معاشره کښې د هغو اوچت مقام وی — چې همیش راضی کوی خلق ناراض
خپلې شونډې مِ د خیال په صفه کیږده — چې رنګین مِ د اشعارو شی بیاض
کینه بُغض مسعوّده چې موجود وی
[illegible]

پـه هجران کښې مې ملګرو هسې حال شی لـکه ګل څنګه په للمه کښې بدحال شی
یـاره ستـا پـه جدایۍ کښې هسې ژاړم لـکـه جوړې چې شیبې د پشکـال شی
یـار چې یار وی تـل بـه قدر د یارۍ کړی کـه هر څـو راته رقیب مینځ کښې دیوال شی
خـوش قسمتـه سړے هغـه چا تـه وایـه جـوړ چې چا تـه د یارانـو زلفې تال شی
تـمـام بـاغ وربـانـدې ښـکـلـے ښائستـه وی چې ښائسته بوټی په هریو باغ کښې نال شی
هـر یـو اصـل درتـه څـان پـخپله ښائـی کـه هر څـو پـه قطار لال او کوټی لال شی
هـر ګـلاب خـو ښـکـلـو لـه پیـدا دے خلـقـه هسې ماته جوړ ترینه جنجال شی
د رقیـب پـه خـوا کښـې یار چې کله وینم سـانـحـه مې پـه زړه جوړه د بـنـګـال شی
هر خـواهـش د هـر چـا کله پوره کیږی دومـره بـس دے چې د سیاله سره سیال شی
څـنګ پـه څـنګ د خپل اشنا سره چلیږه یـارانـهٔ نـهٔ پـه دمـونو نـه پـه سوال شی
چې د بـل عـزت تـه لاس دِ کړو بې وجې د هـغـه شـړی کښې لاړ به درنه شال شی
زه پـنـاه غـواړم شیـطان لـعین ابلیـس نـه هم پنـاه مې د هـر قسمـه لویٔ دجّال شی
هـغـه خـلق به وی کامیابه دوجهان کښې چې درود ئې پـه رسولؐ هم ئې په آل شی
کـائـنـات دِ ربــه دومـره ډیر وسیـع دی ترینه جوړ بعضو ته بِګ بینګ غوندې خیال شی

عـــاقبــت بـــه دِ روح لاړ شـی مسعـوده
کـه دِ ډیر بې شانـه دې دنیـا کښې مـال شی

## هـــائیـکـو

چـې ئـې د ښـو لاندې جنـت پـروت دے
هـمیـش لـه دی څینـې دُعـا اخـلـه
تـل ئـې خدمـت بـاندې خـوشحالـه ساتـه

ستا په عشق کښې مستانه یم صُبح شام
چې دِ پروت په میخانه یم صُبح و شام

ستا لیدو پسې مِ عقل فکر لاړو
درپسې زه دیوانه یم صُبح شام

هم په هر څۀ کښې جلوې دِ ښکاره وینم
څکه زه دِ پروانه یم صُبح شام

چې دِ ذکر ستا مدام په زبان لولم
زه دِ هسې ترانه یم صُبح شام

چې مُنکر وی له قرآن او د حدیث نه
زه د هغو بیګانه یم صُبح شام

چې لبان ئې د ښې مینې شراب غواړی
زه د هغو پیمانه یم صُبح شام

سرومال که مِ څی دواړه پرواه نشته
مسعؔود دِ نزرانه یم صُبح شام

سرۀ ګلان ئې په اوربل کښې چې کَت ښکاری
هم ښکلا ئې ده د زلفو هم پت ښکاری

موده پسته یار وعده خپله ایفا کړه
د مسکا سره ئې سترګو کښې ست ښکاری

په هغې خلقو همیش کانی وریږی
څوک چې مینه کښې اشنا سره لت ښکاری

مسلمانه چې د غیر لاسو کښې لوبیږی
بل مشال ئې راته څکه نن تت ښکاری

نن ساقی زما په حال مهربان کړی
څکه څان زما نشه باندې دَت ښکاری

دا کامیاب چې ئې دنیا کښې مسعؔوده
د خپل پیر د پاس په سر باندې هَت ښکاری

## هائیکو

چې نیک ګفتار ئې نیک کردار ئې
صفا نیت ئې نیک سیرت ئې
جهان به تول درته جنت غوندې شی

یــو تیــاره ویــنــم خــوره پــه دې ســمــاج
خــلــق غــرق کــړۀ بې هــوده رســم و رِواج

مــحــتــاجــی تــوره بــلا ده زنــدګـیـ کښــې
یـو لاس مـۀ شـه کـلـه بل لاس ته محتاج

دیـن هـغـه دے چې پوره په ځان لاګو کړې
نـــه پـــه دا چـــې تـــابـــعـــدارئې د مــزاج

عشـق هـمـیـش لـه د فنا سره باقـی دے
ګــوره حــال لږ د حسیــن مـنـصـور حلّاج

ابـراهیـم ادهمؒ په عشق کښې چې قبول شو
بـــادشـــاهـــی ئـــې د دنیـــا کـــړلـــه تــاراج

اهـلِ بیـت ئـې ګـوره واړه شـهیـدان کـړل
چې یـزیـد تـه دوئ پـه حق کړو احتجاج

د حـرص غـرور د لاسـه ئـې ډیـر مـړۀ کـړۀ
راشـــه اوګـــوره ظــلـــمــونـــه د حــجــاج

د لالـچ عـمـر دنـیـا کښـې داسـې ښکاری
لـــکـــه لتـــې پـــه ډیـــران کښــې د دُراج

اسـلامـی دهـر کښـې تـول پـه حق ولاړ وو
غـیـــر مـسـلـــمــو ورکــولــو بـــه خِـــراج

پـه مـانځـۀ کښـې کـامیابـی هم د ژوند راز دے
ګـوره مـونـځ دے هـر مـؤمـن لـره معـراج

پـه لـحـد کښـې ده تیـارۀ هم تنهائـی ده
هم دا مـونـځ کـړه خپـل ملګرے یو سراج

کـــامـــران هـــغـــه مسـعـوّده پـه دنیـا کښـې
د پـرون نـــه چـــې ښـــائـسـتـــه ئـــې شـولـو آج

قبـــلـــوې چـــې د دې لارې خــمــیـــازه
د اشــنـــا کـــره هـــر وختـــې ځـــه رازه

چې ساتـنـه د اوښـانـو کـړې پـه کـور کښې
بیـــا کـــړه جـــوړه ورتـــه دنـګـــه دروازه

تـول پـار سـګ دِ بـرابـر سـاتـه دنـیـا کښـې
کـــوتـــی لال او لال کښـــې اوکـــړه انـدازه

کـــه دبـــل پـــرده اخـلـې ځـان خبـر کـــه
سیـــب بـــه بـــائیـــلـــې د امـرود پـــه تـرازه

د لـږم بـچـے هیـڅـکـلـه نـه خـپـلـیـږی
کـــه هـر څـو ئـې شپـه او ورځ کـړې ملازه

څـۀ لـحـاظ د مشـر کشـر پـاتـې نـه دے
د حیـــا ده هـــر ځـــائ وتـــې جـنـــازه

مســـعـــوّد د هـــغـــه یـــار پـــه لیــدو پـــایـم
چــې ئــې رنګ دے د ګــلاب غــونـدې تــازه

سرې لمبې دی اورِ م بل دے په ګلزار نن
د رقیب په خوا کښې وینمه چې یار نن

خدائ زده قوم د مسلمان به څۀ جوړیږی
مشران ئې چې تابع دی د اغیار نن

چا چې څان د خپل وطن په ننګ شهید کړو
د هغو دی شمعې بلې په مزار نن

پښتانۀ خوری څکه ماتې په هر ځائ کښې
چې ثمر د اتفاق نه دی ویزار نن

مونږه خپل بل کړی اور باندې سوزیږو
ګنی واچوه نظر دِ په کِردار نن

ولې نه کړمه عمل د هغو خلقو
چې کومه ابدالی ته انتظار نن

لږ مسلمه په کردار د مسلمان شه
خپله اوساته جونګړه د انګار نن

چې د دین مذهب او خاؤرې قدر نه کړی
مسعؔود نۀ ځی هغو سره په لار نن

په دې دهر کښې لوئ نام دے د برداشت
که مقام دے خو مقام دے د برداشت

ذوالجلال به دِ ملګرے وی هرځائ کښې
د ولیانو دا کلام دے د برداشت

ټول ښائسته خویونه شته دے په پښتون کښې
خو په خوئ باندې ناکام دے د برداشت

کامیابی ئې په هر لورې څلنده ده
چا چې موندے لوئ انعام دے د برداشت

هغه ملک به خدائ خوشحاله او اباد کړی
چې ئې قوم واړه غلام دے د برداشت

اوس په څان ئې عملی کړه مسعؔوده
چې ورکړے دِ پیغام دے د برداشت

## هائیکو

دا دے دنیا کښی ډیر مشکل عالمه
څوک چې د څان خپله اصلاح اوکړی
نکته چینی ډیر په اسانه کیږی

انسانان وینم وراتۀ په نار د ژبې
لعنتي کړلو شیطان انکار د ژبې

هر پرهر به په دوا د طبیب روغ شي
نه رغیږي په هیڅ شان پرهار د ژبې

چې نعره د اناالحق ئې سم په جار کړه
شو منصور غوندې بزرګ په دار د ژبې

تل نیکي کوه هر چا سره دنیا کښې
چې وانخلې د هیچا ازار د ژبې

مسعود لکه غشے هسې تګ کړي
سم رسا لګي په زړه ګوذار د ژبې

ستا رُخسار دے که ګلاب دے نه پوهیږم
حقیقت دے که سراب دے نه پوهیږم

یاره عشق دِ یو نیکي ګڼم په ژوند کښې
دا ثواب دے که عذاب دے نه پوهیږم

د شبنم غوندې هر چا لره یک سو یم
زړه مِ ټولو له سیاب دے نه پوهیږم

سرګردانه یم په عشق کښې لیونے شوم
ژوند زما هسې ګرداب دے نه پوهیږم

کائنات ئې چې په حُسن ټول رنګین شو
دا مهتاب دے که آفتاب دے نه پوهیږم

سوال زاري ورته کومه نه قبلیږي
یار نه جوړ راته قصاب دے نه پوهیږم

چې نه خوند شته نه مزه زما په ژوند کښې
دا لاځۀ رنګه شباب دے نه پوهیږم

که ئې ډیر لولم هر بار خو پوهه نه شوم
عشقه سخت دِ هر یو باب دے نه پوهیږم

په دروغه ئې ټول ژوند راسره تیر کړو
زړه مِ بیا پسې بې تاب دے نه پوهیږم

وعده اوکړي بیا ئې کړي راسره ماته
اشنا دا رنګې کذاب دے نه پوهیږم

د یار ترس په مسعود باندې رانغلو
چې رستم دے که سهراب دے نه پوهیږم

خود غرضه هر انسان دے په جهان
کۀ د ورور کۀ د عزیز دے کۀ جانان

ځان محفوظ کړه له دې هسې ګندګۍ نه — هم د نفس او د شیطان د بندګۍ نه
چې بې دسته او محتاجه یم په ژوند کښې — امان غواړم له دې هسې زندګۍ نه
چې یو ځان لره پردۍ خونې تباه کړم — خدائ مې اوساته له دې درندګۍ نه
چې لاسونه دې د بل په وینو سرۀ دي — څۀ به غواړې له دې هسې بزرګۍ نه
د یوې سپینې رڼا نه پیدا کیږي — د همه رنګونه زار د بې رنګۍ نه
په اشعارو کښې مشکل لفظونه پریږده — ځان خبر کړه د غزل د سادګۍ نه

مسعوده چې چمن خوشبویه نه کړي
بیا به څۀ واخلې د ګل د تازګۍ نه

حُسن ستا مې زړه راښکلے له ازل دے — دا تقدیر زما لیکلے لم یزل دے
سر به شیندم د رښتونی یار په مینه — که هر څو مې په صراط باندې مزل دے
په مشکله به سچ یار په ګوتو درشی — ګڼی هره یارانه ښکاری چَل وَل دے
ښکاری داسې چې مې روح له تنه لاړ شی — ټول وجود مې د بیلتون په اسه دل دے
هر مقام د عشق وینم چې مشکل دے — آخری ئې پاس په عرش باندې منزل دے
که مشرق او د مغرب بادشاه یادیږی — د مرګی نیته چې راشی بیا اَجَل دے

چې په پټ خیګړه ننګ توره ولاړ وی
مسعود ګوره د هغه ځلمی مل دے

## قطعه

زندګی لکه د ګل ده په هر حال
محبت ئې دے د شهدو په مثال
د انسان د تجربې ښکلے کتاب دے

یاره غم کښې دِ ژړیږم په رو رو — لکه شمع ویلی کیږم په رو رو
یو سیلاب د بیلتانهٔ یم لاهو کړې — قومِ نوحٔ غوندې ډوبیږم په رو رو
چې رقیب او یارِ مِ یو ځائ سره وُلید — زوړ دیوال شومه نړیږم په رو رو
ستا د عشق تاؤ کښې خوشحاله سمندر یم — که هر څو په کښې سوزیږم په رو رو
لکه پرخه د بهار چې شم هر چا له — شب وروز پرې راوریږم په رو رو
په ما داسې کانې اوشوې ستا په مینه — ګل د للمې شوم اوچیږم په رو رو
بې وفا چې سرهٔ ګلان چمن کښې وینم — د بلبل هسې زوریږم په رو رو
تاج و تخت مِ د غرور په سیند لاهو شو — پوهه نه ووم اوس پوهیږم په رو رو
هم خزان به مِ د ژوند په بهار راشی — که محتاج پورې خندیږم په رو رو
یو نظر د شفقت راباندې اوکړه — خُکلی در کښې دِ لوغړیږم په رو رو

د چا زړه مِ ازار کړې مسعوّده
لکه ګل هسې رژیږم په رو رو

که د عقل زغلوم پسې بُراق — نه بدلیږی لکهائی مِ د اوراق
دم په دم راته رسیږی په دنیا کښې — چې لیکلې مِ څهٔ برخه ده رزاق
ستا د دید په طمع طمع زما جانه — پروت دِ در کښې له مودو یمه مشتاق
لږ خو راشه د مرض تپوس مِ اوکړه — ستا دیدن دې زما ځان له تریاق
چرته لفظ د اسانۍ مِ پیدا نه کړو — که مِ اولوستهٔ د عشق واړه اسباق
خوئ خصلت خو ښائسته مِ د رهبر دی — په قرآن کښې ئې عظیم یاد دی اخلاق
چې رقیب او یارِ مِ دواړه سره وُلید — زما درد شو په زړګی هم په تناق
چې طبیعت دِ څهٔ دین اخلی او څهٔ پریږدی — بیا ظاهره دی دا دین پورې مزاق

چې پرواه د مسعوّد د مینې نه کړي

پــه دُعــا مِ لاس اوچــت بـرسـرِ عــام
لــوټ د چــا مــهٔ شــه عـزت بـرسـرِ عــام

د شیـطـان مـکـر تـه ګوره حال ئې څهٔ شو
خـلـق وائـی پـرې لـعـنـت برسرِ عـام

د عبـــدالله بـــن اُبـــی وحـــال تـــه ګــوره
چــې ئـې کـړو مـنـافـقـت برسرِ عــام

میـر جعفر او میر صادق کردار هم یاد کړه
دی تـــاریـــخ کښـــې مـلامـت برسرِ عــام

نیک عـمـل بـنـده د واړه خلقو خوښ وی
ورســـره کـــړی مـــحـبـــت بـــرســـرِ عـــام

د حسینؓ ابـن عـلـیؓ مقام تـه خیال کړه
شــو نـصـیـب ئـې شهـادت برسرِ عــام

تــرقـیـامـتــه بــه عـثـمانؓ سخی یادیږی
چــې ئـې تـل کـړو سخـاوت بـرسـرِ عام

چرتـه لاړ شه پیروکار د نیک بزرګ شه
بیـــا اختیـــار کـړه طـریـقت بـرسرِ عــام

یــوه ورځ دا کـائـنـات بــه ټول فـنـا شی
پــه دنیـا چــې شـی قیـامـت بـرسرِ عام

خیـــر خـــواهـــی د هـــر چـا غـواړه مسعؔـوده
تـــل بـــه اوســـې سـلامـــت بـــرسـرِ عـــام

غـــرور ســـره د ګُـل خـدائیـګـو بُـلبـل وژړیـدهٔ
بیـــا آه د دې بـلـبـل ســره ټــول ګـل وُرژیـدهٔ

ما چې خپـل صـنـم نن د رقیب په خوا کښې اولید
بـــاران زمـــا د اوښـکـو لـــه چشـمـــانـو وریـدهٔ

چــا چــې خپـل سـرونـه د الله پـه نـوم تـمـام کـړه
دوئ پـــه بـــاغـیـچـو کښـــې د جـنـــت وُسـریـدهٔ

هغـه خـلـق هـمیش لـه پاس په بام باندې ښکاره دی
ځــوک چــې د عشــق لار کښــې پــه دنیــا وکـړیـدهٔ

ځـو مـره زلـزلـې ستـا د بیـلتون په قآسم راغلې
ښـکــاري مــئـیـن زړه ئې پرې والله وډرېدهٔ

ګلابه ستا چې د ښکلا چغه ده
د هر بلبل د واويلا چغه ده

چې زه له تا او ته زما نه خفه
ښکاری چې دا د يو وبا چغه ده

دا د غريب د خلې فرياد ښکاريږی
نن چې په زمکه او فضا چغه ده

دا د حالاتو تبجنی چې ګورو
زمونږ په خُله د مسيحا چغه ده

د وخت يزيد د ناکردو د لاسه
نن مو په ملک د کربلا چغه ده

تيارې د ظلم دی هر خوا ته خورې
د مظلومانو د غوغا چغه ده

بچی ئې غيږه کښې د غيرو کيناست
د پښتو ژبې د ژړا چغه ده

څۀ عبادت به مِ قبول شی خلقه
چې مِ په ژبه د رِيا چغه ده

په اتفاق به مسلمان باقی شی
د پوهه خلقو خو هم دا چغه ده

دا مسعوده د ژړا مقام دے
د هر يو نفس چې د اَنا چغه ده

بهترين دے په دنيا هغه انسان
چې هم وائی او هم اوښائی قرآن

صفايی سره وجود هميش تازه وی
صفائی يوه حصه ده د ايمان

پرده پوش به ئې قيامت کښې پاک الله شی
چې ساتلې وی پرده د مسلمان

د هغۀ سړی څۀ دين او ايمان نۀ وی
چې پاس نه لری د عهد په جهان

مسلمان په دې دنيا کښې هغه بويه
چې د لاس ژبې محفوظ وی مسلمان

چې د خدائ په مخلوقاتو رحم نۀ کړی
رحم نۀ کوی په دۀ باندې سبحان

شفاعت کۀ د قيامت د ورځې غواړې
درود وايه په نبی اخر زمانؑ

د عمل د پاره دواړه ضروری دی
مسعوده يو حديث او بل قرآن

دوست هغه دے مسعوده په دنيا کښې
چې پکار دِ شی په ډير سخت امتحان

روستو جوړه د تحقیق نه نظریه ده — بیل بیل خیال د هر چا خپله نظریه ده
یو نظام د کمیونزم کامیاب ښائی — چې د مارکس او د لینن یو نظریه ده
د بِزو نه د انسان تخلیق ښکاره شو — د ډارون دا یو خپل خیاله نظریه ده
په دنیا چې ابادی بربادی ښائی — د ایتهم دغه فی الحاله نظریه ده
چې تمام عالم خبر ساتی یو بل نه — د ریډیو د مارکونی دا نظریه ده
داسې خیال کیپیټلزم هم چلیږی — شوپن هال داسې پیش کړې نظریه ده
میتهائش، شوان پیدا وو جرمنی کښې — د خلوی دوئ بیان کړې نظریه ده
عظیم فکر هم د ابن العربیؒ دے — چې د یو وجود پیش کړې نظریه ده

دا یو خیال د ربانی هم څلنده دے
د وحدت شهود واکړې نظریه ده

که هر څو د چا آسمان وته ختهٔ شی — لکه نمر به عاقبت په پریواتهٔ شی
خوش اخلاق بنده ګفتار نه معلومیږی — تل په ژبه ئې درانهٔ وایهٔ شی
ده ناپوهه اشنائی داسې لیدے شی — لکه باز د زړهٔ په غوښو چې ساتهٔ شی
یو لحظه عمر د چا زیاتوې نه شی — که راغونډ دِ تمامی جهان ماړهٔ شی
چې نکاح دِ د تېر ورسره کیږی — شرع وائی چې دے بند ستا په کالهٔ شی
کهٔ برسیره خزانې ئې وی د زرو — بې انصافه وطن کله به ښهٔ نهٔ شی
هغه قوم آخر فنا شی له دنیا نه — چې انصاف ورکښې په بیعه خرڅیدهٔ شی
دا وطن به یو جنت شی په دنیا کښې — چې هر چا ته عدل یو شان رسیدهٔ شی
کله یاد چې د اشنا زما په زړه شی — ترمې اوښکې مِ بې واره په راتلهٔ شی
ډیر غرور په حُسن مکوه دلبره — لکه ګل به دِ ځوانی په رژیدهٔ شی

پښتونخواه به یو جنت شی مسعوده

مشــکــلاتــو یــم ګیــر کــړے د دوران
اووم کــال د دوهــزار پــه پښتون سخت وو

ابــادی هــم راتـــه ښــکــاری بیــابــان
را دِ نـــه شـی داسـې کـال پـه دې زمـان

شِرق او غرب به غلامان ئې شی دنیا کښې
اتــفــاق کـــۀ چـــرې اوکـــړو مسـلـمـان

د دې وخت پـه ګـردشونو به نسکور شی
دا چـــې ویــنـــې مـحـلـونـــه عــالیشـان

اوس ئـې خوښه چې هر رنګ لوبې په تا کړی
چـې اختیـــار دِ بـل لـه ورکړو د خپـل ځـان

یهـودی بــه کـلـه دوست د مسلم نـه شی
دا فــرمــان دے خـدائ راستـولـے پـه قـرآن

چـې همیــش طـمع لالچ کـړی د کـافـرو
مــخـتــورن بـــه وی داهســې مسـلـمـان

مســعـود چـې همیــش ناز بــه پرې کـولـو
هــغـــه خپـل تــریـنـــه جدا شـو هـم یـاران

د زاغـانـو پـه چمن کښې شور ماشور دے
د بـلـبـل ربـاب د غـم پـه نـغـمـه سور دے

هغـه څوک چې په عالمو ظلم زور کړی
تـل ګیـر شوے دے د بـل بـنده پـه زور دے

هــم دِ خپـل هـم دِ عـزیـز هـغـه بـنـده ده
چـې د سر نـه ئې مـړ کـړے درلـه اور دے

خـوش قسمتـه ئې ګـڼمـه پـه څو چنده
چا مـوندلے چې د بل سینه کښې کور دے

بـد دعــا د مـور پـلار لـګـی نیغ پـه نیغـه
جـنت وائی چې د پښو لاندې د مور دے

طـلاق هـر څـو کـۀ جائز دے خوښۀ نه دے
شیـطـانـانـو تـل د بـل وران کـړے کـور دے

خـوشحـالـي د مسعـود یـو پـه څلـور شوے
پــه خـندا ئـې چـې ګـلاب اشنـا سمسور دے

هــر انســان پــه کښــی خـفــه دے مسعـوده
لـــګـــیـدلـــے د هــر چــا پـــه داؤ عــزت دے

د یتیم پــه سـر هـمیـش لـه اړده لاس
پــه دنیــا بــه د پوره شــی هــر یــو آس

کــۀ هر څــو مره مشکلات درباندې راشی
بیــا اوچــت ډِ پـــه دُعــا کــړه دواړه لاس

داسې ښکاری خوشحالی په جهان نشته
د هـــر چـــا پـــه مـخ آثــار دی د اُداس

چـې پـه شـرع ئـې مثـال د حکم نـه وی
بیــا ډِ حــق دے فیـصلــه کـړه پــه قیاس

چې ډِ فـکـر مـذبـذب د خدائ په شان وی
دا شیـطــان دے زړه کښـې اچوی وسواس

هـغــه کــار هـغــه مـکـان پائیدار نـه وی
چې مضبوط او پوخ ئې جوړ نکړې اساس

هم عیسٰیٰ د رب میلمه دے په اسمان کښې
هــم نــصیـب ئـې دا مـقـام کـړو د الیـائش

خــوږه ژبــه خپــلـول هــم عبــادت دے
نـه په خُـلـه کښـې چـې زبـان لرې الماس

پـه نظر باندې چې سپک ورته ښکارېږي
څــۀ لــه کیـږي دې بـنـده تــه کـوزوپاس

هــم چې بُغض وی یو بل سره محفل کښې
څه به خوند د دې مجلس وی څۀ متهاس

د خــوږو خلـقـو مـحـفـل پــرې بـربـادیـږی
چې داخل شی په کښې یو زوئ د خنّاس

چې عـمـل ډِ خپـل اشعارو باندې نـه وی
هسې کـرښـې وهـې څــۀ لــه پـه قرطاس

مســعــؔوده امـــان غــواړه مــفـلسیٔ نـــه
پـــه دنیـــا لــوئ امتــحــان دے د افــلاس

★

کــلــمـــه د پـــاک مــولا
لا الــــــــــــــه الا الله

کـــړه زبــان پـــه دې ګـویـا
چـې ښـائستــه ډِ شی عقبٰی

هــم آخــر کښــې ورسره کــړه
مــحـــمـــد رســـول الله

دا فـــائـــده هـــم د دُنیـــا ده
هــم فـــائــده ده د اُخــرٰی

مسعـؔود بـه شی کامیابه
کــۀ عـادت ئـې شـولـو دا

اول او پیـــژنـــه څـــان | بیـــا بـــه پیـژنــې سبحـــان
هـم وسـعـت د کـائـنـاتـو | هـم د زمـکــې او اسـمــان
هـر یـو څیـز ئـې ثـنـا وائـي | د رب جـوړ شـه ثـنـا خـوان
کـامیـابـي د هـغـه چـا ده | چـې بـنـده شـي د رحـمـان
عبـادت لـه ئـې پیـدا کـړه | هـم پیـریـان او انسـانـان
پـه عـمـل بـه ئـې کـامـران | د سـنـت او د قـرآن
کـامـرانـي پـه کښې څـلیـږي | د رسـولؐ مـو دې فـرمـان
مسـلـمـان هـغـه کـامیـاب دې | چـې صـحیـح دې مسـلـمـان
بـل مسـلـم چـې ازار نـه کـړي | نـه پـه لاس نـه پـه زبـان
ډیـر سـرکشـه خـدائ تبـاه کـړه | کـه فـرعـون دې کـه هـامـان
هـم تبـاه ئـې کـړه عـادیـان | داسـې ګـوره ثـمـودیـان
تـه فـانـي ئـې زه فـانـي یم | هـم فـانـي بـه شـي جهـان
بـس بـاقـي بـه ذوالجـلال وي | دې کـریـم، رحیـم، سبـحـان
کـه کتـاب د تـرقّي دې | یـو کتـاب ښـکـلـې فـرقـان
غـوره دیـن دې مسـعـوّده
اسـلام ګـوره پـه هـر شـان

# قـطـعـه

درس زده کـړه لـه ګـلـونـو د وفـا
مـړاوي کیـږي لـه ازغـو چـې شـي جُدا
خـوب د هـغـه یار خـنـګـل بانـدې مـزه کـه
چـې همیـش لـه سـتـا پـه غم کښې وي فنا

څوک پـه عـمـل د تـصـوف چې درجـو تـه رسی
هغـه پـه حقـه د عـرش پـورتـه مـنـارو ته رسی

سوو نغمو ئې د ګلاب ځوانی کړه پاڼې پاڼې
د ګـل غـرور څـۀ د بـلبـل سوو نغمو تـه رسی

وختـونـو مـابـاندې هـر قسمـه ازمیښتونـه اوکړل
کلـه ځـوانی بـه مِ ژوندون کښې خوشحالو ته رسی

ناصحـه ستـا نـصیحت ښـۀ دے راتـه ښـۀ وائې تـه
کـلــه بـاغـونـه ستـا د عشق باغیـچـو تـه رسی

چـا چـې د وخـت قـدر دے کړے هغوئ پورتـه لاړه
د وخـت بـې قـدره تـل نـاکـامـه سلسلو تـه رسی

کـلــه چـې بـاد د پسرلی پـه ټـول چـمـن اولـګی
ګـلـونـه خـامـخا خـائست سره وږمـو تـه رسی

اے مسعوده عـاشقـانـو ته ټول حق ښکاریږی
کـه کـوهِ طـور باندې ولاړ وی که لمبو ته رسی

# زنــدګــی

داسې ښـکاری چې یـو خـواب دے زنـدګی
یـو خـوشبـویـه سُـور ګـلاب دے زنـدګـی

د مـنـزل او حـقیـقـت ئې زر لټـون کـړه
امتـحــان او یـو ګـرداب دے زنـدګـی

یـو مثـال د افسـانـې هسې لیـدے شی
هـم سـفـر دے لـوئ سـراب دے زنـدګـی

دے اسلام زما ارمان — په دې ملک د پاکستان
چې نافذ وی کوم وطن کښې — د رحمت وی پرې باران
هم رحمت سره وی وروره — برکتونه راروان
پر دے قرض لویه بلا ده — ځان ترې بچ کړه دا زمان
پردے قرض ورته معاف نه وی — که په دین شی شهیدان
وخپل حق به الله معاف کړی — نه د بل چا په هیڅ شان
که په سخته وی که نرمه — د دنیا تیر شی ګزران
قدردان د خلقو جوړ شه — خلق به ستا شی قدردان
د هر چا په خوږ دردمند شه — چې دِ خلق شی دوستان
پرده دار د هر چا جوړ شه — ستا به رب شی نګهبان
نوي نوي نظارې وی — په هر شان په هر یو آن
وی خوشبو په ګلستان — هر خوا وی امن و امان
زما ځان زما ځیګر دی — هم رحمان او حمزه خان
هم حالی، اقبال، غالب دی — شیرازی هم خوشحال خان
دا حصه د زندګۍ ده — خوشحالی غم او خفګان
د چا کور کښې تماشې وی — څوک ککړ په غم د ځان
د چا نصیب کښې دنیا ډیره — څوک پسې وی سرګردان
چاله ورکړی تولې لونه — چاله ورکړی هلکان
څوک محرومه کړی له دواړو — دا اختیار دے د سبحان
د ړومبي آیت مفهوم دے — دولسمه کښې بیان
هر زنده چې دے دنیا کښې — خدائ ئې دے روزی رسان

مسعوده قرآن وایه
رڅوی د زره ارمان

نــه مـحبـت کښــې سر نـه تیـرې پروانــې ښکـاری
نـــه پـــه چـــمـــن کښـــې د بـلبـلو ترانــې ښـکـاری

هــغـــه دمیــنـــې مـحـفـلـونـــه د یـارانـو چـــې وو
نـه د مـحـفـل هـغـه ښـکـلا نـه میخانـې ښـکاری

چـې د وصـال پـه وخـت لـوظـونـه بـه اشنـا سره وو
نـه هـغـه لـوظ شتـه د یـارانو نـه بهانـې ښکـاری

د پیــغــلـو ډلـــې بـــه روانـــې وې ګـــودر پـــه پـلـو
نـــه د ګـودر هـــغـــه مـزې نـــه نښـــانـې ښـکـاری

چې به ئې زمکې نه پاس عرش په خپل نظر لیدلو
هـــغـــه پیـــران د زمـــانــې نـــه آستـــانـې ښـکـاری

نـه بـه مـاضـی واپـس پـه تـا کلـه دنیا کښې راشی
نـه مستـقبـل کښـې د مـاضـی تیـرې کانـې ښکاری

هـر یـو دنـــه د نـفـاق پـه مـرض سخا دے ګـلـه
پـــه مــخـامـخ شـکـل تـازه د ایـنـدوانـې ښـکـاری

نـه مسعـّوده چـا کښـې مینه او اخلاص لیدے شی
نـــه د پښتـــو پـــه نـنګ ولاړې دوستـانـې ښـکـاری

# عــــلــــم

عـــــلـــــم خیــــــــز دے لازوال
لـــوئ دولــــت دے پــــه هـــر حــــال
هـــــم رہـــــا د ژونـــــدانــــــهٔ ده
هـــــم خـــــاونـــــد دے د کـــمــــال

حق چې حقدارو ته ملاؤ شی ښۀ صفا ګله | هله به وايو چې آزاد يو په رښتيا ګله
حق چې حقدارو ته ملاؤ شی ملک کوی ترقی | بغير انصافه قوم آخر کوی ژړا ګله
تُوکلې لاړې خلې له کله بيرته بيا نه راځی | نن سوچ پکار دے چې کړو دلته حق ادا ګله
يو جدوجهد پښتانۀ کړی د څو کالو راسې | کله نامه به د سرحد شی پښتونخوا ګله
دغه خواهش د پښتنو په زړه کښې لاړې اوکړې | کله د دوئ به شی قبوله دا دُعا ګله
پښتو مضمون تر دولسمه لازمی پکار دے | دا زمونږ وينه ده وجود او هم وفا ګله
صوبه زما ده پښتونخوا دام دے کور سامعه | زه ئې مجنون يمه او دا مې ده ليلیٰ ګله
وطن زمونږه پاکستان دے په دې سر ورکوو | خو حق پرست يو کړو د حق به واويلا ګله
قوم د وطن راته مرض کښې مبتلا ښکارېږی | خدايه پيدا کړې دې مرض له مسيحا ګله
قانون د غيرو مُسلط زمونږ په ملک باندې دے | ربه نافذ کړې شريعت د مصطفیٰ ګله
جمهوريت او کميونزم ټول ناکام ليدے شی | کامرانی ښکاری په اسلام زما او ستا ګله

اے مسعؔوده د ماضی غلطو نه لاس واخله
د يو روښانه مستقبل اوکړه تابيا ګله

غم مې د جانان، ژړوی مې په هر آن | ژړوی مې په هر آن، غم مې د جانان
مزه نکړی ګلستان، چې ژړېږی ئې ګلان | چې ژړېږی ئې ګلان، مزه نکړی ګلستان
اخته غم کښې مسلمان، چې ئې پرېښے دے قرآن | چې ئې پرېښے دے قرآن، اخته غم کښې مسلمان
د هر چا دے امتحان، چې راغلے په جهان | چې راغلے په جهان، د هر چا دے امتحان
چې ړومبے وو کيمياء دان، وو جابر ابن حيان | وو جابر ابن حيان، چې ړومبے وو کيمياء دان

ثنا وايه د سبحان، مسعؔوده په هر آن
مسعؔوده په هر آن، ثنا وايه د سبحان

ګــوره د یــار مِ چــې رقیــب ســره خـندا جـوړه ده
پــه زړه دنــنــه مِ لــه ورایــه کـربـلا جـوړه ده

نــن بـلـبـلانــو کـډې اوکـړې لـه دې بـاغـه ځیـنـې
ځـکـه چـمـن کښـې د زاغـانـو یـو غـوغـا جوړه ده

چــې د ســحــر مــاخــام ثـنـاء وایـم دلبـره مـدام
مــاتــه د هــر وګــړی خـلــه اوسـی د دُعــا جـوړه ده

یـا خـو اخـلاص وو د یـوسفٔ او زلیـخې مینه کښې
یــا پــه اخـلاص مِ میـنــه تـاسره اشـنـا جـوړه ده

پـه پـت او ننګ ولاړ پښتون ځلمی اوسیږی پکښې
ځـکــه مـو سیـمـه نـن روښانـه پښتونخوا جوړه ده

چــې د بـلـبـل د زړګـی وینـې پـرې راکـاږې همیـش
ګـلابــه خـنـګــه پــه لبـانـو دِ مُـسکـا جـوړه ده

د زړه شیشې د کینې رنګ باندې خیرنې وینم
خو مسعّوده شیشه خدائیګو سا صفا جوړه ده

چې حق کاندی حق منی قلندر دا دے
پــه مـعـنـیٰ د یـو نـقـطې سمندر دا دے

د خــالــق پــه فــکــر ډوب د کــائـنـاتـو
تـل پـه شـاړو میـرو پـروت سکندر دا دے

چې جُدا زړونـه پـه خپلو کښې یو ځایٔ کړی
یــو د میـنـې پیـوسـتـونـکے ونـدر دا دے

چــې هــر وختــې زوروَی او تـزنـوی ئې
وهـر چـالــه ژونـدانـهٔ کښـې پلَندر دا دے

چــې د خــدایٔ د احــکــامـاتـو نــه منـکـر وی
مســعـــوده انســـان نـــه دے بــنــدر دا دے

# د ظلم انتها

په ماشومانو دِ يلغار کړے دے جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے
تا مدرسې نه کربلا جوړه کړه
اسلام آباد کښې دِ غوغا جوړه کړه
ظالمه دا دِ څۀ سما جوړه کړه
تا د يزيد په شانې کار کړے دے جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے
په لال مسجد کښې دِ قتلونه اوکړه
ظالمه دا دِ څۀ ظلمونه اوکړه
تا په بې وسو ګزارونه اوکړه
په مجبورانو دِ ګزار کړے دے جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے
دا دِ د ظلم انتها وينمه
د کربلا نه هم سيوا وينمه
د مظلومانو وِير ژړا وينمه
تا د تور سرو په سر وار کړے دے جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے
ډير ناروا دے ستا د ظلم داستان
اودِ سيزل د حفصې ماشومان
هم زنانه او هم د دې استاذان
بيا دِ د پاسه پرې بمبار کړے دے جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے
دلته درسونه د اسلام به کيدل
د پاک الله عظيم کلام به کيدل
هم د سنت نبيؐ کلفام به کيدل
تا د دې وارو نه انکار کړے دے جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے

تـــهٔ صـــدر بُـــش امـــریـکـنیـــان ویـنـــې
هـــم اقتـــدار کښـــې صِـــرف ځـــان ویـنـــې
چـــرتـــه عـــراق افـــغـــانستـــان ویـنـــې
تـــا پـــه کـفـــارو اعتبـــار کـــړے دے جـــرنیلـــه ظـلـم دِ پـــه جـار کـــړے دے

تـــا بـــا جـــوړ وزیـــرستـــان وران کـــړو
هـــم د پښتـــون پښتـــونستـــان وران کـــړو
ګـــلشـــن وطـــن دِ پـــاکستـــان وران کـــړو
د مـــلک ورانـــولـــو دِ اقـــرار کـــړے دے جـــرنیلـــه ظـلـم دِ پـــه جـار کـــړے دے

پـــه پـــالیسو کـفـــر خوشحـالـــه ساتـــې
هـــر مسلـــمـــان پـکښـــې لیوالـــه ساتـــې
د خپـــل وطـــن خـلـــق بـدحـالـــه ساتـــې
تـــا پـــه هر ځایٔ کښې دا اظهار کړے دے جـــرنیلـــه ظـلـم دِ پـــه جـار کـــړے دے

تـــه ئـــې پـــه اصـل د بهـــارت جـرنیلـــه
هـــم پـــرویـــز ے پـــه اصلیـت جـرنیلـــه
هـــم دهـــر بـــه ئـــې پـــه نسبـت جـرنیلـــه
تـــا مـــحبـت د هـــر کـفـــار کـــړے دے جـــرنیلـــه ظـلـم دِ پـــه جـار کـــړے دے

وو اتـــهٔ سـوه کـم و زیـــات مـــاشـومـــان
ظـــالـمـــه تـــا کـــړه بـــې ګـنـــاه بـنـدیـوان
تـــریـنـــه دِ تـــاؤ کـــړهٔ پـــه زرګـونـو فـوځیـــان
بیـــا پـــه لاچـــارو دِ یـلـغـــار کـــړے دے جـــرنیلـــه ظـلـم دِ پـــه جـار کـــړے دے

میـــاشـــت د اګســـت ۲۰۰۷ وو د کـــال
وو د ګـــرمـۍ ګـنـــده مـوسـم پشـکـــال
وو د خـــورانـــو مـــدرسـه کښـــې بـدحـــال
دا شـــبِ خـــون دِ پـــه اتـوار کـــړے دے جـــرنیلـــه ظـلـم دِ پـــه جـار کـــړے دے

وُدِ سيزل ټول قرآنونه پکښې
هم د حديثو کتابونه پکښې
هم اسلامي ډير تاريخونه پکښې
تا د شيطان غوندې کردار کړے دے        جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے
د خدائ نيول دِ واؤره سخت پرويزه
جوړ به شې خلقو ته عبرت پرويزه
ئې لعنتي به په قيامت پرويزه
څکه چې تا حق نه انکار کړے دے        جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے
بې حرمتي دِ د قرآن اوکړه
د لال مسجد دِ په ښه شان اوکړه
هم دِ د هريو مسلمان اوکړه
مسعوّد ډير درته ازار کړے دے        جرنيله ظلم دِ په جار کړے دے

ټول عالم مو په دې وجه تماشبين دے
چې د غيرو په امداد زمونږ يقين دے
کوم يو څيز دے چې زمونږ په ملک کښې نشته
بس کمے د نيک عمل محکم يقين دے
ضابطه قوي په هر ځائ کښې پکار ده
ضابطه د ټول حيات زمونږه دين دے
رشوتي له د پهانسۍ سزا پکار ده
بدنامي ده د ملک تور داغ په جبين دے
چې ښائسته وي هم خوشحاله مسعوّده
ځان او زړه مِ دې وطن باندې مئين دے

خدايه ژوند مې تېول روښانه په قرآن کړې
هم شفيع مې په قيامت نبی سلطانؐ کړې

د نيکۍ لاره کښې ناست راته د دښمن دے
خدايه هر عمل په ضِد مې د شيطان کړې

ژوندګی مې چې د رب په يادو نه وی
خدايه ما له داسې ژونده په امان کړې

چې د خپله معرفته خبر نه ئې
بيا به څنګه معرفت د پاک سبحان کړې

ګمراهی چې خوروی د دين جامه کښې
خاؤرو لاندې ربه داسې ټول پيران کړې

په خوږو خبرو تل سړے درنيږی
چلول په خوږ ګفتار مې د ژبان کړې

د جنت باغچو کښې هله به څريږې
چې خپل تن د الله لاره کښې قربان کړې

ښۀ پو هيږې غشے ستا نۀ وررسيږی
بيا ويشتل څۀ له په غشو د آسمان کړې

د ديوال سره ډغرې هسې ښکاری
عاقبت به دا خپل سر ورباندې وران کړې

له مزاجه د فرعون دِ معلوميږی
دا مجلس د ښو يارانو به سنسان کړې

قط په قط چې به اور بل باندې ګلان کړې
ډير به ما غوندې بې دِله بيماران کړې

مودو راسې بې ديدنه بيمار پروت يم
د يار ديد زما مرض لره لقمان کړې

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

په ښۀ خوئ به د کابل شمه منه
په بد خوئ به شم د يار د پښې پنه

د هغې انسان په سختـه وخت تيريږی
چې په کور کښې ئې عورته وی کنه

کۀ تۀ خلقو ته په سپک نظر کتل کړې
تۀ به هم شې داسې سپک لکه بنه

چې وجود دِ پرې مضبوط وی مسعوده
په خوراک کښې ځان له خوښه کړه چنه

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

# حمد (آزاد نظم)

ئې کریم رحیم رحمٰن
هم خالق قدوس سبحان
که دی غرونه که سیندونه
ونې شاړې چمنونه
هم ازغی دی که ګلونه
که دے نمر او کۀ سپوږمۍ ده
که دی زمکې اسمانونه
هم د شپې ستوري څلیږي
په اسمان لکه بلبونه

ته ئې هر څۀ کښې عیان
لویه خدایه لوئ دِ شان

که شي ونې قلمونه
هم سیاهي سمندرونه
اولیکل پرې ستا صفت شي
دابه ختم شي تمام

نه صفت دا ستا د شان

په دنیا چې انسانان دي
فرښتې دي کۀ پیریان دي
چرنده چې دي په مزکه
په هوا کښې چې مارغان دي
که په کانو کښې چینجي دي
په دریاب کښې چې ماهیان دي
که په سورو کښې میږي دي

که رَحِم کښې ماشومان دي
ستا رحمت دے په دې ټولو
ئې رزاق روزي رسان
چقندر او که الو دے
مرچکے دے که نیمبو دے
چرته پیاز او که مسور دے
که غنم دي که ګنے دے

رنګا رنګ میوې دا شان
ختکی خورې کۀ سیوان

هم انګور دي که ګَلګَل دي
کۀ امو نه نارنجان
داسې ډیر ستا نعمتونه
ما دا څو کړل ترې بیان

څومره ښکلے دے انسان
تاپیدا کړو په ښۀ شان

هر اندام ئې فلسفه ده
ښکلے مخ ئې هم چشمان
ګوره لاس او پښې ئې داسې
هم ئې زړۀ، مغز، زبان
جمادات که نباتات دي
چې دا څومره کائنات دي
ته په هر څۀ کښې موجود ئې
ته په هر ځائ کښې موجود ئې
لاشریک ئې تۀ احد ئې
لم یلد ولم یولد ئې

ته عفی ئې ، ته کافی ئې ، ته شافی ئې
ته په هر چا مهربان
تهٔ رحيم کريم رحمٰن
د بخښنې سوال له تا کړم
زه عاصی مسعؔود خان

## (آزاد نظم) نعت شريف

ته رحمت د عالمين ئې
هم په خپل امت مئين ئې
د پاک رب ډير نازنين ئې
هم ته ياد صادق امين ئې
ته امام الانبياء ئې
هم د زړونو تمنّا ئې
د عاشق د زړه دوا ئې

ستا پيروی لويه رڼا رسولهٔ
نفع دنيا هم د عقبیٰ رسولهٔ

جنت دِ وليدو عيان
درته ښکاره شو هر اسمان
شوې حاضر په لامکان
ستا د اخلاقو پاک سبحان
کړے صفت ئې په قرآن
وائی عظمت دِپه ښه شان
زه مسعؔود په تاؐ سلام کومه
هم دِ درود سحر ماښام کومه

ته مِ شفيع شې په قيامت رسولهٔ
[illegible]

که په ژوند باندې پوره مې دا ارمان کړې — چې جانان زما د ځان ما د جانان کړې
ګوره بیا که د یار ترس راباندې راشي — لږ ښکاره ورته زما خیرې ګریوان کړې
چې زما خیرې ګریوان پورې خندیږي — تمام ژوند ئې د ښې ورځې په ارمان کړې
که دِیو ځلک دیدن چا سره اوشي — لیونی زما په شان به عاشقان کړې
په هر دم د مشکلاتو سره مخ یم — رب ژوند مې د فاني دهر آسان کړې
د تقدیر لیکلي وخت په وخت در رسي — هسې څۀ له غریبۍ باندې خفګان کړې
د قضا په وخت مې رب درنه سوال دے — د توحید په ذکر ژبه مې ګویان کړې

دِ محشر په لویه ورځې مسعوده
مهربانه په ما رب کریم رحمان کړې

دا ښائسته ښکلې دنیا — چې هم ستا ده هم زما
چاله غاړه غړی ور شي — چاته شي د غم دریا
په چا توره شپه شي جوړه — د چا شپه کاندي رڼا
څو مره زه ئې وفا داریم — دومره دا ده بې وفا
په هر دم ئې طلبګار یم — دا راکاړي ځان له ما
عاشقان ئې دي بسیاره — څوک خفه دي څوک رضا
هر علاج په کښې ممکن دے — ده د هر مرض دوا
داسې ډیر وینم عالمه — چې ئې نه کوي پروا
دا دنیا وریسې زغلي — ورته نه ګوري په شا
که وي ډیره که وي لګه — امتحان دے د هر چا
که بیخي چا سره نه وي — لوئ عذاب دے د مولا
دنیا دار که هر څو بد وي — خلق به لرې ئې اشنا

څوک تر مخکښې ځي څوک روستو — عـــزت مـــنـــد وي د هـــر چـــا
پردی تـول ئـې بيـا خپلوان شي — هـم چـاچـا شـی هـم مـامـا
د چـا ژونـد شـی پـرې روښانــه — چـالـــه جـوړه شـی سـزا
چـاتــه ګـل چاتـه اغـزی شـی — پـه چـا غـم پـه چـا خـنـدا
دومـره غـواړه د سبـحـانــه — چـې دِ جـوړه وی حيـــا
د دنيـــا پـــه مـحبـت کښـې — خپـل ايـمـان نـه کـړې خـطـا
دې دنيـا کښـې مسـعـوّده
فـکـر مـنـد شــه د عـقبٰـی

❋

چې د خدائ په عشق کښې نه وی سرفروش — داسې کـس دِ پـه مـرګی شی سبکدوش
د اسمـان زمـکې پَردې بـه ورتـه واشـی — چې د پاکې مينې چا کړه شراب نوش
زمـا يـار زمـا د ژونـد ښـکلے نـګار دے — څـکـه يـمـه ورپسې خـانـه بـدوش
هـر يـو کـار کښې د الله رضا قـوی کـړه — نشتـه يـو کـار پـه دنيـا لـه ده روپوش
د پښتـو ژبـه بـه هـلـه تـرقـی کـړی — چې پښتـون پـه مينـه ورکاندی آغوش
پـه اظهار بـه شيـطانان تـول راپسې شي — د عشـق زور دِ پـه زړګـی تيـروم خاموش
پـه تبـلـيـغ بـه رب مـقام درلره درکړی — نـه دننـه چې پـه غـار حلقـه بگوش
چې پـه روئ ئـې کائنات واړه پيدا دی — څـان ئـې خـاؤره قبـلـومـه د پـاپـوش
ميـخـانــه کښې د رب نـاست يـم مسعـوّده
ښـکـلـومـه خـکـلی خـکلی يم مـدهـوش

د بـدانـو نــه اکـثـر خـورې بـدی شـی
د دوستیِ خـريـد هـمېش لـه پـه دوستیِ شی
لــه فـضـول وېـنـا بهـتـره خـامـوشـی ده
د وېـنـا حُـسـن اکثـر پـه خـامـوشیِ شـی

چې د عشق په تهمتونو باندې تور شي — ترينه جوړ په ژواندانهٔ مړے د ګور شي
د زړه زخم به مې څهٔ روغ شي عالمه — چې راښکلے پرې د يار د وروځو لور شي
ظلم زور زياتے پکار نه دے دنيا کښې — عاقبت د ظلم لوښے رانسکور شي
چې بلبل مې د زړګي پکښې خفه وي — د بوستان واړه ګلونه دې په اور شي
تباهي د آخرت د هغه چا ده — چې دا ښکلے ژوند ئې تير په ظلم زور شي
هيڅ پښتون له مناسب نه دی بې وجې — چې ئې تيره زندګي د حور په کور شي
خور او لور کره ورتږ څهٔ منع نه دے — نه په دا چې څوک ديره په لور او خور شي
زوئ به نه شي د پردي ښځې راؤړے — نه به څوک د حقيقي ورور په شان ورور شي
نرمي ښهٔ ده د بچي سره اے خلقه — دومره نه چې بيا هم ستا په اوګو سور شي
اشنائي د هغه خلقو وي خيرازه — دوه ياران چې د يو بل په غم غمخور شي
پړق له دواړه لاسو خيژي دا متل دے — د يو کس کړنه بدله په پيغور شي

خدمتونه د مور پلار کړه مسعوده
جنتونه په تعظيم د پلار او مور شي

څنګه تير شو دا د عمر دوران زر زر — رانه لاړه ټول د مينې ياران زر زر
د خزان سپيرهٔ بادونه مې په سر دي — سرهٔ ګلونه بويوم د بوستان زر زر
داسې تيز د ژوندانهٔ سفر ليدے شي — لکه تيز د پشکال وی باران زر زر
دوه ياران د مينې تل چې جدا کاندي — دا کارونه کړي دنيا کښې شيطان زر زر
په يو کار کښې انتظار ترې کيدے نه شي — هر يو کار دے په دنيا د انسان زر زر
په رموز اوقاف ئې فکر ډير پکار دے — بې له دې نه څهٔ له وائې قرآن زر زر
چې ئې خيال د زير زبر نه ساتې ياره — راته ښکاري شې به خلاص له ايمان زر زر

آخرت به دې ښائسته شي مسعوده
[illegible]

چې دِ څو مره په هر چا باندې اعتبار وي
ښکاري دا چې د لستوني به د مار وي
په اعتبار کښې داسې غم درته راپیښ کړي
چې د ټول عمر دنیا کښې ناقرار وي
چې دِ حق د بندګۍ نه پوره کیږي
داسې کار نه دِ همیش زما انکار وي
بل مشال د نیک عمل ځان سره یوسه
چې تیارې د تور لحد درته نهار وي
د دنیا په عشرتونو مهٔ نازیږه
دی فاني کهٔ دِ هر څهٔ هزار هزار وي
چې باقي وي هغه کار له سینه ورکړه
پس له مرګه چې دِ قبر کښې پکار وي
ستا له مخه هر مشکل باندې راضي یم
ربه ډک دِ ټول کارونه د اسرار وي
په مشکله به د ښې ورځې خاوند شي
چې په چا پسې د مور او پلار ازار دي
هغه کس به جنتي وي مسعؔوده
چې شفیع ئې په قیامت نبی روئیدارؐ وي

د ټول عمر د عاشق ماته روژه شي
چې ئې هر کله د یار په ځنګل شپه شي
نم د سترګو مِ د یار په فراق اوچ شو
آخر مړه به مِ د ژوند بله ډیوه شي
همیشه له خدایه هسې ښکلا غواړه
چې خوشبو دِ دَ ژوندون هره لحظه شي
خپل کردار دِ هسې جوړ کړه مسعؔوده
چې د خکلي یار دُعا هم تاسره شي
همیشه به دې تکل کښې یم یارانو
چې به ځنګه راپخلا مِ یار خفه شي
نه په ځان او په جهان باندې پو هیږې
چې د کوم هلک په شپاړسو کښې پښه شي
مسعؔوده تل په دې فکر کښې اوسه
چې دِ ژبه د خدائ یاد کښې اموخته شي

چې اشنا زما په خوښه او مزاج وي
هره ورځ به مې اختر شپه د معراج وي

چې د مینې یار په غیږ کښې ورته ناست وي
ناخبره به د کل او هم د آج وي

چې دیدن د حبیبؐ اوکړم پروا نشته
که راپیښه واقعه بیا د حلّاج وي

د خپل یار په ناکردو نه خفه کیږي
عاشقان ستی ستی د خپل سماج وي

اشنایان کله په عشق کښې خوشحالیږي
د زړه خونه د اشنا سرې تاراج وي

ډاکټران په دې مرض کله پوهیږي
دید د یار دغه مرض لره علاج وي

چې کُمک دَ پاک الله چاسره نه وي
وی کمزورے ورسره که ډیر افواج وي

چې په کار ئې راوستے نه شي ناکام ئې
که سیندونه د اوبو امواج امواج وي

بادشاهان په بادشاهۍ کښې وي خوشحاله
که په سر باندې تاج وي که بې تاج وي

هغه ملک به ترقی کړي مسعوده
چې د امن امنیت پکښې رواج وي

بلبلان به همیشه سر په چغار وي
سرۀ ګلونه چې چمن کښې په خمار وي

یو ځلک دیدن ئې ماله کافی دے
بیا دِ سر زما منصور غوندې په دار وي

خاماران به د لحد ورته سر کیږدي
کۀ مې ګورته وُړے ستا د زلفو تار وي

کړه لار ئې زلفو مینځ کښې هسې زیب که
لکه سروه کښې ختلے پورته مار وي

هغه دم مې د زړه توري شپې رڼا شي
چې غاښونه دِ خندا کښې په چمکار وي

د چمن د سرو ګلونو به څۀ حال وي
چې مالیار ئې د زاغانو سره یار وي

څۀ وفا د هغه یار ده مسعوده
چې نن ستا صبا زما د غاړې هار وي

ډوب د حُسن په دریاب دے زما فکر
ګیر د عشق په ګرداب دے زما فکر

کۀ هر څو راته په زړه غنچې راکاږي
ښکلی یار لره ګلاب دے زما فکر

داسې ښکاري د دې وخت تورو تیارو ته
ځلیدونکے یو آفتاب دے زما فکر

تل نیکیانو پسې تلل ئې مشغله ده
هر بدی لره قصاب دے زما فکر

هیڅ په بند د دې حالاتو نه پوهیږي
ډیر په دې وخت لاجواب دے زما فکر

د هر کور نه د حیا جنازه لاړه
نن په دې حال په عذاب دے زما فکر

په ښۀ شکل و هر چاته ځرګندیږي
د هر چا د مینې باب دے زما فکر

فکر فکر د محشر زما په زړه دے
څۀ به کیږي ډیر خراب دے زما فکر

چې خلوص او مینه ښائی مسعوّده
هم مخلص او هم کتاب دے زما فکر

یو خوشبویه هم روښانه چراغان دے
د ارباب لنډی تولنه ګلستان دے

دلته هر سړے په تله تلل کیږي
د هر چا لره دا ځائ د امتحان دے

د ادب شغلې ئې هره خوا خورې کړې
هر شاعر ئې لکه ستورے د اسمان دے

په صوفیانو ملنګانو ښائسته ده
پرې نظر جوړ د بابا عبدالرحمٰنؒ دے

په نړۍ کښې ئې پښتو ادب روښان کړو
د پښتو پښتونولۍ ښکلے نشان دے

دغه باغ دِ خدائ په امان کړی له خزانه
دلته هر ګل ډیر د خلقو قدردان دے

ډیر ګلان ئې د ادب په کښې پیدا کړه
په ارباب لنډی د خدائ دغه احسان دے

ځلنده به څنګه نه وی مسعوّده
چې ادب ئې د هر غړی دین ایمان دے

چې ناراضه ترینه رب العالمین دے ‌‌— شیطان څکه تر محشر پورې لعین دے
امن تول په شریعت کښې دے ملګرو ‌— الله پاک وته اسلام ډیر غوره دین دے
هغه څوک د دې پیشوا دے زما وروره ‌— چې یاد شوے په رحمت د عالمین دے
انتظام او عدلیې مَزے چې کلک وی ‌— هغه ملک بیا خوشحالو باندې رنګین دے
عدلیه کښې سفارش رشوت چې عام شي ‌— د وطن دِ دَ بقا امکان سنګین شي
جوړ د ملک په سن ۷۳ کښې آئین دے ‌— نۀ لاګو شو په دې خاؤره نه یقین دے
اردو ژبه مو قومی ژبان یادیږی ‌— هر دفتر د انګریزی ژبې امین دے
په آئین کښې مو د ملک مذهب اسلام دے ‌— فیصلې له د انګریز قانون لعین دے
حاکمان زمونږ د بل لاس کښې لوبیږی ‌— څکه جوړ راته وطن نه آتشین دے
داسې ښکاری مونږ لا نه یو آزاد شوی ‌— حقیقت کښې آزاد شوے صرف چین دے
په دفاع او فیصلو د وطن پوهه دے ‌— هر دښمن لره په سترګو کښې غربین دے

د وطن په غم غمجن شه مسعوّده
تباهۍ په لور روان ئې هر یو سین دے

قدر چې دِ کله د هر چا زړه کښې پیدا شي ‌— وخته ستا ګلونه بیا هم دغو لره وا شي
څۀ له د منزل په پلو شپه ورځې ګرځیږې ‌— دومره عظیم تر شه چې منزل درپسې راشي
ځان د غټو غټو پښو کښې مۀ غورزوه یاره ‌— کله په غریب باندې د غټو څۀ پروا شي
هغه محفلونه به هیڅ کله اباد نه شي ‌— سپک چې ګوری خپلو کښې یو بل پورې خندا شي
جوړ خکلی کورونه همیشه لره روانیږی ‌— لفظ چې د کور والا په خُله زما زما شي
مینه محبت کښې تل د زۀ وینا نه اوځه ‌— شې به لعنتی کۀ دِ په خُله د زه وینا شي
دا دنیا پټے دے کرونده د نیکۍ اوکړه ‌— فصل د نیکۍ سره ښائسته به دِ عقبیٰ شي
ښکاری چې زاغانو د سرو ګلو باغ قبضه کړو ‌— څکه د بلبلو په هر ځائ کښې واویلا شي

راشه مسعّوده خکلی وخت نه فائده واخله
[illegible]

د الله چې هر چا کړې بندګي ده
لکه ګل هسې ښائسته ئې زندګي ده
چا چې چارې د فرعون دی خپلې کړی
په هر ځائ کښې ئې نصيب شرمندګي ده
په محشر به بدعملو سره پاڅي
چا چې دلته خوښه کړې ګندګي ده
ظالمان به څۀ د حق فيصلې اوکړي
د ظالم کار هميشه درندګي ده
بې عمله عالم تل د شيطان ورور وي
شيطان ګوره چې ئې څۀ کارکردګي ده
و هغو له خدائ اعلىٰ مرتبې ورکړې
چې ئې کړې په بدکار افسردګي ده
هم دنيا و آخرت ئې ټول تباه شي
چا چې کړې په دنيا بې پردګي ده
هر يو خيال زما د هر جُرم خلاف دے
خو ختمول زمونږ د قوم ناخواندګي ده
د تعليم په زيور ټول وطن ښائسته کړئ
بې له دې نه د قومونو پستګي ده
د اکثر خلقو نيتونه خراب وينم
ځکه هر ځائ کښې د ټولو خفتګي ده
زه به څۀ د هغه ناوې ثناء خوان شم
چې ښکاره ئې په هر ځائ فروختګي ده
کور د هغه کس به هم په امان نه وي
چا چې چا کښې پيدا کړې بدمزګي ده
راته ښکاري پسرلی خوشحالۍ راؤړې
په چمن کښې چې د ګل شګفتګي ده
شاګردی کوم د ښو ښو اُستاذانو
په هر شعر کښې مې ځکه پختګي ده
د پښتو توری ښائسته ټول په غيرت دی
ښکاری نه چې وائې دا نامردګي ده
تل خدمت د هغه چا کړه مسعوّده
چې ئې کړې د عظيم خدائ بندګي ده

---

هم د قولِ بې عمل نه ځان ساته
هم عالم نا مکمل نه ځان ساته
چې عمل ئې په خپل علم باندې نه وي
د دې داسې سړی چل نه ځان ساته
د ايمان او د اسلام نه به دې خلاص کړي
د خوږو زُلفو د وَل نه ځان ساته

# رحمان بابا ته د عقیدت ګلونه

ښائسته چې ډیر دے خو رحمٰن ښائسته دے
ښائسته جهان کښې په خپل شان ښائسته دے

ښکاری اشعار ئې ترجمه د آیات
ښائسته دیوان کښې دا بیان ښائسته دے

هم عالمګیر په پښتو ژبه یاد دے
ښائسته شاعر هم قدردان ښائسته دے

فکر ئې تول دے یو تبلیغ د اسلام
ښائسته په دې عمل مِ ځان ښائسته دے

یم مسعوٓد د ده په رنګ رنګ شوے
ښائسته جانان مِ دے جانان ښائسته دے

توبه تول ګناهونه ختموی
غیبت نیک عملونه ختموی
غم واړه عمرونه ختموی
غصه وروره عقلونه ختموی
کبر تل علمونه ختموی
عدل تول ظلمونه ختموی

د زړګی سره په ګوګل کښې اوسه ‏ ‏ لکه هیره مې د زړه تل کښې اوسه
زما وجود لره تکور غوندې ئې ‏ ‏ د ژمی نمره په دُرشل کښې اوسه
تازه ګلاب شه د سپرلی په هوا ‏ ‏ د یار د زلفو په هر وَل کښې اوسه
منه د خیال اوسه زما د پاره ‏ ‏ لږ مې د فکر په کابل کښې اوسه
بوټی د خیال به دِ شی ټول ګلونه ‏ ‏ زما د مینې په ځنګل کښې اوسه
تل فیصلې د ځان په خپله کوه ‏ ‏ بیا مستقیم پرې په عمل کښې اوسه
کله چې راشې د عمل میدان ته ‏ ‏ شیر خدا صف اول کښې اوسه
د ښو اخلاقو خوشبویۍ خورې کړه ‏ ‏ هم د نیکانو په محفل کښې اوسه
کله خو جوړ لږ د شبنم غوندې شه ‏ ‏ لکه د اوښکې مې په پَل کښې اوسه
ذکر افضل دے کلمه طیّبه ‏ ‏ بیا د درود ذکر افضل کښې اوسه

چې منزلونه دِ ټول پښو له راشی
تل مسعؔوده دې تکل کښې اوسه

راشه اختره په نغمو راشه ‏ ‏ ښکلے سپرلے شه په وږمو راشه
ډیر بلبلان په انتظار پراته دی ‏ ‏ دوئ له په ښکلو ترانو راشه
تورې تیارې واړه د غم لرې کړه ‏ ‏ چمن ته ډیر په خوشحالو راشه
یوه صدا د محبت جوړه شه ‏ ‏ په هواګانو د سپرلو راشه
پهې شه جوړ د غمګین زړه د پاره ‏ ‏ ډک لکه ناوې د کالو راشه
د سحر باد شه کړه تازه ګلونه ‏ ‏ په مستو مستو رنګینو راشه
د پختونخواه د باغ کلۍ رژیږی ‏ ‏ په خوارو زارو پښتنو راشه

د مسعؔود د زړه چمن تازه که
لکه شبنم په وریدو راشه

هغه یار به وهر چالره انمول وي
چې وعده کښې وفادار او قول ئې قول وي

تورو زلفو کښې رخسار ئې هسې زیب که
چې سپوږمۍ نه را چاپیر د وریځو شپول وي

پښتانۀ به هغه څوک په اتفاق کړي
چا چې کړې د چیندخو چرې تول وي

د جرګې کولو حق هغو له ښائي
معاشره کښې چې بالا د هر چا بول وي

څۀ ګزران به په هغې کوټه کښې اوکړې
چې ئې تیر کړے لرګو د لاندے جول وي

څۀ به طمع د جنت له خدایه کاندي
چې ئې ژوند په تاویدو مخکښې د ډول وي

چې ملک بدر شي وطن نه ډیره ښه ده
د هر چا چې میر جعفر په شانې رول وي

همیشه به خوشبویۍ ترینه رادرومي
چې ئې ژوند د ګلابونو په یو غول وي

د هر بد نه به ځان بچ ساتې روژه کښې
ټول پینځه وخته مونځونه به هم کول وي

ستا بچے به تل لائق او ایماندار وي
که ورکړے دِ دَ ښو خلقو ماحول وي

که په جال د شیطان راغې مسعوّده
بستره به دِ دَ ټولو نیکو ګول وي

لکه شبنم چې په ګلاب څلیږي
خال ئې په مخ هسې آفتاب څلیږي

نخښه د یار په رخسار زیب که هسې
لکه چې نخښه په مهتاب څلیږي

ښائسته ژړا او ښکلے مخ مِ د یار
هسې سپوږمۍ ده په دریاب څلیږي

داسې شُغلې ئې نن د سترګو اوزي
په توره شپه کښې چې شهاب څلیږي

اوس مسعوّده ډیرې مینې چې دي
تش په نظر کښې یو سراب څلیږي

په اور بَل دِ دَ ګلونو داسې حال وي | لکه جوړ چې په اسمان د بوډۍ تال وي
په بیلتون د اشنا هسې رنګ زړا کړم | لکه جوړه چې شیبه د پشکال وي
د دې دهر یارانې څۀ په دې ډول دي | چې ډک جیب ګرځې اشنا به دې خوشحال وي
ګاونډي چې سا د غلو ملګري نه وي | د پردو خلقو د غلا به څۀ مجال وي
رقیبان چې د مرګي وریسې درومي | یو غزل د غزالي به په خله قال وي
چې زاري مِ خپل اشنا ته قبول نه وي | غمګین زړه به مِ همیش په دې ملال وي
د زاغانو په چمن کښې شور غوغا ده | خدائ خبر د بلبلانو به څۀ حال وي
د یار وروځې په چشمانو هسې زیب که | چې ختلے د مغرب پلو هلال وي
شاعري ته آسان مۀ وایئ عالمه | هر یو شعر تجربه د ژوند سُلال وي
د یار زلفې تار په تار راته ښکاریږي | داسې ښکاري چې نرے نرے شمال وي
د هغې سري په خونه به تل غم وي | چې د سر کاسه ئې عقل نه کنګال وي
هغه کس نه بل نادان په جهان نشته | چې کتلے ئې بچو لره جنجال وي
د ټول عُمر په دیدن ئې قبلومه | چې د یار او زما یو لِحظه وصال وي

د رحمت اُمید ئې تل کړه مسعؔوده
بندګان په دې امید د ذوالجلال وي

# قطعه

ښکاري دا چې لوئ دولت
په دنیا دے روغ صحت
هم بهار دے په ژوندون کښې
هم د دې دنیا جنت

# ترانه

دا زمونږه ځان زمونږ وطن زمونږ جانان دے
مونږ له چې راکړے خدائ دا ښکلے پاکستان دے
دا مو د عظمت نشان
دا مو د عبرت نشان
دا مو د وحدت نشان
سر زما په دې خکلې وطن باندې قربان دے
مونږ له چې راکړے خدائ دا ښکلے پاکستان دے
دا د شاه ځلمو وطن
دا د توريالو وطن
دا د ميړنو وطن
دا مو د پښتو وطن دا زمونږه شان دے
مونږ له چې راکړے خدائ دا ښکلے پاکستان دے
دې کښې خکلې غرونه دی
شاړې چمنونه دی
هر قسمه باغونه دی
دا د ښکلو ښکلو يو جوړ شوے ګلستان دے
مونږ له چې راکړے خدائ دا ښکلے پاکستان دے
دې کښې پنجابيان اوسی
پښتون هم بلوچيان اوسی
داسې ډير سندهيان اوسی
د يو چمن ګلونه دی د مينې يو بوستان دے
مونږ له چې راکړے خدائ دا ښکلے پاکستان دے

دا خــــدایــــــه ابـــــاد لـــــرې
خــوشــحــالــه هــم ئې ښـاد لـرې
دښــمــن ئــې کــل بــربــاد لـــرې
دا د مســـعـــوّد د میـــنـــې ښـــکــلـــې یـــو جهـــان دے
مــونــږ لــه چــې راکــړے خدائ دا ښـکلے پـاکستـان دے

د نـــاپـــوهـــو د مــحــفــل نـــه ځـــان انغـــاړه
تـــار پـــه تـــار بـــه دې عـــزت شـــی دلتـــه واړه

د نـــاپـــوهـــو ویـــنـــا پـــوه لـــه داســـې ښـــائـــی
لـــکـــه تیـــره نـــوالـــه شـــی د چـــا نـــواړه

د هــغـــې بـــنـــده پـــه مـــخ تُـــوکـــل پـکـــار دی
چـــې ئـــې ښـــځـــه پـــردی کـــس تـــه وی ولاړه

د هــغــو قـــامــونـــو نــوم او نښـــان ورک شـــی
چـــې ئـــې زمـــکـــه د ادب شـــی کـلـــه شـــاړه

چـــې پـــه فـــخـــر او غـــرور بـــه وو دنیـــا کښـــې
د هــغـــو خـــونـــه مـــرګـــی کـــړلـــه ویـجـــاړه

چـــې افـــکـــار د مسعـــوّد وربـــانـــدې مســـت وو
هــغـــه نـــاوې د خیـــالـــونـــو تـــریـــنـــه لاړه

مـــهٔ نیسی یـــار عـــالـــمـــه ځـــان پـــه انـــګـــار عـــالـــمـــه
چـــرتـــه خـپـلـيــږي پـــردے چـــرتـــه پـــه کـــار عـــالـــمـــه
مـــکـــړه اعتبـــار چـــری پـــرې هـــر دے مـــکـــار عـــالـــمـــه
ګـــنـــهـــې ئـــې وروړ هـــمیشـــه شـــی درتـــه مـــار عـــالـــمـــه
تـــا تـــه بـــه ګـــل ښـــکـــاریــږي وی بـــه دے خـــار عـــالـــمـــه
داســې ګـــمـــان مـــکـــړه چـــې شـــی لـــه تـــا زار عـــالـــمـــه
دا تـــجـــربـــه ده زمـــا زړه مِ دے غـــار عـــالـــمـــه
غـــمـــونـــه ډیـــر دغـســـې شـتـــه دے بـــې شـمـــار عـــالـــمـــه
نـــه راځـــی کـــلـــه ګـــلـــه دے ستـــا پـــه لار عـــالـــمـــه
د داســـې میـــنـــه ښـــکـــاری هســـې بیـــګـــار عـــالـــمـــه
لـــه داسې یـــاره هـمیـــش ګـــرزه بـــې زار عـــالـــمـــه
بـعـضـې هـم داسې شتـــه دے وی وفـــادار عـــالـــمـــه
بیـــا تـــرې زاریـــږه مـــدام لیـــل و نهـــار عـــالـــمـــه
ډیـــر لیـــونـــی دی پســـې ډیـــر پـــه قـلار عـــالـــمـــه
د بـــې وفـــا د لاســـه ډیـــر خـــواروزار عـــالـــمـــه
ګـــوره غـــلـــط چـــې نشـــې پـــه داســې یـــار عـــالـــمـــه

مســـعـــؔود تـــل وریســـې
ژړیـــږی خـــوار عـــالـــمـــه

---

د نبـــیؐ ښـــکـــلـــے فـــرمـــان
چـــې پـــه زړهٔ کښـــې د انســـان
یـــو بـــه نـــهٔ شـــی درتـــه وایـم
چـــری بُـــخـــل او ایـــمـــان

چې عمل زما په شانې د بلال ؓ شي
حُورې تولې به زما په استقبال شي

ښهٔ وينا د ښهٔ عمل کړه ځان له خوښه
کهٔ هر څو درته ښکاره پاس په ديوال شي

خوش قسمت د زمانې به ورته وايم
په هر وخت ئې چې ليدل د يار جمال شي

په تندی مِ د يار وروځې هسې زيب که
لکه پورته په آسمان ښکاره هلال شي

بدکرداره په پندونو نه سميږي
سمول ئې صرف دا دی چې سنبهال شي

په ډک جيب د يار هميش لره تپوس که
بيا د نه کوی پوښتنه چې کنګال شي

يارانې لره اخلاص، غيرت پکار دے
نه په دا چې په دروغه قيل و قال شي

اشنائی د خان غريب کله خائيږي
هله کيږی اشنائی چې دوړه سيال شي

بې ژړا د زړه شيشه کله کله پاکيږی
څاروے هله د خوړو شي چې حلال شي

که د بل ژوند له سپرلے شوې مسعوّده
واړه ژوند به دِ سپرلو نه مالا مال شي

پهٔ درې څيزه تل محکم اوسه هر آن
چې اميد او تحمل دے هم ايمان

هم دا درې څيزه ساته په خپل قابو کښې
چې ياديږی هم غصه، زړه او زبان

هميشه به دا درې څيزه پاک ساتل وی
چې لباس او خيال ياديږی هم دِ ځان

د دې دريؤ د پاره هر وختې جنګيږه
چې دِ ملک و قوم و حق دے په ښهٔ شان

خدائ دِ درکړی پرې عمل ډېر مسعوّده
چې دِ اوکړو پورته دا ښکلے بيان

د هر چا چې په دنيا کښې وي کردار سم
داسې ښکاري چې د ده به وي هر کار سم
روغ نيتی او صداقت ښکلې ميوه ده
برکت به دِ نازل شي په روزګار سم
بيا به نه خاندې زما په حال دلبره
کۀ دِ وُخورو په زړه باندې ګوذار سم
هر يو کار به دِ هميش لره پوره وي
چې پوره ساتې د ځان سره اوزار سم
بلبلانو نن د باغه کډې اوکړې
چې زاغان ئې شو ورګډ په لاله زار سم
د مظلوم ښيرو ته هيڅ رکاوټ نه وي
ځکه لګی ئې هر چا باندې ازار سم
هر يو کار د دې دنيا به د خدائ سم کړي
که ته شوې چری د خدائ رسول په لار سم
د چمن ګلونه ټول شو پائمې پائمې
چې زاغانو سره مل شولو ماليار سم
هم په سخته هم په نرمه دې پکار شي
هم په داسې يار محکم ساته اعتبار سم
خنګه ووايمه دېته چې آزاد يم
چې پخپله خاوره نه لرم اختيار سم
دا دنيا به ستا جنت شي مسعوّده
که دِ اوختو نصيب باندې دلدار سم

راستؤلے خدائ قانون د شريعت دے
غوره دين د دۀ په نيز د حقيقت دے
هم د امن او د عدل ښکلې لار ده
يو مثال ئې د عمر لوئ حکومت دے
د عوامو د حقونو علمبردار دے
ښۀ قوی ئې د هر چا نه معيشت دے
هم انصاف پکښې هر چا ته ملاويږي
هم بنياد ئې ډير مضبوط د عدالت دے
موجوده نظام مغرب دے راستؤلے
په نامه باندې چې ياد جمهوريت دے
چې نه امن شته نه عدل نه انصاف شته
مسعوّده بازار ګرم د رِشوت دے
هر انسان پکښې خفه دے مسعوّده
لګيدلے د هر چا په داؤ عزت دے

بلبلان وینم ژړیږي په زار زار — چې زاغانو سره مل شولو مالیار
رقیبان به زما حال باندې خوشحال شي — که ئې اولیدې زما اوښکې قطار
عمر ټول به دِ د غم په لحظو تیر شي — درپسې که شو د خُوږ زړګي ازار
ښتانه د ښتنو په کار پو هیږي — ښتانه کارونه تل به وي شاهکار
شینکے خال ئې زنخدان کښې هسې خوند که — لکه خوند د قافلې کوي سالار
د عمل جزا به دم په دم در رسي — هم جنت او هم دوزخ دِ دے کردار
رڼې اوښکې په رخسار ئې هسې زیب که — لکه پرخه چې ښکاریږي په ګلزار
که په دې دنیا دِ ژوند په چا سقر کړو — آخرت کښې به دِ ځائ شي سور انګار
کامراني به دِ دَ دو جهان نصیب شي — که دِ ځان د محمدؐ کړو پیروکار
ښائسته به د ژوندون په هسې شان شي — "لکه زلفې د خوبانو په رخسار"
چې زما خیرې ګریوان پورې خندیږې — زر به اووینم ګریوان دِ تار په تار
هر نعمت چې در نه لاړ شي بیا به راشي — ولې نه راځي نعمت د مور او پلار
هر قاتل لره سزا د قتل بس ده — هم په دا چې زناکاره شي سنګسار
په سبب د غلا دِ لاس د غله کټ شي — هم وهل دی په دُرو شي مئے خوار
معاشره به هله پاکه شي له ظلمه — چې نافِظ شي ټول قانون د رب غفار
پاک الله سره به هغه ډیر قریب وي — په زبان چې هر وخت وائي استغفار

چې دِ راز بل ته افشا کړي مسعوّده
دغه یار نه دے ښکاریږي تور خامار

ږدمه په لورې د عِلم قدم — چې سر کړم د جهل قلم په قلم
ګل وی چمن کښې خوشحاله په نم — سترګې زما تل په غم کوی نم
چین په جبین د اشنا ښکاری تل — زړه نه مجبوره تر چین به ورځم
عَلَم زړه زما دے بڼو غشو ته — عشقه عالم به همیش ستا پالم
دا په اخلاقو زه خدائ کړم ښائسته — ځَم په هر ځَم د سبا غوندې یم
شان د یار شان مِ شایان غوندې دے — شان ئې د هر شان ډیر محترم
ځان زما ځان پریشان هسې دے — ځان زما ځان به شی ستا په کرم

یار زما تِیر شه د ملا مسعوّده
نه داسې تِیر چې په شا اولګم

ځه خبره ده لیلىٰ راته غصه شوه — په غصه کښې یو د سرو ګلو غنچه شوه
داسې ښکاری چې په نیت کښې مِ فتور دے — چې خیرنه د اشنا راته شیشه شوه
په مجلس د ربابیانو مِ څه کار دے — خپله مینه مِ هر دم له سازنده شوه
چې اخلاص ته مِ اشنا د شک نظر کړه — ځکه پسته زما تهوله حوصله شوه
دا دنیا به هغه وخت په ما جنت شی — چې هر کله د یار مینه پښتنه شوه
بیلتانهٔ د اشنا هسې خوار خجل کړم — یو تیاره ده په ژوندون زما خوره شوه
زندګی مِ بچ کوله خو بچ نه شوه — د سرو شونډو په تنور باندې لمبه شوه
په امید امید کښې عمر مِ تمام شو — نن زما د امیدونو ډیوه مره شوه
چې یقین مِ په فراق د اشنا راغے — له چشمانو مِ د اوښکو یو شیبه شوه
دا خبره ئې په خپل ځان نه ده سره شوې — دا زما د خُوږ زړګی په وینو سره شوه
چې هر دم مِ نوې نوې ولولې وې — نن قیصه د ولولو زما سړه شوه

مسعوّد به ولې سر په ژړا نه وی

لکه د نمر هسې روښانه په جهان ښکاره ئې
د سور ګلاب هسې ښائسته په ګلستان ښکاره ئې

غمونه ستوری رالیږه د زړه آسمان د پاره
د حُسن و عشق ښکلو جلوو له چراغان ښکاره ئې

زه چې ژړیږمه ګلابه تا له خوند درکوی
لکه شبنم زما د اوښکو په باران ښکاره ئې

خپله رڼا باندې د بل انګڼ روښانه ساتې
داسې د شمعې سوزیدونکې په خپل ځان ښکاره ئې

چې دِ زما مخکښې رقیب ته سپورې سَتغې اوکړې
د غیرت پرخه مِ د مینې په بوستان ښکاره ئې

داسې ځلا کړی شینکې خال دِ زنخدان کښې اشنا
د صبا ستورے پړقیدونکے په جهان ښکاره ئې

همیشه ښکارې خو نظر د معرفت پکار دے
واړه څیزونو کښې هر وخت په هر یو آن ښکاره ئې

قامونه واړه تل ژوندی په ادبی خلقو دی
پښتو ادب باندې پښتونه په جهان ښکاره ئې

اے مسعّوده بعضې بعضې خو تا نهٔ پیژنی
د بعضو لاس کښې یو غمے د بدخشان ښکاره ئې

چـې مـنـلـې مې د غیـرو مشـورې دي
راتـه څـکـه د حـالاتـو سترګې سرې دي

لـوئ غـماز راتـه په کور دے میلمه شوے
د جـعـفـر او د صـادق کـانـې دلـې دي

چې اشنا مې د رقیب په خوا کښې کیناست
هـر طرف نـه زمـا سر بـانـدې حملې دي

د مسـلـم د ختـمـولـو سـازش جـوړ دے
پـه هـر لـورې ورتـه سازې بهانې دي

پښتـونـخوا کښې د نکریزو حاجت نشته
د پښتـون پـه خپلو وینو کښې پښې سرې دي

د دنیـا پـه دې لـوګـی لوګی ماحول کښې
احسـاس سوے، سوې سوې ولولې دي

مسـعـؔوده اتـفـاق مـونـږ لـه پـکـار دی
ختـمـې شـوې تـل پـه دې سره تیـارې دي

طـمـع دار اوسـه لـه فـضـل د قـادر نـه
مـنـت بـار نـه شې هیڅ کلـه د بل در نـه

هـمیشـه پـه مـطـابق د وَس چلیـږه
پښـې بهـر نـه کـړې جانـانـه د څادر نـه

پـه قسـم د دُښمـن کلـه یقیـن مکـړه
هـمیشـه سړے وهـل خـوری د باور نـه

ښـهٔ مـاحول سړی تـه ښـهٔ تربیت ښائی
نـهٔ بـچ کیـږی کلـه څـوک د دې اثر نـه

پـه قیـامـت بـه ګـرفتـاره پـه عذاب وی
چې تیـرهٔ ساتـی زبان څـوک د خنجر نـه

پـه دیـدن مې د زړګـی تیـارې رڼا شـی
حسـن زیـات دے د اشـنـا مې د قـمـر نـه

دا دعـــا د الله غـــواړه مســعـــؔوده
چې قیـامـت کښـې مـحـروم نه شې د کوثر نـه

لاړو خوا کښې کیناست د اغیار یار
ژوند ئې زما تول کړلو په دار یار

د رقیب په خوا کښې ناست ماته خندیږی
ښکاری داسې چې مې نن شولو ویزار یار

د زړګی بلبل مې ډیر په چغار سر دے
چې د زاغ په لاره لاړلو ماليار یار

ښکاری داسې چې مرداره ئې نصیب شوه
د مردارو سره کیناستو په جار یار

عاقبت ئې سوزیدل دی نور څۀ نه دی
چې د چا شو په دنیا کښې سور انګار یار

دواړو سترګو نه مې اوښکې رابهیږی
نن صفا چې راته اوکړلو انکار یار

ډیر لوظونه د وفا راسره اوکړی
خو بیا اوګرځی بې وجې دا قرار یم

یاران ډیر په ژوندانۀ کښې ملاویږی
خو په سخته پکاریږی وفادار یار

د خزان سپیرۀ بادونه پرې چې راغلۀ
رژیدۀ به مې ګلونه د ګلزار یار

مسعؔوده سلامت به اور کښې پروت ئې
چې رښتونے دې په حقه شی روئیداړ یار

چې مې یار کړې رقیب وته اسرې دی
څکه پیښې راته هر ځائ مسئلې دی

د مخلص یارانو هر ځائ کښې کمے دے
نن صبا د مطلبونو یارانې دی

کور په کور کښې د کیبل او ډش وبا ده
د حیا هر ځائ وتلې جنازې دی

خورول مقصد د هر چا دین اسلام دے
کۀ هر څو مره تصوف کښې سلسلې دی

یار نصیب د هغه چا شو مسعؔوده
چا چې کړې ورته شپه کښې شوګیرې دی

چې دروغ همیشه وائی لعنتی دے
که جوړ کړے ئې لباس د جنتی دے

حج تقدیر کښې وی اول نه لیکل شوے
په دې نه ده چې اشنا مې لکپتی دے

څوک مالداره څوک غریب دے په دنیا کښې
دا تقسیم دلته جهان کښې قدرتی دے

هر یو څیز به قیمتی وی درته وایم
وخت د هر څۀ نه دنیا کښې قیمتی دے

د خپل کار صله هر چا ته ملاویږی
هومره مومی چې هر څومره محنتی دے

عقیده د یکتایی زما محکم ده
زما غوږو کښې آواز هم الستی دے

هر یو ګفت دِ مسعوده مزه کاندی
لکه ګل هسې خوشبُویه فطرتی دے

عاشقی څۀ آسان کار نه دے عالمه
هر عاشق د یار په مینه کښې ستی شی

په هر دم مې په زړګی غنې راکاږی
زما یار نۀ دے د زړونو اُجرتی دی

مسعوده د یار هر ځائ کښې صفت کړه
تابعدار دِ په هر پیښه سمدستی دے

دامری به شی زما وربانديې کَل
ورنه تاؤ دے ستا د تورو زلفو وَل

زه به څنګه د رخسار صفت ئې نکړم
چې ګلاب دے هم منه ده د کابل

سرومال نه ورته ځکه هسې تیریم
چې په درست جهان کښې نشته داسې بل

د بدانو یاران ډیر دی په دنیا کښې
په مشکله وی د ښو بندیانو مَل

پس له دې نه بیا مجلس د سړیتوب کړی
څوک چې وخوری په خپل سرګوذار د بل

مسعوده توره شپه به دِ رڼا شی
کۀ په پل دِ د حضرت کیښولو پَل

اشنایان شته دے زما دنیا کښې سل
وی مطلب هر چا نیولے لاس کښې خپل

وړه خوله باندې ئې هره وینا خوند که
کۀ دُعا کوی وما ته که کنځل

ځکه کینمه په زمکه نندارہ کړم
چې ئې پاس رپی هوا کښې تور اوربل

مسعوده چې په لار د شریعت شي

د شبـــنـــم ســــره مـــخـــونــــه ئـــې تـــازه وی
سرۀ ګـلـونـه ښـائسـتـه بـريښـى پـه سحر کښـې

د ســـحـــر تـــازه هـــوا وی مستــــه مستــــه
پــه هـر ګـل رنـګـونــه ويشـى پـه سـحـر کښـې

هـم تيـــارې او تــوره شپـــه وی ختــمـــه شــوې
يـو ښـکـلا وی رڼـا پـريښــى پـه سـحـر کښـې

ګــلاب لا ښـــائستـــه ښـکـاريــږی مسـعـؔـوده
د شبـنـم خـــالـونـــه ئـې ايښـى پـه سـحـر کښـې

بُـلبـل لـــه د غـوغـــا لا څـــۀ خبـره ده
ګــل لـــه د مُـســکـــا لا څـــۀ خبـــره ده

قيـس مينـه کښـې سـر پـه بيابان شو
مـيـنـــه کښـې صـحـرا لا څـــۀ خبـره ده

عـرش تـــه رسيـدونـکې ده د مينې لار
وروره د ســـمــــا لا څـــــۀ خبــــره ده

نـــال کـړه نـن د مينې ګـلستــان اشنـا
دې کښـــې د سبـــا لا څـــۀ خبـــره ده

اخــلاص بــانـدې بـــه ګيـر شـى مسعـؔوده
ميـــنــــه کښــې عُـنـقـــا لا څـــۀ خبــره ده

نن د بارودو تور لوګی دی غرا و سم کښې ګرځی
زما بانړه د تورو سترګو نم په نم کښې ګرځی
د پښتنو پیغلو نکریزو ته حاجت نشته دے
سیلاب د وینو د پښتون په هر یو چم کښې ګرځی
پښتنو ټولو د اسلافو لارې پریښې دی نن
ځکه بچی ئې ځائ په ځائ نن په ماتم کښې ګرځی
چې د غیرت ډیوې دِ مړې شوې خوشحالیږې به نه
قام به دِ ټول د غلامۍ هسې تور تم کښې ګرځی
چا چې خپل ځان دے پیژندلے لږ ئې شان اوګوره
ځنګه اوچت دوئ مسعوّده په عالم کښې ګرځی

چې پیدا کړې په مئینو کښې فراق
دے دِ وُسوزی په اور کښې د نفاق
هر مضمون چې د قلم سُوکې ته سپارې
غور ئې اوکړه په سیاق او په سباق
چې ئې ماته ټول قرآن په معنو وښود
خدایه وبخښې استاد شمس الافاق
چاته طُور چا ته انګار باندې ملاؤ شو
څوک ئې لاړه ملاقات له په بُراق
نه مِ دم نه مِ قانون چرته پیدا کړو
ډیر مِ اوکته په عشق پسې اوراق
زه د هجر مار په زړۀ یمه خوړلے
ستا دیدن به ورله جوړ شی یو تریاق
د بد کاره ښځې بل څۀ علاج نشته
بې له دې نه چې ئې وولے په تنړاق
ځی جنت ته مسعّود به بې حسابه
کۀ ئې جوړ کړه د نبیؐ غوندې اخلاق

که هر څو د یار په مینه کښې مجنون یم
خو د چا لره قانون چا له مضمون یم
عشق انګاریو ګلستان شو په ما باندې
سمندر هسې خوشحاله اندرون یم
د دې وخت تورو تیارو له برکته
همیشه له غمه ناست سر په زنګون یم
څه جادو دِ یاره کړے خبر نه یم
بې له تا ځینې اخته په ځیګر خون یم
چې دِ سیورے د زلفانو په ما اوکړو
تر قیامته دِ په دې عمل ممنون یم
یو وعده د اتفاق راسره اوکړه
ځکه زه ډیر مخالفه د بیلتون یم
که هر کله څۀ از مینبت دریاندې راغے
ستا امداد لره به هر وختې هاروَن یم
ستا د ظلم پروانه کوم دلبره
اموخته په زندګۍ کښې د کړون یم
غیر قومونه د سپوږمۍ په پلو لاړه
زه لا دام کښې انخښتلے د پرون یم
ژړوی هم خندوي مِ کله کله
د وخت مخکښې عجیبه غوندې کاټون یم
مسعؔوده که افکار دِ زما خپل کړه
دې تیارو لره یو ښکلے سباؤن یم

## عـــــزت

په اعتبار او شرافت
ضبطِ نفس او په محنت
په ایمان او حقیقت
محل جوړ کړوُ د عزت
کله باد مخالف یؤ
دې له جوړ شی یو قیامت
نۀ رادرومی پۀ دولت بیا
نۀ رادرومی پۀ غیرت بیا
نۀ راځی پۀ مشقت بیا
نۀ زاری او پۀ منت بیا
بس چې لاړه شی دا ناوې
نۀ جرګه منی نۀ ست بیا

د پـــرخـــې وریـــدو ســره ګـــلـونــــه تـــازه کیـــږی
د اوښــکــو بهیــدو ســره زخـمـونــه تـازه کیــږی

هـوا د سـحـر مستــه چې چلیـږی پـه چمن کښې
د مـړاو ســرو ګـــلـونـو تـول رنګـونـه تـازه کیـــږی

سپـرلـی کښـې هـر طـرفتـه د رنګـونو څادر خور وی
ښـکـلا وی پـه هـر ځـائ کښـې محفلونه تازه کیږی

کـلـه خو په میاشت کښې یو رنګین ماښام پکار وی
دې ســـره د زړونـــو ډیـــر یـــادونـــه تـــازه کیـــږی

سـمـاع سره ښکلا کښې یو د مینې محفل جوړ وی
پـردې د زړونـو چـاک شی پټ رازونـه تـازه کیـږی

هـر خـوا رنـګیـنـی وی هـوا ګـانې د سپـرلـی وی
یـاران وی تـول خـوشـحـالـه ګـلابـونـه تـازه کیـږی

ورشــــه مسـعـوده لږ د حال تپـوس ئې اوکـړه
دې سـره د میـنـې تیـر وختـونـه تـازه کیـږی

# مـــونـــځ

د ګـنــــاه نـــه اکثــر بـچ وی — مـونـځ ګـزاره پـــاک انســان
د مـؤمـن خـو مـونځ معراج دے — هــم د زړهٔ ســکــون هــر شــان
هـم دا مــونــځ ده د دیـن ستـنـــه — د جـنـــت کُـنـجـی پــنهـــان
هـم دا مــونــځ د مـؤمـن نـور دے — هــم نــجــات دے پـــه هــر آن
بــې نــمــازه خـدایـه مـهٔ کـړې
مسـعـود پـــه هـیـڅ یـو شـان

څـکـه نـن سبا طـوطيان چغيـږي نـه   چې پـه باغ کښې سرۀ ګلان خنديږي نه
چې لـه مـوره پيـدا شوي ليونـي وي   پـه عـلاج ئـې طبيبـان پـو هيـږي نـه
خـامـوشـي دنيـا کښـې لويـه مـرتبـه ده   هـميشـه ډيـر هـوښيـاران وئيـږي نـه
بعضې خلق د ګوذار په ژبـه سم شي   بې لـه دې نـه ظـالـمان سميږي نـه
بې بلـنې چې پـه هر خيرات ميلمه وي   د انســان سـره دا شــان خـائيــږي نـــه
چې پيسې درسره وي ارباب دِ خپل دي   بـې دولتــه سـړي خـان جـوړيـږي نـه
نـن بـلبـل مِ د زړګـي څـکـه خفـه دي   چې دِ زلـفـو کښې ګـلان مُسکيـږي نـه
هـر يـو ځيـز لـره دنياکښې خپل مقام دي   د کـم اصلـو اصيـلان سـازيـږي نـه
بـې نـمـازه د مشـرک پـه وينـا يـاد دي   بــې نـمـازه جـنتيـان جـوړيـږي نــه
مسـعـوّده کـۀ د شـاتـو ډنډ کښـې نـعل شي
پــه بـوکيـانـه کښې سيـوان تـوکيـږي نـه

د هـر څـاڅـکـي نـه ګـو هـر جوړيږي نه   بــې نـمــازه قــلـنـدر جـوړيـږي نــه
کـۀ زرګـر ورسـره ډيـره خـواري اوکـړي   د پيتـلـو نــه سـرۀ زر جـوړيـږي نــه
پــه تـعـليـم بـه تـر آسمـانـه ورسيـږې   بـې تـعليـمـه څوک افسر جوړيږي نه
کـه پـالـنـه ئـې د زړۀ پـه غوښو اوکړې   پـردې زوئ د چـا پسـر جـوړيـږي نـه
پـه نـصيب کښې د هر چا غم او ښادي وي   عــاشـوره بــانـدې اخـتر جـوړيـږي نـه
د باور رسۍ مضبـوطه نيسه لاس کښې   بيــا ګـلـونـو کښې بـاور جـوړيـږي نـه
حـقيـقـت شـه حـقيـقـت سره يـاري کـړه   بـې لـه دې ځيـنـې اتـر جـوړيـږي نـه
چې هـميش لـه څوک پـه لړه ګزاره کړي   د هـغـې بـنـده الســر جـوړيـږي نـه
رنــځــوران د اشـنــا غـم کښې مسـعـّوده
بې لـه يـاره بـه يار د جوړيږي نـه

دارا هم اورنګزیب او شاه جهان تیر شو تیر
هر یو له دې دنیا نه په ارمان تیر شو تیر
رنګینی به وه چاپیره چمن زار به پرې ښائسته وو
بهار وو په ګلونو په بوستان تیر شو تیر
اکثر له په کفارو چې یو تندر د آسمان وو
هغه شیرِ خدا مردِ میدان تیر شو تیر
چرته چې وزرے د جبریلؑ به سوزیدلې
د دوؤ کونو سردار په لامکان تیر شو تیر
هر وخت به ئې چې تخت پورته هوا کښې تیریدلو
د دې دهر فانی نه سلیمانؑ تیر شو تیر
فیرنګ ته ئې په پوزه کښې پیزوان وو اچولے
جناح، حاجی صاحب، فخرِ افغان تیر شو تیر
ښخې دِ منګلې په رسی د پاک الله کړه
چې خلق سبا وائی په ایمان تیر شو تیر
مرګ مِ د ایمان سره قبول دے مسعوّده
وینا چې د هر چا وی مسلمان تیر شو تیر

هلته پریوزه چې حیا خرڅیږي نه
بیا د ژوند هره ادا قتلیږي نه

هر یو ځیز د خپل عمل نه پیژندے شي
په ایرو کښې کله لال پټیږي نه

صدقې سره د هر مشکل په شا شي
صدقې سره څۀ مال کمیږي نه

هر بنده ته خپله خپله حصه رسي
د میلمه په راتلو کور ورانیږي نه

کله کله انسان وته خدائ خیر کړي
ولې هر وختې څۀ خیر پیښیږي نه

که دښمن ئې ډیر کوشش د جدایۍ کړي
خو اوبۀ چړې په ډانګ بیلیږي نه

احتیاط اوکړه چې خواري دِ عبث نه شي
د حرامو پیسو حج قبلیږي نه

د غمونو دې ګرداب نه مسعّوده
معلومیږي چې دِ ځان خلاصیږي نه

د زړه زخم مِ خوله وازه په خندا دے
لکه ګل هسې ازغو کښې په مُسکا دے

بې دیدنه د اشنا په غم زېلے
هسې ګل غوندې د للمې په صحرا دے

د دیدن سوالونه نۀ کړي د اشنا نه
چې صدف غوندې په وازه خوله ګویا دے

په خپل ځان غمونه خورمه ویلې کیږم
خو عمل مِ لکه شمع د رڼا دے

هر عاشق دلته د اور جامې اغوستې
بیا ورکړے خدائ مقام ورله بالا دے

د منصور په حال د فکر نظر اوکړه
په فنا کښې مقام موندے د بقا دے

د اخلاص رنګونه نشته مسعّوده
ښکاري دا چې دا عمل دلته عنقا دے

# دُعـــــا

چې اودۀ جذبات مې ويښ کړي داسې ښکلي احساسات را
چــې وطن جنـت جنـت شـي داسې مينـه او خيـالات را

چې اباد ځان لـه د فـکـر بيـل ښائسـتـه غـوندې جهان کړم
يــو روښـانـــه مسـتـقبـل لـه هسـې دم هسـې لـمحات را

چــې د سوچ پـه سـمـنـدر کښـې ډيـر لعلونـه راپيدا کړم
فـلسـفـــه ښـه ښـکتـه پـورتـه د هر قسمـه کائنات را

هــم کشـتیٔ لـــه ډوبيـدو نـــه د ګـرداب چــې رابهـر کـړم
روشــن خيــالـــه مستـقبـل لــه يو قـلـم داسـې دوات را

چــې قـــدم د تـــرقیٔ زمـــا پـــه تهيک طـرف روان شـي
مسعـؔود لـه ډيـر پـه مينـه ربـه زړه کښې احکامات را

پـــه نـرمیٔ سـره د خـلـقـو زړونـه خپـل کـړه
تـل پـه نـرمـو ځـاځـکـو کـاڼـي سُوړه کيـږي

﴿ختم شد﴾



# پېژند ګلو

نوم: ملک محمد مسعود قاسم

د پلار نوم: ملک قاسم خان

تاریخ پیدائش: ۲۱ ستمبر ۱۹۵۸ء

قام: مراد خېل

درک: محله اکرام ډاګ کندے پایان لنډی ارباب پېښور

تعلیم: ایم۔ اے اسلامیات

پیشه: ملازمت (محکمه واپډا، هیډ کلرک)

د شاعرئ ابتداء: ۱۹۷۲ء

ناچاپه کتابونه:
(۱) خلفائے راشدین
(۲) خاتونِ جنت حضرت فاطمة الزهراؓ
(۳) مخزنِ تصوف
(۴) خیرې ګریوان (د مولف شعری مجموعه)
(۵) ادبی بهار (د اصنافو په حقله)

د ادبی تولنو سره تعلق:
(۱) مشر سېکتر (جنرل سېکرټری)
ارباب لنډئ پښتو ادبی ټولنه
(۲) صدر "قلم کاروان پښتو ادبی تنظیم"

- دفتر پښتو ادبي ټولنه حاجي جان محمد حجره
نزدِ رنګ روډ محله غازی بابا کندے پایان ارباب لنډی پېښور
- یونیورسټي بُک ایجنسي، خیبر بازار پېښور

By: EXPERT GRAPHICS PESHAWAR 091-2580309